# طلایي پاڼي

[ادبي نثرونه او ترجمې]

لیکوال او مترجم

**علامه عبدالحی حبیبي**

سریزه او ټولونه:

**پوهندوی مطیع الله روهیال**

باسمه تعالی

# طلايي پاڼي

ليکوال او مترجم

**علامه عبدالحی حبيبي**

سريزه او ټولونه: **پوهندوی مطيع الله روهيال**

خپرندوی: **علامه رشاد خپرندويه ټولنه** - کندهار

کمپوز او ډيزاين: **روهيال کمپيوټر اداره** - کندهار

چاپ کال: ۱۴۰۳ش = ۲۰۲۴ع

چاپ شمېر: ۵۰۰ ټوکه

د مخونو شمېر: ۲۱۶

د خپرونو لړ: ۱۴۲

ټول چاپي حقوق په خپرندوی اړه لري!

# فهرست

۱.  طلايي پاڼې او ځو يادوني/ روهيال/ ۸

## ليکلي ادبي ټوټې

۲.  مناجات/ ۱۵
۳.  افکار و عقايد من/ ۱٦
۴.  ماتم سرای دنيا/ ۱۹
۵.  نسل بدبخت/ ۲۲
٦.  روزيکه من بدنيا آمدم/ ۲۵
۷.  يک آيه مجهول و ظلمانی/ ۳۱
۸.  مرگ و احتضار/ ۳۲
۹.  اې پر موږ گران استقلاله/ ۳۴
۱۰. د فلاکت کرږي/ ۳۷
۱۱. پسرلی/ ۴۰
۱۲. یوه نغمه/ ۴۲
۱۳. د سرو زرو گيند/ ۴٦
۱۴. مه څه يو گړی راسره کښېنه/ ۴۸

۱۵. سپوږمۍ ته د آرمان ناره/ ۵۰

۱٦. د استقلال د اوولسم کال ملي اختر/ ۵۱

۱۷. خپله مېنه پر هر چا گرانه ده/ ۵۴

۱۸. زه او د مکتب کوچنوټي هلکان/ ۵٦

۱۹. د غره سړی په ځنگله کي/ ۵۹

۲۰. د استقلال د اتلسم کال ملي اختر/ ٦۱

۲۱. د پلارمړي د اختر خولۍ/ ٦٦

۲۲. سرشک گلگون من/ ٦۸

۲۳. یو ته يې/ ٦۹

۲۴. د میني خبري/ ۷۰

۲۵. د غره زوی/ ۷۲

۲٦. زما مینه/ ۷۳

۲۷. ونه/ ۷۴

۲۸. ستا سرينده/ ۷٦

۲۹. د سهار رڼا/ ۷۷

۳۰. دا سپوږمۍ او هغه سپوږمۍ/ ۷۸

۳۱. ماښجن یار ته/ ۸۰

۳۲. پنځه دېرش کاله پخوا او اوس/ ۸۴

۳۳. زما هيواد/ ۸٦

۳۴. خوښ لغړ/ ۸۸

۳۵. خپلواک پښتون/ ۸۹

۳٦. د حق دښمني/ ۹۱

۳۷. له لوړي څخه کاته/ ۹۳
۳۸. د اګست څوارلسمه/ ۹۵
۳۹. خپل دوست ته/ ۹۷
۴۰. دوشیزۀ شنوار/ ۹۸
۴۱. ژوندی مړی/ ۱۰۰
۴۲. سوځلې شمع/ ۱۰۲
۴۳. ګوځڼ/ ۱۰۴
۴۴. مچه/ ۱۰۵

## ترجمه کړي ټوټې

۴۵. ناز او نیاز/ ۱۰۸
۴۶. سوې ګُډغاله/ ۱۰۹
۴۷. عاشقانه آمال پر وخت د وداع/ ۱۱
۴۸. د پسرلي ګلان/ ۱۱۳
۴۹. د میني فلسفه/ ۱۱۴
۵۰. ما یادونه/ ۱۱۵
۵۱. یوه نغمه/ ۱۱۷
۵۲. دل خونین/ ۱۱۸
۵۳. پلټنه/ ۱۲۰
۵۴. خپلواکي/ ۱۲۱
۵۵. دعا/ ۱۲۲

٥٦. ستا خوږې بدلي/١٢٣

٥٧. د حکمت کتاب/ ١٢٤

٥٨. د ژاپان ملي ترانه/ ١٢٥

٥٩. عسکر بيرغ څنگه ساتي؟/ ١٢٦

٦٠. اوښکي/ ١٢٨

٦١. مه ليکه/ ١٢٩

٦٢. مور/ ١٣١

٦٣. د وطن ياد/ ١٣٣

٦٤. د وينو چينه/ ١٣٥

٦٥. چي ډېوه مړه سي/ ١٣٧

٦٦. د ژوندانه مقصد/ ١٣٨

٦٧. د شيلي جل/ ١٤٠

٦٨. زړه ښځه/ ١٤٣

٦٩. نينون ميني ته/ ١٤٤

٧٠. ړوند هلک/ ١٤٧

٧١. موږ اووه يو/ ١٤٩

٧٢. پر زرغونې او په سيوري پټي مځکي باندي/ ١٥٣

٧٣. خپل بادار ته گورم/ ١٥٥

٧٤. د گهيځ پرتم/ ١٥٦

٧٥. شپه څنگه ځي؟/ ١٥٧

٧٦. لومړی وير/ ١٥٨

٧٧. نړۍ ټوله زموږ سره ده/ ١٦٠

۷۸. د هیلي رڼا/ ۱٦۱

۷۹. اسیر بې گناه/ ۱٦۲

## ډرامه وشمه او کیسه وشمه لیکني

۸۰. توریالۍ پښتنه/ ۱٦٦

۸۱. د میوند غزا/ ۱۷۵

۸۲. اوسترۍ لوست/ ۱۸۳

۸۳. د خپلواکۍ مینه/ ۱۸۷

۸۴. حماقت/ ۱۹۰

۸۵. طبیب/ ۱۹۵

۸٦. یوه ځلانده خاطره/ ۱۹۸

۸۷. مېړنۍ هیوادپال/ ۲۰۱

۸۸. هیوادپال شپون/ ۲۰۴

۸۹. هم شهید هم غازي/ ۲۰٦

# طلايي پاڼي او څو يادوني

طلايي پاڼي د اروابناد علامه عبدالحي حبيبي د ادبي ټوټو او ترجمو مجموعه ده. علامه مرحوم له برندي ځوانۍ څخه د ژوند تر پايه وخت ناوخت په پښتو او فارسي ادبي ټوټې ليکلي يا ئې له نورو ژبو څخه ترجمه کړي دي. تر څنگ ئې ځيني ډرامه وشمه او کيسه ډوله ليکني هم کړي دي. لاندي څو يادوني ددغو موادو د مقدمې په ډول ليکم:

[۱]

په «فرهنگنامه ادب فارسی» کي د ادبي ټوټې په باب ليکلي دي: «ادبي ټوټه د لنډو ادبي نثري ليکنو يو ډول دی چې پکې ليکوال په شاعرانه تعبيرونو او لوړ تخيل سره زياتره خپل رومانتيک احساسات او عواطف په يوه ځانگړي طرز او انداز بيانوي. ادبي ټوټه نه شعر دی، نه کيسه، بلکې يوه داسې ادبي تخليقي ليکنه ده چې د شاعرانه تعبيرونو او رومانتيکي فضا له امله کولی شو هغه شاعرانه نثر وگڼو.[۱]»

پښتانه ادبپوهان هم دغه ډول ليکني د [ادبي ټوټې] په نامه يادوي، ځای ځای ئې د [منثور شعر] په نامه هم بللي دي. پيل ئې د تېري شمسي پېړۍ لومړيو دوو لسيزو ته رسيږي. په افغانستان کي ئې بنسټگر علامه استاد حبيبي

[۱] هاشمي، محی الدين. (۱۳۸۹ش). د نثري ادب ډولونه، ننگرهار: وحدت خپرندويه ټولنه.

دئ. د زريني څانګي د ښاغلي ليکوال په قول: «په افغانستان کی د پښتو ادبی ټوټو پيلوونکی منلی استاد پوهاند حبيبي دی او لکه څرنګه يی چی د لنډی کيسی او ډرامی تکل کړی همدا راز يی د تکل او د منثور شعر مرغلری هم پيودلی دی.[1]»

تر استاد حبيبي وروسته ډېرو افغان ليکوالو ياده روده تعقيب کړه او په زړه پوري آثار ئې - چې د تخليقي ادب په زړه پوري نمونې بللي کيږي - رامنځته کړل. په دې ډله کي د استاد الفت غوره نثرونه، بله ډيوه، نوی سبک او نوی ادب او نور، د استاد بېنوا پرېشانه افکار/ نثري برخه، د زړه خواله، د ارواښاد پوهاند رښتين د ښکلا وږمه او د ژوند پلوشې، د استاد خادم نوی ژوندون او خيالي دنيا، د پوهاند رشاد ادبي نثرونه، د بېنوا ياد او خورې ورې ادبي ټوټې، د سرمحقق بختاني مرغلري او د خدای بخښلي ژواک راز و نياز، وير او تصوير او په سوونو نوري خپرې سوي ادبي ټوټې د خاصي يادوني وړ دي.

پر يادو کسانو سربېره به نورو ليکوالو هم ادبي ټوټې ليکلي وي مګر پورتني کسان په افغانستان کي د ادبي ټوټې ليکني سرلاري او استادان دي. د دوی نثري ټوټې هم د محتوی له مخي او هم د کميت له اړخه پاموړ ځای لري.

[۲]

د ادبي ټوټې ليکنی چوکاټ لنډ او محدود دئ. په دغسي محدود چوکاټ کي ليکوال مجبور دئ هم د خپل زړه خبره وکړي هم ئې ښه رنګينه او خوندوره وکړي. هم به ځان هدف ته رسوي او هم به لوستونکی متأثر او اغېزمنوي. کوم هدف چي ليکوال ئې د ځانګړو جذباتو او احساساتو په لرلو

[1] رفيع، حبيب الله. (۱۳٦۰ش). زريني څانګي، کابل: د افغانستان د علومو اکاډيمي.

سره په خپل ما فی الضمیر کي لري او غواړي هغه د یوې لنډې ګنډي لیکني په واسطه تر لوستونکي ورسوي نو مجبور دئ له استادانه نثر، لطیفو او اغېزناکو کلماتو او عباراتو څخه کار واخلي. له یوې خوا به تشه لفاظي نه وي له بلي خوا به پر لوستونکي د شعر غوندي تأثیر لري. همدغه اغېز ته په کتو زموږ ادبپوهانو ادبي ټوټې ته د منثور شعر نامه کار کړې ده.

استاد حبیبي، نثر لیکنه - هغه که عامه نثر لیکنه وه یا د ادبي ټوټې - داسي مهال پیل کړه چي پر پښتو باندي د نورو ژبو په ځانګړې توګه عربي او پارسي اثر پروت وو. د استاد د نثر لیکني پر مهال پښتو نثر د مقلوبو اضافي ترکیبونو تر زوروي هښمي لاندي وو، دغه بدخونده او کړکېچن کیفیت د استاد په لومړیو ادبي نثرونو او څېړنو کي هم محسوس دئ. علت ئې دا وو چي دغه حالت تر استاد مخکي نورو لیکوالو پیل کړی او د استاد تر وخته رارسېدلی وو. استاد هم له محیط څخه اغېزمن او په دغه سېلاب ورګډ سو، مګر ډېر ژر دغي نقیصې ته متوجه سو او د دغي بخولي په مقابل کي ودرېد، مبارزه ئې ورسره وکړه، د یاد حالت د نقد او غندني په باب ئې لیکني او کره کتني وکړې او تر څنګ ئې د ښه او عالي نثر له پاره اصول او قوانین وضع کړل.

که د طلوع افغان هغه لس کلونه چي استاد ئې مسئول چلوونکی وو مطالعه سي، د دغو کلونو په پای کي به لوستونکی په ښکاره ډول د استاد په لیکنو کي له کړکېچن نثر څخه د روان او عالي نثر خوا ته هڅې محسوس کړي.

هغه ادبي نثرونه او ټوټې چي استاد د طلوع افغان د پیل په کلونو کي خپرې کړي دي، د مقلوبو اضافي ترکیبونو په رنګ رنګېدلي دي، یادو نثرونو ته مي د دغي نقیصې باوجود په دې مجموعه کي ځای ورکړ او ومي نه غوښته چي لوستونکي د استاد د برندي ځوانۍ له نثرونو بې برخي کړم.

[۳]

علامه مرحوم په پښتو او فارسي ادبي ټوټې ليکلي دي او هم ئې له نورو ژبو څخه ترجمه کړي دي. د نثرونو محتوی ئې وطن، خپلواکي، انسان پالنه، بشردوستي، د افغاني او ملي ارزښتونه ستايل، د بدو رواجونو غندل او د خپلو خلکو پر خوارۍ او مسکنت اوښکي تويول دي.

استاد له هيواد او خپلواکۍ سره اورنۍ مينه لرله، د دغي ميني اثرات ئې په ادبي نثرونو، شعرونو او کيسه وشمه او ډرامه وشمه ليکنو کي په غورځنگونو دي. استاد لا ټپ ځوان وو چي له طلوع افغان سره ئې قلمي رابطه پيل کړه وروسته ياده رابطه په رسمي دنده واوښته، همدغه وخت د امان الله شاه غازي واکمني د سقوي اړودوړ قرباني سوه، هيواد نهه مياشتي د خودسرۍ او انډوخر په ډگر بدل سو. ملي ارزښتونه پکښې پايمال، تاريخي او علمي بنسټونه پکښې ويجاړ، د غازي امان الله خان ارمانونه، برياوي او پرمختگونه پکښې ورک او نابود سول. دا وخت استاد د طلوع افغان جريدې د معاون په توگه دنده اجراء کوله، د خدای فضل وو چي د اختناق او اړودوړ دغه دوره ژر ټوله سوه، تياره په رڼا بدله سوه او اولس د آرام ساه واخيسته. همدغه وخت استاد د طلوع افغان له مرستيالۍ څخه د مسئول چلوونکي پوړۍ ته وخوت او د دې درنې او تاريخي جريدې د چلولو چاري وروسپارلي سوې.

استاد ته موقع برابره سوه چي د وطن او خپلواکۍ پر ارزښتونو ليکني وکړي، د ملي منافعو د خوندي کولو له پاره قلم وچلوي. د همدغه زيار و زحمت ثمره ئې په طلوع افغان کي د علمي څېړنو، ترجمو او ادبي ټوټو په ډول ښکاره سوه.

کله چي پښتو ټولني ته ولاړ هلته ئې پيل کړی کار تعقيب کړ، د خپلو خلکو

پر پسماندگی، بې علمی، ناپوهی او بدو رواجونو او رسوماتو ئې په هنري انداز نوري ليکني هم وکړې او د ژوند تر پايه ئې سوکه سوکه ادامه ورکړه.

د استاد ادبي ټوټې که څه هم د خپلو همزولو په تناسب لږ او محدودي دي، خو په دغو محدودو ټوټو کي ئې لوی پيغامونه او پامور موضوعات مطرح کړي دي. زه داسي فکر کوم چي د ادبي ټوټو ليکل او ترجمه کول د استاد د نورو اساسي کارونو تر څنګ ضمني مشغله وه. څنګه چي ئې شعر د ژوند تر پايه کيښن دغه ډول ئې نثري ادبي ټوټو ته هم وخت ورايستلی وو او د زړه خبره ئې پکښې بيانوله.

[۴]

شل کاله مخکي چي ما د مرحوم پوهاند حبيبي د مقالو په ټولولو پيل وکړ، له هماغه وخته متوجه سوم چي علامه مرحوم ادبي ټوټې ليکلي او د هيواد په بېلابېلو خپرونو کي چاپ سوي دي. د مقالو تر څنګ مي د دغو ټوټو راټولول هم پيل کړه، په تېرو شلو کلونو کي چي هر ځای د استاد پر ادبي ټوټه، ترجمه يا هم کيسه وشمه او ډرامه شکله ليکنو پېښن سوی يم راټولي کړي مي دي، څو [طلايي پاڼي] ځني جوړي سوې.

د دې ليکنو لومړی برخه چي عنوان ئې (افکار و عقايد من) دئ، په کوم اخبار يا مجله کي چاپ سوې نه ده، د استاد په ناچاپو آثارو کي راځي چي ما ته د استاد حبيبي زوی ډاکتر خوشحال حبيبي له امريکا راليږلي دي.

د استاد ليکلي پښتو او فارسي ټوټې له طلوع افغان، انيس او اصلاح ورځپاڼو کابل، وږمې او عرفان مجلو، هيواد، آزاد افغانستان او زېري اونيزو او داسي نورو موقوتو خپرونو څخه راټولي سوي دي.

لومړی مي د استاد ليکلو ټوټو ته ځای ورکړی دئ، هغه که په پښتو ليکلي سوي دي يا هم فارسي، دوهمه برخه د استاد ادبي ترجمو ته ځانګړې سوې ده، دا ترجمې هم له پورته خپرونو څخه راټولي سوي دي. دريمه برخه د استاد هغه ډرامه وشمه او کيسه ډوله ليکنو ته خاص سوې ده چي ځيني ئې ليکلي او ځيني ئې ترجمه کړي دي. ممکن ځيني دوستانو ته سوال پيدا سي چي دغه مواد څنګه د ادبي ټوټو په کتار کي درول سوي دي، له دې کاره مي يوازينی مطلب دا وو چي له دغه ډول ليکنو څخه ځانګړې مجموعه جوړېدای نه سي، دا چي ادبي خوا ئې تر څېړنيزو او تحقيقي هغو لوړه ده، ځکه مي دلته راوړې. هره برخه د خپرو سوو موادو له مخي کرونولوژيک ترتيب لري. د پيل مناجات که څه هم په ۱۳۵۵ش کال ليکل سوی دئ، تبرکاً مي په پيل کي راوړ. د هري ليکني تر عنوان لاندي مي اړونده حواله په پټريو [ ] کي نيولې ده.

استاد په ادبي ټوټو او ترجمو کي ځيني سوچه پښتو کلمې او اصطلاحات کار کړي دي، دا چي دغه کلمې او اصطلاحات تر ډېره د پښتو په لوېديځه لهجه اړه لري، د نورو لهجو ويونکو د آسانۍ په خاطر مي يادي کلمې او اصطلاحات په لنډ ډول په لمن ليکونو کي توضيح کړي دي. د کتاب نوم [طلايي پاڼي] ما (روهيال) ورته ټاکلی دئ، هيله ده له محتوی سره برابر وي.

دا اثر مي تر بشپړېدو وروسته خپل مهربان لارښود او د پښتو خواخوږي، استاد محمدمعصوم هوتک ته د کتني له پاره ولېږه، هغوی په ناروغ بدن کتلی او لارښووني ئې راته کړي دي، د هغوی لارښووني مي په پوره ډول عملي کړي دي. په دې توګه کورودانی ورته وايم او د ښه صحت له پاره ئې لاسونه لپه کوم.

سږکال (۱۴۰۳ش) د استاد حبيبي د مړيني څلوېښت کاله پوره کېږي، دا کتاب د استاد د څلوېښتم تلين په ياد چاپېږي. چاپي مصارف ئې د ارواښاد علامه حبيبي کشر زوی ډاکتر خوشحال حبيبي برابر کړي دي، که د دوی مادي مرسته نه وای له امکانه ليري وه چي کتاب په دغسي کميت او کيفيت چاپ سوی او خپور سوی وای. زه د ښاغلي خوشحال حبيبي د دې لاسنيوي او مرستي پوروړی يم او کورودانی ورته وايم.

منته او درناوی

پوهندوی مطيع الله روهيال

ښارنو – کندهار

۲۱ حمل ۱۴۰۳ش = ۳۰ روژه ۱۴۴۵ق

# مناجات

[سپېده مجله، ثور ۱۳۹۰ش، دوهمه ګڼه]

الهي!

افغان مسلمان ملت له ټولو تيارو او مادي ناروغيو وساته!

الهي!

موږ به سمه لار ورکه کړې وي.

موږ به په ګناهونو لړلي يو.

خو بيا هم ستا بندګان يو.

او ستا په نامه وياړو او ژاړو.

پر موږ رحم وکړه!

پر سمه لار مو روان که!

سترګي مو رارو‌ښاني کړه چي سمه او کږه سره وپېژنو.

او ستا د رحمت په سيوري کي ودرېږو.

امين

۱۳۵۵ش

# افکار و عقاید من

شب ۳ حوت ۱۳۱۱
ده خواجهٔ قندهار

دوست عزیزم!

انسانها فطرتاً حس کنجکاوی دارند، حواس ظاهریهٔ انسان به هر چیزی که بر می خورد و یا می تواند استدراک کند در همان وقت به تقاضای همان غرائز نفسیه افکار انسانی و مراکز حسیهٔ بشری، بدرک و کشف فلسفهٔ امحان به کنه محسوسات افتاده و می خواهد در اطراف و ماحول همان چیزیکه جالب توجه و نظر گردیده است به فحص و تحقیق آغاز کند، یا فکر و نظری بدواند.

از انجا که افکار در طبقات و افراد انسانی متفاوتست و از همین سبب هم اندازه معلومات و تحقیقات و کنجکاویهای فکریهٔ بشری اند، نیز همچون فکرها باهم مختلفند. یعنی هر کس به اندازهٔ امحان نظر و رسائی وحدت قوهٔ فکریهٔ خود عقیدهٔ تراشیده و برای خود یک ایده آل عقیده وی را طرح کرده اند.

البته این را هم باید تسلیم کرد که فکر و قوهٔ فحص و تعمق نیز مستقماً بتحت تأثیرات محیطی و اجتماعی و عنعنات اساطیری و دینی واقع گردیده و نشو و نما میکند. چون (فکر هر کس بقدر همت اوست) بنابران افکار و آرا

من هم زائیده همین محیط و سنخ تفکرات من، موافق به عوامل محیطی و اجتماعی خواهد بود و آنقدر بلند نخواهم رفت که شما انتظار داشته باشید. محیط ها فکرها و عقیده ها را می پروراند، اجتماع ها، تفکراتی را می زاید، ما هم دربین این کشمکش فکری انسانها و تصادم افکار باصطلاح گوی چوگان این و آن هستیم. مدنیت ها، تطورات فکریهٔ انسانها در زمانهای خیلی قدیم رنگهای مختلفی را بخود گرفته و افکار گوناگون فلسفی و دینی در هر طرف دنیا ظهور کرده است. بفکر خود من ازان فکرها و عقاید اولیهٔ انسانها و پرستش آثار طبیعت و مظاهر خطرناک گرفته تا بفکر افلاطون ها و ارسطوهای یونان و بودای هند و ثنویت و خشور زردشت و مبادی اخلاقیهٔ امثال کنفوسیوس چینی و غیرهم تا به عقاید (وحدانیت) حضرت محمد صلی الله علیه وسلم و باز هم مسلک های علمیه جمعیت های روحی (تیوسوفی) و احضار ارواح و تنویم دنیای جدید اینها تماماً زائیده محیط های مختلف بوده و احتیاجات حیاتیه و روزمره و محسوسات و تفکرات آنها چنین عقایدی را بروز و در مراکز دماغ و احساس انسانها تقویم و تمرکز داده است[۱].

دوست عزیزم!

درینجا می خواهم همان فکرهای را که محیط فاسد و خطرناک موجود بمن عطاء کرده است، اظهار کنم، این عقاید من اقتباس از افکاریست که محیط به اولاد خود داده است، یعنی روایات و عنعنات اساطیری و وهمی تماماً بر من حکمرانی میکند و (دین) که قوی ترین عوامل حاکمه است از هر طرف

---

[۱] درینجا نباید خواننده بسوی مسلک افکار بگراید، زیرا که خالق اعظم، خالق تمام مظاهر طبیعی و عوامل و اسباب جهان است. وی مدبر کایناتست و مسبب الاسباب، بنابران سبب را مسبب نباید پنداشت.

احساسات و عواطف و مشاعر مرا فرا گرفته است. خاک مشرق، باز هم علی الخصوص خاک وطن ما، با افکار و عقاید و توهماتی آغشته است، که در مقابل آن مبادی معتنا بهِ روح ما خاضع است، و هر چند دست و پا بزنیم، نمی توانیم آن قیود و آن محابس روح و عقل و قوا را برهم زده بیرون آئیم.

در آغوش مادر آن مبادی را مربیان ما بما القا می کنند، از دهان مادر نخستین سخنی که می شنویم، همین مبادی عقیده ویست که بدماغ ما ترزیق میشود. پس نمی توان ازین قید و بست بیرون برآمد.

پس دوست من!

هر گاهی که من قلم گرفته چیزی بتو می نگارم، تو بیقین بدان که آئینه را پیش خود گذاشته، که علاوه بر ظواهر، معنویات و افکار محیط نیز دران انعکاس کرده و مشاهد می نمائی.

اینک که من بعدها، چیزی را بتو خواهم نوشت، بخدات می سپارم.

# ماتم سرای دنیا

۲۷ حمل ۱۳۱۲

ده خواجه، قندهار

دوست عزیزم!

آیا باور میکنی که بنظر من دنیای ما، ماتم سرای است سیاه!

آیا حیات افسانی به یک قفسی شبیه نیست؟

آیا ما را دراین قفس کلان که کرۀ زمین اش می نامیم محبوس نکرده اند؟

تا بهر کجا که می تواند روح و فکر ما پرواز می کند، اما با بال و پر نارسائی که بما بخشیده اند تا بکجا ها خواهد رسید؟

آیا ما اسرار و رموز غامضۀ طبیعت را حل کرده می توانیم؟

ما چه هستیم؟ در کجا و برای چه زندگانی میکنیم؟ و باز کجا می رویم؟

و این تحولات هولناک که مرگش نامیده اند برای چیست؟

میگویند: انسان مسئول اعمال و کردار خویش است. بما میگویند خوب کنید، تا بخوبی برسید.

اما که بمن گفته می تواند، که از کجا و برای چه آمده ایم؟

آیا همین اعمال سیاه و کردار درشت نازیبائی را بما نبخشیده اند؟

آیا می توانیم. و در حیطۀ اقتدار انسانی داخل است که اخلاق و کردار خود

را اصلاح بکند؟

ما که از دریچۀ عدم به صحنۀ دنیا قدم گذاریم آیا همین ملکات و کردار زشت یا زیبا را باخود توأم نمی آوریم؟

شرائع، اخلاقیون، مورالیست ها که اینقدر اوراق را سیاه کرده اند، آیا تاکنون کدام انسانی که طبیعت غریزه اش را به نیکی یا بدی سرشته است، تحول یا کدام انقلاب اصلاحی داده است.

خیر! دوستم، بهار رسیده، دورۀ جوانی و نشاط آمد، غنچه های خندان با لبهای زیبا و گلهای باجبین کشاده و بشاش، باین طرف و آنسوی گلشن بجلوه گری درامدند.

مرغکان، بلبلکان، شیرین نواء، شوری بپا کردند که روح حزین و دلخسته مرا هم جنبش و تکانی دادند. نسیم روح بخش بهاری با اهتزاز لطیف و پاکیزۀ خود مسامم را عطرکاری نمود.

اوه! دنیا چه زیبائی بخود گرفت، درختان و اشجار باغ از لطف عام بهار کسوت زیبایی پوشیدند، شگوفه ها بر فراز شاخسار لب خنده کشودند.

من هم که دلدادۀ هر زیبائی هستم، به جذبۀ و آشوب عشق بهار بگلستانی رفتم، اگر گل می تواند که مسئله بهار را حل کند، اگر بلبل می تواند به عمق فلسفۀ عمیق طراوت باغ برسد، من هم می توانم اظهار کنم که اینقدر بشاشت و اینقدر زیبائی را باین درختان خشک و افسردۀ که روزی چند پشیتر دردامن همین آب و خاک پژمرده و با یک عالم انجماد روبرو بودند، که داده است؟

عزیزم! راست می گویم، که این حدیقۀ طراوتناک و گلشن خندان به ماتمسرای افسرده و منجمدی می ماند که زود یا دیر مورد تعرض و تطاول سنگین و هولناک خزان خواهد شد، آنگاه نه همین طراوت و زیبائی می ماند،

نه همین لب های پر خندهٔ گل و غنچه.

چون خوب خیره میشوم، نالهٔ بلبل ، لؤلؤی درخشان اشک گل، ضجه های حزین و حسرتناک ابشار، این بوستان سرسبز و خرمی را به نظرم یک ماتم سرای سیاه یا وادی هولناک فنا تصویر میکند.

مگر خرمی و طراوتیکه دوا می داشته باشد درین وادی سیاه مرگ بار نیافریده اند؟

بلی! امروز سر از گرداب عدم بسیلاب خروشان وجود میکشیم، نفسی را به آرامی هم نمیزنیم، که باز بگرداب نیستی غوطه خوار مرگ میشویم.

ما به غریقی که باامواج هولناک فنا دست و گریبان باشد میمانیم.

ما آنهائی هستیم که به یکدم زندگانی بی حقیقت و بی اساس غره ایم.

گل هم با بهار آفرینش دقیقهٔ می خندد، هنوز هم از تبسم وجود لب بهم نبسته است که صرصر خشن، و برودتناک دست بدامنش می آویزد و از شاخسار وجود بر خاک سیاه فنایش می ریزاند.

پس آیا به کمک جرأت گفته نمی توانیم که صحنهٔ سیاه گیتی جز تیهٔ ماتم بار مرگ و رنج چیزی نیست.

بلی! ما در ماتمسرائی زندگانی میکنیم که مانند مرغ بی بال و پر دران محبوس مانده ایم.

# نسل بدبخت

۴ ثور ۱۳۱۲

ده خواجه، قندهار

نمی دانم تنها من اینقدر نسبت باین نوع بدبخت و شرور که انسانش می نامند بدبین و دشمن شده ام یا این یک حقیقت مسلمی هست؟

بکسانی که طرفدار این نوع شریف و نجیب (؟) اند یا آنهائی که داستانهائی از (سعادت) و فیروزی انسان سرائیده اند، من اینقدر میگویم:

باری بصحنهٔ فساد آلود هر آشوب گیتی نگاهی اندازید، لحظهٔ به کردار این نوع شقی و بدبخت ببینید! اگر نوع انسان سعادتمند است یا می تواند نامی از سعادت و خوش بختی بشنود پس این حرص و آز و کینه و حسد چیست؟

این آلات قتاله و اسلحهٔ مرگبار که بنام حفظ نوامیس ملل یا (تنازع للبقا) ساخته می شود برای چیست؟

اگر افنای نوع یا کشتن یکنفر بیچاره بنام ناموس و حفظ موجودیت روا باشد پس آیا که مرا قانع کرده میتواند که نوع بشر بسعادت نزدیک است؟

سعادت و این نوع ... خوشبختی و این مردم ... هیهات!

اگر نوع بشر فطرتاً مایل به شر نمی بود، اگر طبیعت فساد و کشتار و کینه و آز را در خاک انسان نمی سرشت آیا بوجود این خونخواران ستم سرشت که

هیئت های حاکمه اش می نامند، چه احتیاج و کدام ضرورتی داشت؟

میگویند: حکومت ها برای اداره و نظم انسانها و احقاق حقوق و نگهداشتن روابط خوب و نافعی در بین بشر بوجود آمده اند.

آری! ما هم اذعان داریم، حقیقت هم همین است. اما اگر این نوع شرور و مفسد، این نوع خونخوار وحشت سرشت، در طبیعت خود بحقیقت انسان می بود، الفت و وداد، شفقت و محبت کمترکی در آنها وجود میداشت، و مانند درندگان خونخوار با پنجه ها و چنگل های تیز وحشتناک، قوی ضعیفی را نمی درید، و نمی خورد، پس باین حکومت ها و این قوانین ضعیف کش و سوء و این دستورهای لایعنی چه احتیاجی می ماند؟

اگر مرا بر طبیعت دستی می بود اگر می توانستم این چرخ نیلگون را واژگون سازم، اگر مرا قدرتی به افنای این حیوانهای جنایتکار می دادند، هر اینه این دنیای فساد آلودی که سرتاسر بخون ضعفاء و بیچارگان گلگون است، محو و نابود میساختم و طعمهٔ لهیب سوزان فنای ابدی می نمودم، آنگاه ذیروحی که ذره از رحمت و محبت، کمترکی از احساس و عاطفه را درون خود میداشت به خاک آباد گیتی می آوردم تا این صحنهٔ پاک و وسیع و این خاک پاکیزه، این کرهٔ زیبا، این مرز و بوم درخشانیکه زمین اش می خوانند از لوث وجود منحوس دسته جات شرور بشر پاک و منزه میگشت.

آه، چقدر بدبختم و سیه روز!

بمن می گویند: دورهٔ شباب (بهار) حیاتست باید گلی از شاخسار زندگانی جسپید، و چندی در گلزار حیات باید چرید.

گفتند باید متأهل شد و نبوغ شریف (؟) انسان خدمتی باید نمود.

بسیاری ازین خرافات سرودند، و خیلی هم فلسفه های خشک و بی مغزی

را بافتند. چون انسان بدست انسانهای دیگر و محیط و زمان دستخوش هر گونه تمسخر و ریشخند است، منهم هچون صیدی که بقراکش بندند، بقول انها عمل نمودم، ولی نه امید سعادت! و نه به آرزوی اینکه خدمتی به این نوع شریف (؟) بجا آورده باشم.

من متأهل شدم، یعنی یک نفر انسان شقی و بدبخت سیاه روزگاری را همچون خودم، بوجود خواهم آورد.

اما چه فایده، کو نتیجه!

ما چه کردیم، که آیندگان ما بکنند؟

افسوس و هزار حیف، برین نسل بدبخت و شرور!

تف، بر انسان جنایتکار!

تأسف! بر خونخواریهای این نوع!

***

# روزیکه من بدنیا آمدم!

۷ میزان ۱۳۱۲

قندهار، ده خواجه

شبانگاهیکه هنوز هم آسمان نیلگون از خون شفق گونه پیرائی میکرد، در کلبهٔ که روشنایی خفیفی از جراغ تیلی در ان می تافت، ضجهٔ جگر سوزی از ان بگوش رسید. این ضجه های غمناک از طفلی است که تازه بدنیا آمده است. این طفلی که درینجا ازان ماجراها می شنوید من ام که ... به دنیا، آن دنیائی که سراسر تاریک و وحشتناک است، پا گذاشتم.

قندهار، کوچهٔ بامی زائی ها، پنجشنبه ۱۷ ربیع الثانی ۱۳۲۸هـ

***

دران روزیکه من هنوز هوای فساد آلود کرهٔ ارض را که به جنایات روح فرسائی آمیخته است می خواستم تازه تنفس کنم، عروق و شرائین و تمام اجزای بدنم را آنقدر مسموم ساخت که روح پاک، و بی آلایش من به فغان آمده، در اولین روز ورود خود باین دنیای سیاه و زهرآلود و ساکنین شرور و ظالم آن، نفرین فرستاد.

از همان اوقات روح من به انفعالات و تألمات گوناگونی گرفتار آمد، و مرا به فریاد و فغان ابدی انداخت.

***

ضجه های حزین و ناله های اندوهناک من دران شب در فضا انعکاس کرده بود، من به آوازیکه آلام قلبی و روحی مرا ترجمانی میکرد میگریستم.

اما بشر ... بشر بی عاطفه مرا دقیقۀ آرام نگذاشته به قنداق و انواع البسه نو ایجاد خود که من و روحم ازان مشئمز بودیم پیچانیدند، به آن چیزهائی که طبیعت به بشر اعطا نکرده است مرا گرفتار کردند.

***

بسیار دست و پا زدم، فریاد من تا به آسمان رسید، اما یک عدۀ بشر جاهل و نادان دور مرا گرفته، بادستهای جنایتکار خود زنجیره های اسارت و رقیت را بگردنم انداختند، و مرا از دامان مادر مهر پرور طبیعت بفرسخها دور بردند ... پیکر و روح مرا سببکی این بشر جبار و مستبد میخواست ریختند.

***

این بشر حسود و قسی القلب این حیوانهای دو پا که اکنون انسانش می نامیم، بهیچگونه دست از جانم نبرداشتند، فریاد جگر سوز مرا نشنفتند! جمعی از پیره زنان با اعضاء لرزان و انگشتان مرتعش بسویم اشاره ها میکردند، با نگاه های که اینها (محبت) می نامند مرا می دیدند.

اما من ... چون نوزادی بی آلایش و پاکیزۀ بودم تمام آن خدعه و فسادهائی که ازین چشمهای شرارت بار می ریخت می دیدم.

و مانند انسانی که بدست اهریمن گرفتار آید یا گوسفندی که بچنگال تیز گرگ خونخواری افتد بازیچۀ افکار فاسد و آمال قاسیانۀ اینها بودم. لاجرم جز گریه کاری نداشتم، روح با اضطراب سیملانۀ می تپید.

***

ای کاش من بدنیا نمی آمدم، به آنجائی که خونخواری و تنازع شالودهٔ حیات زندگانست قدم نمی گذاشتم. یا این انسانهای عنود مرا به قیوه عنعنات اساطیری نمی انداختند. که از یکطرف بدن و مادیات و از طرف دیگر هم روح و معنویات مرا اینها زیر نفوذ ابلهانهٔ خود گرفته اند. کو حریت؟ کو اطمینان و آرامی؟

***

خدایا! تو انسان را مرموز و پوشیده بهر گونه خفا و اسرار آلود آفریدهٔ.

مدارک و مشاعرش را آنقدر وسعت وحدتی ندادهٔ که به عمق فلسفهٔ حیات و وجود برسد. پس من هم نمی فهمم که برای چی بدین دنیا خاکی امدم، و از کجا بکجا خواهم رفت.

همین قدر می دانم که من وجودی ام، ناقص و لا ادری.

و روحم به آلام دلگداز نارسائی گرفتار است.

***

نمی دانم که آیا روح بشر فطرتاً اسیر و گرفتار پنجهٔ عذابهای الیم است یا اینکه فساد محیط و عوامل مؤثره در حیات بشر این قدر تکلف را روا داشته است.

نمی دانم عقل و مدارک بشر حقیقتاً هم آنقدر رسا و توانا نیست که بیک حقیقت مسلمی برسد یا تنها در تنگنای محیط ظلمانی و عنعنات پدری افکار خود را متشنج کرده ایم؟

از شبی که من بدنیا امده تا به وقتی که به نیک و بد اینجهان فهمیدم، تا انجائی که محیط و عوامل گماشته شدهٔ طبیعت مرا انسانی لایعقل و لایدرک بار آورد، یکدستهٔ افکار و عقایدی بر مدارک من حکمرانی کرده اند، که من

قطعاً نمی توانم از زیر کابوس آن افکار بالیه بیرون شوم.

***

بیست و چهار سال و کسری پیش، روزیکه من بدنیا امدم دران وقت که من انسانی ساده و نیامیخته به تکلف و تصور بودم این دنیای خاکی در بادی نظر خیلی زیبایم نمود، اما جمعی از انسانهای شرور مرا به آن حالت ابتدائی نگذاشته، پرده های ضخیمی را بر چشم من انداختند ... ازان وخت هاست که من از دیدار یک حقیقت مسلم کور شده، بادیهٔ هولناک اضطراب و عدم تیقن فاقد هر گونه اطمینان و نشاط روحی گردیدم. و بخطرات تنازع بشری از هر گونه مزایای حقیقی بشریت محروم ماندم.

هر کسی را که دیدم راه دیگری را می پیماید، بهر دامنیکه دست توسل زدم نغمهٔ جدید بمن سرود.

پس من یک مخلوق لایعنی که از درک هر گونه حقیقت کور است، هستم. روح من به یک اضطراب و تپش شدیدی گرفتار است.

***

بیست و چهار سال و کسری است که من درین دنیا تاریک زنده ام، اما فاقد هر گونه راحت و سعادت.

اوقات عزیز من همچون برگ درختان خزان می ریزد، دقایق گرانبهائی از من می گریزد، اما تاکنون من ندانسته ام که چیستم؟ و کجا به حقیقتی که روح مرا از اضطراب و قلب روحی بیرون کشد خواهیم رسید؟

از ولادت تا بطفلی، از طفلی تا بجوانی، از جوانی تا به پیری، پله های نردبان حیات را خاهیم پیمود، اما این رفتار من قسری است، عوامل توانا و شدید

البطشی بر من حکمرانی میکنند، بخودی خود اقدامی نکرده ام، بازیچهٔ دست قادر و توانائی هستم که از ماورای مدارک من در حیات من در روح من، موثر است یا اینکه درین میدان تنازع بمنزلهٔ صید و فتراکم:

باختیار نرفتـــــیم هر کجــــا رفتـــــیم!
غبار ما و نفس حکم صید و فتراک است

***

سالها گذشت، فصلها آمد، موسم ها تبدیل شد، گلهای بهار یا چهره های بشاش و خندان از صرصر خزان بر خاک سیاه ریختند، آبشاری که باضجهٔ غمناکی آهسته می گریست از شدت سرمای ستوهی منجمد گردید، چها و چها که نشد؟

ناموسیکه دنیا را با تطورات کلی زیر قانون لایتغیر ارتقاء اداره می کرد، مراهم ازان روزیکه نوزاد غیر مقتدری بودم، تا این جائی که جوان توانا و متحرک مریدی ام، نشو و نما داد.

افکار و عواطف و احساسات مرا با تحولات گوناگون زیر تبدیل و تغیر گرفت. اما روح پریشان و مضطرب من به ذرهٔ از حقیقت مسلمه آگاه و آشنا نشد، همان بشر لا ادری که بودم، هستم ...

***

دقایق حیاتم بسرعت غریبی از من می گریزد، دستخوش تحولات گوناگونم. روح من در فضای گردآلود اوهام پرواز میکند، اوهامیکه شالودهٔ زندگانی بشر بران مستحکم است از هر طرف مرا احاطه کرده اند.

منتهای معلومات بشر باز هم همین معلومات من در آوردیست که به هیچ حقیقت مسلمی تکیه نمیکند ... درس اولینی که در آغوش مادر تلقی کردم، سخن

نخستین که از پدر شنیدم، نکاتیکه در حیات اجتماعی بشر کاویدم، و بالاخره آن چیزیکه در زندگانی بشری آنرا بمنزلهٔ اساس یافتم، همین و هم است و بس.

من در یک دنیای وهم و خرافات زائیدم، باوهم و اباطیل تربیه گردیدم. با وهم و عنعنات اساطیری کلان شدم ...

نوری از دنیای حقیقت بر من بیچاره نتابید، اکنون می نگرم و می بینم که این مبادی مدهشهٔ وهم و خرافات بر عقول دهات و نوابغ دانای بشر هم بشدت زیادی حکمرانی کرده اند، فلاسفهٔ نامی چون ارسطو، فلاطون، و نوابغ یونانی، یا برجستگان مشرق چون کنفوسیوس و بودا و مانی و زردشت و بالاخره تمام آنهائی که خود را فیلسوف و حقیقت شناس گفته اند از دنیای وهم بیرون نیامده اند. اینها هم ببادیهٔ هولناک وهم و خرافات سرگردان اند، جائی که مبادی فلاسفهٔ نامی را بخوانیم یا بافکار دیکارت و شوپنهور، هیگل و غیره پی ببریم، و بانظر نقادی نگاه کنیم، می بینیم که اینها بر زمینی مبادی را عمارت کرده اند که زیر آن سیلاب خروشانی جاریست و درلمحهٔ نه آن عمارت خواهد ماند، و نه آن اساسهای مندرس، پس بشر تماماً باوهم و خرافات سردوچار است. آه بشر بیچاره! بدا بر من! آسفا بر من! که باین دنیای وهم آلود آمدم.

***

مرگ همواره گلوی بشریت را باشدت زیادی می فشارد، آن طفلیکه تازه بدنیا امده بود و شما ماجرای او را شنیدید، یکچندی درین دنیای تاریک میچرد، او انسانی است موهوم و لایدری.

وی مراحل حیات را بایکدنیای آلام روحی می پیماید، روح او مانند مرغ پر شکسته در ماتمکدهٔ قفس دنیا می تپد.

او بعشق حقیقت بهر سو میدود، و هر زاویهٔ رامی کاود، اما کجا؟
روزی خواهید دید که بایکجهان آمال مبرم، بچنگال مرگ افتاده و ناکام از دنیا می رود.
آه! راستی می میرد؟ بلی! من خواهم مرد، من بآنجائي خواهم رفت که دیگر بشر شرور آنجا قدرت و سلطانی ندارد.

# یک آیهٔ مجهول و ظلمانی!

آدمها! ای انسانها! ای بشر!
ای کسانیکه تا بدقیقهٔ اخرین حیات بامن دوستی و یکرنگی نخواهید کرد.
ای جامعهٔ که من بوئی از اتحاد و وحدت فکر و عمل در شما ندیدم.
ای بشری که شرور و دو رو، و منافق ای.
من هم یکفرد بدبخت و ناکام شما ام. مرا به آنجائی که گور کنید بآن خاکیکه بسپارید، آنگاه بامسرت زیاد شکر بگوئید که یکفرد شری این جنبش مفسد و جنایتکار کم گردید، و بزیر خاک سیاه مذلت افتاد.
آنگاه لعنتی به بشر و انسان خونخوار فرستاده بمزارم لوحهٔ بیادگار گذارید که: «مطهورهٔ آن انسان شریر و مفسدیست که بااوهام و خرافات سنگینی مرد، و به ذرهٔ از حقیقت نرسید، بوئی از انسانیت نشمید ... لعنتُ الله علیه و علی افکاره الفاسده ...»

انتها

# مرگ و احتضار

اواخر حوت ۱۳۱۱

ده خواجه، قندهار

او بانگاه های مرتعش و اندوه باری بسوی من دید، این نگاه معنی داری که از تمام احساسات و مافی الضمیرش بمن ترجمانی کرد، چقدر حسرتناک و در عین زمان آمیخته باسرار و رموز بود.

برادر من که یکدوسالی از من پیشتر به محنت آباد گیتی قدم گذارده و به گلشن کدورت آلود دنیا ۲۵ سالی چریده بود، اینکه بر بستر احتضار افتاد و باحرکات مختضرانه از تحولات و تطوراتیکه بشر در زندگانی خود بآن خاضع است به ما ترجمانی و نمایش میکند.

اوه! بشر چقدر مخلوق بی چاره ایست؟

انسان چه موجود ضعیف و در عین حال خیلی مغرور و خونخواریست؟

انسانی که هزاران نفر از همنوعان خود را قربان شهوت و اغراض مفسدت آلود خود میکند بشری که خود را مالک الرقاب همنوعان خود دانسته، از هر گونه ظلم و جفاکاری تست، باآنها دریغ ندارد.

مخلوقی که نیام تعصبات منحوس عرق و نژاد یا مذهب و دین یا هوا و هوس جهانگیری بنی نوع خود را بمیدانهای قتال و معارک هولناک کشتار هچون گوسفندان سوق می کند.

این مخلوق شرور، این عاقل لایقعل، این مغرور ظلام، بااینقدر علویت فراج و قوای حربی و افکار عالی و اختراعات خارق العاده محیر العقول، باز هم از پنجۀ مرگ و اجل رهایی نداشته، بشر مفلوک احتضار را دیدنی است.

بازوی قهار و جبار طبیعت چقدر قوی است که از ضعیف ترین مخلوق گرفته تا انسانهای که مقام عظمت و خدایی و خلاقی را برای خود پسندیده اند از دستش رهایی نداشته، و بادیۀ هولناک و مخوف مرگ شان کشیدنی است.

مرگ ناموس لایتغیر طبیعت است، قانون مرگ با مساوات کامل و خیلی عادلانه برافراد بشر نافذ شدنی است.

# اې پر موږ گران استقلاله!

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۲۶ – ۲۷ گڼه]

اې استقلاله! اې پر موږ گران استقلاله!

اې استقلاله چي ملت ستا په وجود سرلوړی دئ.

اې استقلاله چي نن پښتانه په تا نازېږي او د دوی پر سر یوه طره[۱] د افتخار او امتیاز یې.

اې استقلاله! چي ستا عنوان موږ پر پاڼو د تاریخ د عظمت او افتخاراتِ ملي خپل په سرو وینو د غښتلو او گلالیو ځوانانو لیکلی دئ.

اې استقلاله چي پښتانه ملت، ته په تویېدو د وینو او فداکارۍ او سربازۍ گټلی یې.

اې استقلاله چي طبعاً او فطرتاً ته او حس د قدرانۍ او عشق د درلوولو ستا په خټه د پښتانه اخښلي سوي یاست.

پښتون ملت یوازي دا څوارلس کاله ستا په قدر نه دئ پوهېدلی او له دې لږ زمانې څخه ستا احترام او قدرداني نه کوي بلکي له هغه وخته څخه چي لاس د قدرت د پښتانه خټه اخښله، بیا تر هغه وخته پوري څو د پښتانه نوم پر دنیا وي او یا یو پښتون پر سر د مځکي ژوندی پاته وي، په شور د عشق ستا به سرور

---

[۱] طره = جوغه، تاج، کاکل.

کوي او په قدردانۍ او احترام ستا (اې عزيز استقلاله!) په نامه د پښتونوالي، هغه نفيس ترين او پاک ترين احساسات به له ميانځه څخه د زړه راباسي او په مظاهراتو کي د ورځو د حصول او په لاس راتلو ستا به ئې په يوه نهايت شاندار او عظيم الشانه ډول چي لايق د مقام ستا او منزلت او عظمت د پښتانه وي، ښکاره کوي.

نو ته خوښ او ژوندی اوسه. استقلاله! اې استقلاله چي پر پښتانه د سر تر سترګو ګران يې. ستا په عشق پايي.

د پښتانه واړه زامن چي لومړی وار ددې آزاد وطن هوا استنشاق کوي، په اونۍ[1] کي ستا د عشق او محبت په نارو کښېوزي.

پښتون په سيوري د عظمت او اقتدار ستا لويېږي، پښتون تا غواړي، ته پر ګران يې، ستا په عشق کي مري. نو دا ويلای سم چي: پښتون آزاد زېږي، آزاد پايي، آزاد مري، پښتون هيڅکله دا پر خوا نه سي اوارولای[2] چي تا ته دي بل ځوک په کږه سترګه وګوري او يا دي مقدسات ملي، او شيون قومي او نواميس ته د پښتانه (چي ته لوی ترين د هغو يې) کوم کوچنی خلل ورسوي. دا زه له ځانه نه وايم، د تاريخ پاڼي په وينو د شهيدانو د آزادۍ هر وخت لړلي دي، د هغو ننګياليو پښتنو چي ځانونه ئې ستا په لار کي بايللي دي، ويني له هري ګوښې څخه د وطن د خاورو جوش کوي.

نو ته پر پښتانه ګران وې، ګران يې، ګران به يې. نن ورځ چي ژوندي پښتانه په تقرب د حصول ستا خوشحالي کوي، مسرور دي، غورځي، خاندي، په ورين تندي د دې ملي اختر ورځي تېروي او ارواح د شهيدانو د آزادۍ په روښانه او

---

[1] اونۍ: په ځينو لهجو کي ئې اورنۍ بولي. هغه ټوکر چي نوی زوکړی کوچنی پکښې پېچي.

[2] پر خوا اوارول: يوه اصطلاح ده، د منلو او زغملو په معنی.

سپینه فضا کي د وطن په یوه ملي جوش او خروش د پښتنو پر سر په گرزېدو دي له شاوخوا څخه د آفاق د وطن او لیرو گوښو څخه د دې خاورو له رود آمو د غاړي رانیولې بیا تر بلوچ او سیستان له څوکو څخه د غرو د اړخ د همالیا او هندوکش او چین بیا تر غرو پوري د بابا او هرات او غاړو د مرغاب د جگو غرو څخه د سلیمان تر سپین غره او رېگستانو پوري، د خوارزم له یوه تاریخي او باعظمت او شانداره مملکته څخه دا آواز پورته کېږي چي: ژوندی دي وي استقلال!

له عالم بالا او شینکي آسمانه څخه قدسیان پر دې آمین وایي او داسي عکس صدا راځي: ژوندی دي وي مسلمان او کلمه گوی ملت افغان!

نو اې عزیز استقلاله! پښتانه به تا ساتي څو ژوندي وي، او په لمحات آخرین د ژوندون او د سگلیو د مرگ به تا لکه یو نفیس متاع او قیمتي غمی خپلو زامنو ته سپاري (هغه زامن چي آینده د وطن په دوی اړه لري او هغه زامن چي د دې خاوري په غېږ کي لویېږي.)

نو ته خوښ او ژوندی اوسه!

استقلاله! اې مېوې د پښتانه د غیرت د ونې، اې زړه ته راتېر عظیم نعمته!

پښتانه خوشبخت دي چي دا دریم کال دئ چي ستا د اختر استقبال په سیوري کي د هغه ننگیالي او ښاغلي پاچا پښتانه اعلیحضرت محمدنادر شاه کوي چي برېښنده توري دده ستا غلیمان په جنگ کي د استقلال ړانده کړه.

نو ژوندی اوسې استقلاله!

او ساتندوی اعلیحضرت محمدنادرشاه!

ژوندی دي وي ملت د افغان!

سلام دي وي پر شهیدانو د استقلال!

# د فلاکت کرېږې

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۴۲مه ګڼه]

لمر ولوېدی، د ژمي سوړ باد راوالوت، شپه سوه. د آسمان مخ هم توري اوريځي نيولی دئ، تروږمی ده، څاڅکي څاڅکي باران هم کېږي. په داسي توره تياره، سړه شپه کي له يوې کوډغلي[1] څخه حزين زګېروی اروېدل کېږي. انسانان ټوله بيده دي، يو سکون او آرامی دنيا نيولې ده. هيڅ ږغ و ږوغ نسته، مګر وروسته تر څو دقيقو د حزين او پله پسې زګېروي پر ځای له هغې کوډغلي څخه يوه هولناکه او زړه سولوونکې کرېږه پورته کېږي، سکون د فضا او آرامي د شپې مختل کوي.

دا کرېږي او غلبلې، دا زګېروي او نارې د چا دي؟ دا هولناکي چيغي له کوم خوږمن زړه څخه راخېژي؟

که څوک په دې شپه کي دا کرېږي واروي او و دې کوډغلي ته راسي، په توره تياره، تورو خاورو کي به يو لڅ پڅ، ناجوړه، خوږمن، نتلی، اسکېرلی انسان ووينې چي له يخه رېږدي، ناجوړتيا ده ته بېله هډوکو، غوښه پر بدن نه ده پرې ايښې، په داسي جانکاه خوږ مبتلا دئ چي غلبلې ئې آسمان ته رسېږي. له هري

---

[1] کوډغله: کوډغاله او کوډغالی ئې نور شکلونه دي. کوډله، کوډلی، جونګړه د خوارانو او بېوزله اوسېدځای.

خوا فلاکت پر ده اوري، له مرضه پرته لوږي، تندي، هم دده پر فلاکت زیاتوب کړی دئ.

خوارکی له یخه هم رېږدي، فقط څو خونجاړي[۱] ئې پر ځان پېچلي دي، نو که نارې، غلبلې و نه وهي، څه وکي؟ که د حسرت اوښکي توی نه کي څه ئې له لاسه کېږي؟

نغښته شپه نارې کوکاري وهي، تر سهاره اوښکي تووي، تر ماښامه ژاړي، وږی تږی، لڅ لپړ، خوار زار، ناجوړه، بې کوره، بېوزلی دئ. اما څوک سته چي دا نارې واروي، کوم انسان سته چي د دې همنوع په درد وخوري؟ څوک سته چي په عاطفه د انسانیت، دا خوږمن ورور خپل وروزي؟ یو انسان به وي چي پر دې اسکېرلي ناجوړه وږي سړي ئې زړه وسوځي؟

لویه خدایه! کومه ده عاطفه؟ کومه ده همدردي؟

لویه خدایه! ته خو دا خپل خوارکی بنده وینې، ته ښه پوهېږې، وزله ئې وکه.

اما پر څنګ د دې کوډغلي یو څو عیاش انسانان سته، په تودو خونو، پستو نالیو او بالښتو کي بیدېږي، دوی پلاو هم تفاله کوي، ګوبړ؟ بدنونه لري، د خدای په نعمتو کي غرق دي.

آیا دوی ددې مفلوک او فلک زده همنوع نارې نه اروي؟ آیا عواطف او احساسات د انسانتوب دوی و کومک ته د دې نتلي ورور نه مجبوره کوي؟

اې بډایانو د ملت! چي تاسي ته خدای له لویه درباره خپل پرېوانه نعمتونه بخښلي دي، اې هر هغه خلکو چي د خدای په فضل تر اوسه تاسي لوږه، تنده،

---

[۱] خونجاړي: خوړین او زاړه کالي، له کاره لوېدلي کالي، خوړګه.

خواري هرياني، بېوزلي، ناجوړي نه ده ليدلې، نو پر حال د داسي نتلو او اسمان وهلو ورونو خپل لږ څه زړه سوی وکئ! او په شکرانه د دې چي تاسي خدای دغسي کړي نه ياست، لاس د کومک او خواخوږۍ وروغځوئ، که په لسو کي يوه ايکي له خپله ماله څخه تاسي و داسي مفلوک هموطنانو ته ورکی، ستاسي به هيڅ نه په کيږي او دوی به له فلاکت او خوارۍ او خواشينۍ څخه وباسی.

هان! لږ څه زړه سوی او شفقت!

لږ څه خواخوږي او مرحمت!

# پسرلی سو

[طلوع افغان، یوولسم کال (۱۳۱۲ش)، لومړی شماره]

پسرلی سو، نسیم راوالووت، ګلان وغوړېده، غوټۍ له هري خوا خاندي. مړه دنیا بیا ژوندۍ سوه. راز راز ګلان او سبزو له وچي مځکي څخه سر راویوست.

سهار چي لمر طلایي روڼ شعاع پر مخ د مځکي خپور کی او په دنیا ئې طلایي ګېڼه واغوسته، هغه مزایا او ښایستونه چي پسرلي مځکي ته بخښلي وه دوه چنده ئې کړه او پر زېبایي د پسرلي ئې زیاتوب وکی.

کمکي او ګلالي مرغان پر ښاخو د درختو په منځ کي د شنو پاڼو د ونو، په چوڼهار شروع وکړه پخپل خوش آیند چوڼکي[1] او خوږ ږغ ئې په فضا کي د باغ یو تور شخول پرېیوست.

ټول کاینات په استقبال د پسرلي زرغونه سوه، یو تکان او جنبش چي د نوي حیات زېری کوي شاوخوا حس کړه سو، بلبلان، کوتري، ژړانکي، یارموخچه په سېلو سېلو ښایسته او رنګینه مرغان راغله، په فضا د باغ ئې د ګلانو په مخ کي په استقبال د (پسرلي) اتڼونه واچول.

زه هم یو سهار د نسیم په ملګري غره ته ولاړم، په سېل او تماشا د زېبا او دلکش (تابلو) د پسرلي بوخت سوم یو ګړی مي له غوغا څخه د مدنیت په سپېڅلي

---

[1] چوڼکی: د مرغانو ږېز، د مرغانو آوازونه.

او سپین او بې آلایش محیط کې د جلوه گاه د قدرت غوړونه پر آرامه سوه.

دا غر دئ یوه توره پرښه ده، د لمر وړانګې ئې لکه توري هنداري داسي برېښوي، بېله کوم کوچني مرغانو چي کله کله له یوې ډبري بلي ته الوزي، بل هیڅ حیوان دلته نه لیدل کېږي، له هري خوا سکوت او سکون، له هري خوا غر او تنهایي. اما د غره په لمن کي دلته له منځه څخه د کلکو پرښو، لاله او غاټوی راغورځېدلي دي هر وار چي نری او ملایم نوروزي نسیم ځني ونښلي، داسي ښکارېږي لکه د زېبا او ګلفام مین سره چي یو دلباخته عاشق په ډېره علاقمندي او محبت او په خورا نیاز او دلبستګي لاس تر غاړه اتڼ کوي، او سپین باړخو ئې په ډېره مینه مچوي.

اوه! دا ګل څنګه ښایسته دئ؟ پاڼي ئې په څه سلیقه او لطافت سره اوډل سوي دي. څه نزاکت او طراوت څه رنګیني او زېبایي ځني ښکارېږي؟

ښایسته او شاداب ګله! شګفته او خندان غاټویه!

ته غوړېږې خاندې، د یو جهان حُسن او رنګینۍ سره، رونق او زېبایي د دنیا زیاتوې! اما ... نه پوهېږې چي ستا رنګ او نګهت، ښایست او لطافت څومره خوند کوي، دلسوختګان د عشق تا ته په کوم نظر ګوري؟

هو! ستا روڼ رخسار او زېبا مخ، ستا بې مثله حسن، ستا ښایست او زېبایي، ستا لطافت، ستا بشاش او ورین جذاب تندی، ما ته ها خپل خوږ زېبا مین په یاد راکوي.

ای گل به تو خورسندم تو بوی کسی داری!

نو دده د محبت لوه په تا ماتوم، ته پر ما ګران یې.

زما شګفته او خندان او رنګین ګله!

٤ حمل ١٣١٢

# يوه نغمه

[طلوع افغان، يوولسم کال (۱۳۱۲ش)، لومړۍ گڼه]

سين نرۍ نرۍ څپې وهي، لمر هم پر لوېدو دئ، وړانگې ئې پر اوبو لوېږي او داسي ښکارېږي لکه ويلي طلا چي په کټوري کي وي.

موږ په کښتۍ کي کښېناستو، دقيقه په دقيقه له ساحله ليري کېږو. د بحر سوړ وږم (نسيم) په دې وخت کي حقيقتاً جان بخشا دئ. د انسان حواس ويښوي، روح ته يو مخصوص اهتزاز بخښي، لمر هم لکه نوې پېغله شرمېږي، غواړي طلايي مخ پوټۍ (نقاب) د بحر د اوبو پر مخ وغوړوي.

چي سترگي مو اړولې لمر په اوبو ننوت، دنيا ئې تاريکه پرېښووه، فقط بقايا د طلا د څپرکو ئې پر اُفق وپاشل.

اوه! څه ښه منظره ده! سربېره شينکی آسمان، لاندي شين کوړم بحر، په منځ کي طلايي اُفق جلوه کوي. د بحر څپې کښتۍ ته حرکت ورکوي، غواړي موږ له دې زيبا او روح پروره منظرې څخه محروم کي.

زموږ د څنگه نوري کښتۍ هم تگ کوي، کله کله دومري رانژدې سي چي د دې کښتۍ سره ونښلي او يوه خوفناکه صدمه راورسوي.

ما فقط د طبيعت د ښايست او زيبا مناظرو د قدرت سيل کاوه، دې جلوه

گاه ته د بهجت[۱] او ښایسټ ډوب تللی وم، په ژوره فلسفه کې د خلقت او قدرت مې فکر واهه. نابېره یوه دلکش او نري او زړه ښوروونکي آواز دې سکوت او حیرت ته خاتمه ورکړه، که مې کتل په مخامخ کښتۍ کې یوه سره کمیسې نجلۍ په خپله ژبه دا ترانه وايي:

وطنه جار دي سمه بیا په سل وار دي سمه
تر تا واري دي سمه او قرباني دي سمه

ته خو مي خپل وطن یې
ته خو مي گل وطـن یې

وطنه! زما وطنه! زما د بابا وطنه!
ته خو زما یې وطن نه د بل چا یې وطن

خـود به دي ښه سـاتمه!
که په دې لار کي مرمه؟

الخ ...

دا دلکشه نارې ئې لا نه وې تمامي کړي، چي ما ته ئې تکان راکی، د وطن په یاد کي ولوېدم، خپل کور، کلی، خپل وطن، خپل د ټاټوبي روښانه فضا، درخشان لمر، لوړ غرونه، پاکه او صافه مځکه په یاد راغله.

هوکې! «هر چا ته خپل وطن کشمیر دئ» اوه وطنه! خپل وطنه! گل وطنه!

ته مي نه هېرېږې، ستا روڼه فضا، پاکه خاوره، متین غرونه، خواږه رودونه، شنه ډنډونه، زرغونه دښتونه، آیا بل چیري به پیدا سي؟ ستا یوه لوېشت مځکه په گرده دنیا ارزي.

---

[۱] بهجت: خوښي، خوشحالي، نشاط.

حق ناشناسه به تا هېروي، بې درده او بې احساسه به تا هېروي. يا، ته خو د چا نه هېرېږې.

هوکې! نه هېرېږې، ژوندی او ښاد اوسې ګران وطنه!

وطنه! جاذبه د محبت او کشش دي څومره قوي ده؟ مينه دي پر روح او احساساتو د انسان څومره ټينګه حکمراني کوي؟ هوکې! ستا مينه او محبت فطري دي، زه څو زره ميله ليري دا دئ په اوبو کي ګرزم اما ته څومره لوی تسلط لرې، پر روح د انسان. څومره عواطف او مشاعر د انسان په ځان پوري نښلوې.

آيا دلته مي هم په سوز کي د ياد خپل اچوې؟

هو! ته کله هېرېږې؟ هر څومره چي انسان ستا څخه ليري ولاړ سي، بيا ئې هم روح ستا په فضا کي پرواز کوي او ستا د ياد په خوند او حظ ژوندی وي.

نو زه هم تا نه هېروم! ستا مهيب او عظيم الشان غرونه زما سترګو ته جګ ولاړ دي.

وطنه نه هېرېږې     خورا مي ډېر يادېږې
شکر چي تا لرمه     زيبا ماوا لرمه

خدای دي ژوندی ولره
هـــم روغ رمی ولــــره

له تا که سمه جلا     روح په عذاب وي زما
فراق دي څوک ګلوي     جدايي څوک قبلوي؟

آخــــر به تــــا تـــه راځي
که هر څو څوک نه راځي

مورږ خو په تا نازېږو ستا په نامه یادېږو
منشاء مو ته يې لومړی مدفن مو ته اوسترى

خدای دي بې ما مه کوه
یا مــــا بې تــا مــه کوه

ژوندی او ودان اوسې خوږ وطنه!

«زه په دغو فکرو کې ډوب وم، چې بېړۍ بيرته له سين څخه ساحل ته راغله، مورږ هم غاړې ته راپوري وتو، شپه وه، د سپوږمۍ وړانگو بحر برېښاوه ...»

۱۳۰۹ ش

# د سرو زرو گيند

[طلوع افغان، يوولسم كال (۱۳۱۲ش) لومړۍ شماره]

سهار لا لمر نه وو راختلی، چې دوه تنه دهقانان راغله، په هغه مزرعه کې چې زما تر کوټې لاندې واقع وه، په کار او يوې بوخت سوه. چې سترگې مې اړولې په نتيجه کې د يوه گړي او زيار ئې وچه کلکه مځکه سره سمه او شديارة کړه.

ما پر دې قوت د مړوند او ذوق د زيار د دوی رشك[1] وخوړ، په ټولو حواسو د دوی حرکاتو ته متوجه سوم، دې يوه ملگري بل ته داسې خوږ نقل وکی:

«په قديمه زمانه کې يو پاچا وو چې له کوردارۍ (تأهل) څخه ئې بد راتله او په نظر د نفرت ئې ورته کاته، د دې پاچا عادت وو چې له پاره د تفتيش د رعيتو د حال به د شپې په ښار کې گرزېدی.

څو شپې پاچا پر يوه کوډغله چې تياره به وه راغی او له دننه څخه به ئې په کټکې خندا واروېده، پاچا په حيرت کې وو. آيا دا سرود او نشاط چې په عالي ماڼيو کې د پاچهانو هم نه ميندل کېږي، په دې توره ورانه کوډغله کې ئې څنگه ځای نيولی دئ؟

دا فقر او مسرت، دا خواري او سرور؟

[1] رشک: حسد. رشک وخوړ = کست مې په وسو، غبطه مې راغله.

بله ورځ پاچا د دې کور خاوند وروغوښت، سبب د هغه خوښۍ او خندا او مسرت ئې ځني وپوښتلی.

د کور خاوند چي يو خوار دهقان وو، په ډېر ادب ئې جواب ورکی، چي موږ په کور کي «د سرو زرو گيند» لرو، ماښام چي له زحمته د کار ووزم، په خپله کوډغله کي له خپلي خوږې ماندينې سره لوبي په کوم او ساعت په تېروم، خاندم ډېر مي وخت په ښه دئ.

پاچا او ملگرو ئې خيال وکی چي البته دا به يو خارق العاده اثر او خاصيت د داسي گيند وي، اما وروسته تر هغه چي تجربه ئې وکړه او څو شپې ئې د خپلو ملگرو سره ورغړاوه، نې[1] هغه مسرت وليدی، او نه هغه بشاشت. بيا ئې دهقان راوغوښت حال ئې ورته ووايه.

اما دهقان چي پوخ او کينلی عاقل سړی وو، دا سِر د اجتماعي عدالت ئې پاچا ته لڅ کی.

د سرو زرو له گيند څخه مي مطلب يو کوچنی گلالی سپينککی زوی دئ چي له څو وخته څخه مو روڼا د کورنۍ دئ او فقط زيبا او خوش آيند معصومانه او بې آلايش سپېڅلي حرکات دده موږ خندوی او دا زموږ تياره او وران کور په ده او دده په وجود روښان او ودان دئ. دده طفلانه په سرو شونډانو کي مسا او خورا نازکه او خوږه نڅا زموږ د عمومي مسرت او د فرحت له پاره کافي ده.

هوکې! دا کوچنی او گلالی شېرين انسان، د دنيا او مافيها له نعمتو څخه موږ ته بس دئ.

---

[1] نې = نه ئې.

# مه ځه یو ګړی راسره کښېنه

[طلوع افغان، دوولسم کال (۱۳۱۳ش)، لسمه ګڼه]

دا ته يې؟ ... يا ... دا به ته نه يې.

پر ما ګرانه! دا ډېر عمر مي ستا په بېلتون کي تېر کی. په تا پسي مي ډېري اُلکي[1] وغوښتې.

د ورځي به تلم، ستا په خيال.

د شپې به بيدېدم، ستا د ليدو په ارمان.

سهار به پاڅېدم، ستا په شوق.

ډېر وځغاستم، ډېر ولاړم، ډېري دېرې مي وپلټلې.

ډېر نيازمن مي وننګول، اما ته نه وې.

نه مي وليدې، نو اوس به هم ته نه يې.

که په رشتيا دا ته يې، تر تا دي جار سم.

مه ځه، يو ګړی راسره کښېنه!

***

د لويو غرو له سرو څخه زما اوښکي په تا پسي بهېدې.

پر اوږدو دښتو چي بې له ما بل څوک نه وه ستا خيال زما ملګری وو، ستا

---

[1] اُلکه: سيمه، مځکه. الکې ئې جمع ده: سيمي، مځکي.

په بېلتون کي مي ډېر زحمتونه پر ځان وګلول، راغلم، نو که دا ته يې؟
مه څه يو ګړی راسره کښېنه!

***

د سپوږمۍ وړانګو، به د غره پرښي برېښوولې، ستورو به پر شينکي آسمان د حسرت چشمکان راته وهل.

د ډبرو له لاندي څخه به نرۍ نرۍ اوبه رابهېدې.

زه به ناست وم، ستا د بېلتون سرې اوښکي به مي له باړخو څخه پرېولې.

هوکې ... ما ستا د بېلتون درد ګاللی دئ ... نو اوس:
مه څه يو ګړی راسره کښېنه!

***

زه په تا پسي راغلم. تر لويو غرو راواوښتم، اوږده دښتونه مي طی کړه.

ستا د مينې جاذبه دومره قوي ده.

ما خپل کور او کلی، خپله مېنه او د پلار او نيکه ټک پرېښووه.

روغ لېونی درته راغلم. اوس هم ستا ديدار ما ته يو خوب او خيال ښکارېږي. که په رشتيا دا ته يې، زما ګران مينه، نو:
مه څه يو ګړی راسره کښېنه!

***

وګوره! دا دي اوښکي، دا دي سوی زړه!
دا دئ کباب لړمون، دا دئ لېونی مين!
نور نو، څو غواړې؟ د خدای له پاره!
مه څه يو ګړی راسره کښېنه!

# سپوږمۍ ته د آرمان ناره

[طلوع افغان، دوولسم کال (۱۳۱۴ش)، ۳۳مه گڼه]

سپوږمۍ! ستا نیمگړې رڼا او مړامو وړانگو، په هغه شپه چې زه د عشق سوز و گداز راڅولی؟ او مخ مې پر بڼ بېدیا نیولی وو څه خوند کاوه.

هوکې، هغه شپه چې محبوبا مې له کړدۍ څخه سر راونه یوست او زې[1] د بېلتانه په ناورین کې پرېښووم، تر سهاره چې تلم، ته زما ملگرې او ستا وړانگې مې د بېلتانه د توري تیارې، روڼا وې.

اما افسوس، چې تا تر ډېره زما خوږمن مین سره ملگري و نه کړه، یو گړی پر شینکي آسمان وبرېښېدې، ژر دې لکه نازدانه پېغله د افق په پلو کې مخ راڅخه پټ کی.

آه! زما سپوږمۍ ولې دې یوازې د بېلتانه په تیاره کې پرېښووم:

ارمان ارمان سپینې سپوږمیه

سلام مې وروړه د همزولو تر کړدیه[2]

---

[1] زې = زه ئې.

[2] دا ادبي ټوټه د (پونده) په مستعار نامه لیکل سوې ده.

# د استقلال د اوولسم کال ملي اختر ته ښه راغلی

## له عزیز استقلال سره یو څو خبري

[طلوع افغان، دوولسم کال (۱۳۱۴ش)، ۴۳مه گڼه]

گل، سنبل، نسرین، نرگس، لاله غوټۍ
د مقدم ســره دي راوړ درست پسرلی

د استقلال ملي اختره! ښه راغلې. د پښتانه د ملي اختر اوولسم کاله!

ښه راغلې د ننگیالي پښتون د شباب پسرلیه! بیا ښه راغلاست، د اسد روڼو اوستریو ورځو!

د استقلال د شهیدانو پښتنو ننگیالو ځلمو په سرو وینو د پښتانه غیور قوم په ملي ننگ او حمیت، د حاجي میرویس خان مرحوم په بگړۍ، د زمري محمود هوتک په ځلانده توره، د توریالي احمدشاه بابا په دیانت او مړانه، د غازي اکبر او ایوب په توریالیتوب، د غازي نادرشاه په شهادت او غزا ړو، چي استقلال، هوکې! عزیز استقلال پر پښتانه گران او قدرمن دئ.

پښتون آزاد زیږي، مستقل ژوندون کوي، آزاد مري، آزادي د پښتانه حیات دئ. استقلال خپل ژوندون گڼي، ځکه نو: اې گران استقلاله! ستا په لاس کي تر سر تېر دي، خپليویني نه سپموي او تا ساتي.

استقلاله! د پښتنو تېر ننگیالي پلرونه او توریالي مړونه، د پښتنو جنگیالي

ځلمي، د پښتنو کوچني او لوی، ښځه نر، خوار بډای، په وارو وارو ستا د قربانۍ پر میدان فدا سوي او ځانونه ئې تر تا قربان کړي دي.

نو به اوس هم تا ساتي او ستا قدر به لري، تا به د ځان يو لوی ناموس او د خدای تعالی یو عظیم الشان نعمت گڼي.

استقلاله! د اسد په آخرو ورځو کي زموږ د عزیز وطن پر سرحدو، زموږ د کدني او ډکې پر میدانو، زموږ د سمت جنوبي پر لويو غرو او سمو ستا د شهیدانو ويني ایشي او د ننگیالیو شهیدانو له مرقدو څخه د مړاني نارې پورته کیږي چي:

نه یوازي لاله گل دئ ډوب د سرو وينو په جام کښي
ستا د عشق وژلي واړه ځي خښېږي گلگون هسي

استقلاله! که څه هم موږ ته په سرو وينو گټلی يې، د ځلمو په سر مو رانیولی يې او ښاغلو شهیدانو مو ځانونه ستا له پاره د لوی خدای په رضا قرباني کړي دي او:

سوه شهیدان هغه ځوانان چي ئې د دين کاوه ننگ
لکه لاله په خپلو وينو کښي سنگين پراته دي

اما، تا هم زموږ ننگ، ناموس، مېنه، کور، د پردو له تاړاکه راساتلي دي او موږ دي له سيالانو سره سم کړي يو.

عزت، آبرو، وقار دي راکړی، ملي او تاريخي عظمت دي رانوی کړی دئ.

نو موږ هم ستا او ستا د شهيدانو او غازيانو، خاص بيا ستا د لوی قهرمان او محصل اعليحضرت محمدنادر شاه شهيد او ستا د ساتونکي او پالونکي اعليحضرت محمدظاهر شاه او ټولو ښاغلو خدمتگارانو او محبانو، قدر او احترام د زړه له کومي کوو او وايو:

ژوندی اوسې پر موږ گران او عزیز استقلاله!

ستا د ښاغلو شهیدانو روح دي ښاد وي.

ستا پر لوی غازي او قهرمان اعلیحضرت محمدنادر شاه شهید دي رحمت وي. ستا حافظ او ساتونکی اعلیحضرت المتوکل علی الله دي ژوندی او پښتون ملت دي لوړ او بختور وي.

# خپله مېنه پر هر چا گرانه ده

[طلوع افغان، دوولسم کال (۱۳۱۴ش)، ۴۳مه گڼه]

دوې گلالۍ او منانۍ[1] چوغکي دي، دا څو میاشتي کېږي چي دوی په ملگري دلته ځالۍ جوړوي.

یو له بله چوڼهار[2] سره لري، ویناوي کوي، د میني داستان ئې خپور کړی وي، اما کار کوي، په گډه بوختي دي.

څه کوي؟ کور جوړوي، ځالۍ ودانوي، یا دا چي دا ځای ئې خپل وطن گڼلی، مینه ورسره کوي.

مازدیگر چي لمر لوېده، یوه پیشي راغله د حرص او طمع سترگي ئې دې ځالگۍ ته ونیولې چي گوندي دلته یوه گوله مینده کي.

د کور خاوندانو (چوغکو) چي دا سراښه پیشي ولیده، چي د دوی پر مېنه ئې حمله کړېده او غواړي چي د دوی په وینو منگولي سرې کي، راووتې نارې او غلبلې ئې واچولې، په خپل چوڼهار او غوغا ئې ټوله شاوخوا خبره کړه.

دا لا نه، بلکي دواړو په گډه له هري خوا پر دې سفاک حیوان حملې شروع کړې.

---

[1] منانۍ = کوچنۍ، وړوکي.

[2] چوڼهار = د مرغانو میده آوازونه.

له یوې خوا د دوی مردانه دفاع او له بلي خوا د نورو خلکو کومک او شړلو پیشي ناچاره کړه چي تر دې ښکار تېره سي او ځان وساتي.

نو ئې وځغستل، ولاړه!

ما چي دا حال ولیدی، له ځانه سره مي وویل چي:

هوکې! پر هر چا خپله مېنه گرانه ده، حتی پر حیوان هم.

# زه او د مکتب کوچنوټي هلکان

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، دوولسمه گڼه]

**(پښتانه هلکان خپل ملي بیرغ څنگه ستایي؟)**

گهیځ چي لمر لا ټوله مځکه په خپلو سپینو وړانگو نه وه روڼه کړې ما له لوړه څخه و شنو کښتو او کرلو مځکو ته ځیر ځیر کاته، د لمر لومړنۍ وړانگې پر دې شنیلو[1] باندي خپرېدې، هغه کوچني کوچني څاڅکي چي د شپې دې شنو او زرغونو وښو په څنگ کي نیولي وه، داسي به ایسېده لکه مرغلري چي پر اوربدلي وي.

زه د دې ښکلي مځکي په ننداره بوخت وم چي ناڅاپه یو څو کوچني هلکان راغله، دوی زه له هغه طبیعي خونده چي په ننداره کي د مځکو او وښو پروت وو، یو بل خوند ته چي هغه هم ډېر مهیج او زړه وړونکی وو بوتلم. ما ولیده چي دا کوچني سپېڅلي سپین پښتانه هڅه کوي چي ژر مکتب ته ورسېږي، سره د دې هم کله کله په زرغونو وښو کي سره خېژي او د کوچنوټو په څېر یو خوږ (اتڼ) اچوي او په خورا نریو او سپېڅلو ږغو په خپله ملي ژبه (د بیرغ ترانه) وایي.

ما له ځانه سره وویل: څښتنه! دا خو د هغو مېړو او توریالیو پښتنو زامن دي

---

[1] شنیلی: شنه گیاه، شینگیا، سرسبزي.

چي د تاریخ مخونه د دوی په مېړانه او ننګیالیتوب ښایسته دي.

د دې هلکانو په بشرو کي خو لا هغه د میرویس او غازي اکبر ویني په غورځنګ دي.

څښتنه! دا خو د هغو زیړو پښتنو کړوسي دي چي د دوی توري به پر دهلي او اصفهان برېښېدې.

زه په دغو افکارو کي ډوب وم چي هلکانو د بیرغ ترانه واخیسته او په یوه زړه وړونکي ډول ئې وویل:

آغ بیرغه جار بیرغه – تا چي وینم کوم بڼغ
زه دي سم تر تا قربان – اې بیرغه د افغان

تور و سور یې هم زرغون – ډېر یې ګران پر ټول پښتون
زه دي سم تر تا قربان – اې بیرغه د افغان

ستا منبر محراب نښان – لوړ دي وي پر ټول جهان
زه دي سم تر تا قربان – اې بیرغه د افغان

تا به ساتو زیات تر ځان – په ښه مینه په ښه شان
زه دي سم تر تا قربان – اې بیرغه د افغان[۱]

هلکانو په خورا خوند خپله ملي ترانه وویله، د دوی نریو بڼغو په فضا کي انعکاس کاوه، ما ته د (پښتو او پښتونوالي) د برم او لوړتیا وړانګې وبرېښېدې،

---

[۱] دا ناره د پښتو په لومړي لوست کي چي د لومړي کال د هلکانو له پاره په مکتبو کي خپور سوی دئ، چاپ سوې ده.

ما چي ویل پښتنو غازیانو د پاني پت پر میدان اتڼ اچولی دئ. یا دا چي په دې رونه دوره کي دا هلکان د خپل پښتون پاچا په پالنه د امنیت او عدالت تر درانه سیوري لاندي د پښتونوالي د حقیقي لوړتیا او عروج له پاره د سوري پښتون شهنشاه د زمانې په دود پر پښتونواله روزل کېږي او د پښتنو په تاریخ کي لومړی پلا ده چي د پښتنو زامن، په مکتبو کي خپله ملي ژبه وایي.

اوه! ملي هیلي، او ملي جذبات، ملي افکار او ملي ژبه، ملي چوچونه[1] او ملي دودونه، څنګه خواږه او خوندور دي.

څښتنه! پښتانه په پښتو او پښتونواله ژوندي ولرې.

---

[1] چوچ = دود، دستور، عنعنات.

د هند د سفر له یادداشتو څخه یو څو لیکي:

## د غره سرې په ځنګله کې

[طلوع افغان، دیارلسم کال (۱۳۱۵ش)، ۲۹مه ګڼه]

یو ګڼ ځنګل دئ ځګې ونې پکښې ولاړې دي، د بڼ طوطیانو شخول اچولی دئ. د هند ښایستې چوغکي او سره و زرغونه مرغان پکښې ګرزي.

مځکه هم زرغونه ده، شاوخوا، پورته کښته، سمه ژوره ټوله شنه دي. د لمر وړانګې هم ګردې ګردې پر مځکه رالوېدلي دي او هغه شین فرش طلاکاري کوي.

زه چې د پښتونخوا[1] د ځګو غرو او لوړې مځکې راشوه سوی یم، د دې خوا دا دلچسپي منظرې او د قدرت ننداري به څومره خوند راکوي؟ لمر پر شینکي آسمان برېښي، نسیم چلېږي، مرغان چغېږي، د ځنګله لطیف او نازک ګلان خاندي، یو عمومي طراوت لیدل کېږي، هیڅ شی زمول په نظر نه راځي.

زه په دې افکارو کې ډوب وم، د قدرت د ښایست ننداره مې کوله چې نسیم بږغ راباندې وکی او داسې[2] وویل:

یو وخت دلته د محمود[3] کاروان تی او د اسلام روڼا ئې په دې ځنګلو کې

---

[1] افغانستان.

[2] داسې = داسې ئې.

[3] سلطان محمود غزنوي.

خپروله. زما تر اوسه د شهاب الدين غوري[١]، د قطب الدين ايبک[٢]، د فتح خان بړېڅ[٣]، د شېرشاه[٤] او لودينانو[٥] مړانه نه هېرېږي.

دلته به احمدشاه بابا[٦] او د پښتنو ښاغلو سردارانو توري وهلې، د زابل او کابل، غزني او ننګرهار د سپرو له بېري به د دې ځنګله زمريان رېږدېدل.

سړيه! ته هم د هغو نيکونو او مړونو لمسی نه يې؟

تا ولي د خپلو پلرو، مړانه هېره کړه؟ ها ستا پښتونواله او هغه فطري ننګياليتوب، ها ستا د ښاغلو نيکونو (پښتو)، ها ستا د زمري په دود پرتم[٧]، ها ستا ... ها ستا ... او بالاخره ها ستا تاريخي عظمت، شوکت، ... و ...

ما چې د نسيم دا له پېغوره ډکه وينا واروېده، شين ځنګل راپوري اور سو، تاريخي عظمت مي سترګو ته وبرېښېدی، يو څو څاڅکي تودې اوښکي مي هلته توی کړې راولاړ سوم.

دا وه د نسيم تازيانه، د غره و سړي ته.

١٠ د دلو ١٣١٤

---

[١] د هندوستان مشهور پښتون فاتح.

[٢] د هند مشهور پښتون پاچا چي په لاهور کي ښخ دئ.

[٣] دا هم د پښتنو يو نومورکی فاتح دئ چي جلا نقل لري.

[٤] د هندوستان مشهور عادل پاچا.

[٥] لودينانو په هندوستان کي ډېر عمر پاچهي کړې ده.

[٦] احمدشاه بابا چي مرېتهی ئې وهلی دئ.

[٧] هيبت او دبدبه.

# د استقلال د اتلسم کال ملي اختر

[طلوع افغان دیارلسم کال (۱۳۱۵ش)، ۴۴مه گڼه]

دئ قسم په احترام د استقلال
چي عالي دئ ډېر مقام د استقلال
په گلشن د حریت خوښ او خوشحاله
سعادت سیر و خرام د استقلال
په ښاخسار د حریت مي بلبل خوښ دئ
غړوونکی د مرام د استقلال
د هغه ملت ژوندون لوی سعادت دئ
په غیرت چي کي قیام د استقلال
ښه دئ ښه دئ په قلبه د حریت کي
لاس تر غاړه دلارام د استقلال
و فلک ته به له اوجه سي خیزان
څوک چي وکي احترام د استقلال
نه اسمانه به تر پښه لاندي ایږدمه
څوک چي غواړي مچ کي گام د استقلال
د فلک پر توسن سپور به هغه څوک وي
چي په لاس کې وي لگام د استقلال

ترابده به سرخوش په سعادت وي
چا چي نوش کی شېرین جام د استقلال
په ځینه ځینه له کښته به عالي سي
څوک چي خېژي پر لوړ بام د استقلال

(حبیبي، ١٣٠٦)

د اسد په وروستنیو ورځو کي د پښتنو د مملکت په هره خوا او د دې خاوري په هره گوښه کي یو مخصوص نشاط او خوشحالي او مسرت لیدل کېږي، پښتانه په ورین تندي او بشاش مخ په دې ورځو کي ښادي کوي، ولي؟

په دې ورځو کي موږ هغه خپل فطري او ارثي لوی نعمت یعني (استقلال) بیرته د پښتنو ځلمو او د استقلال د شهیدانو په سرو وینو رانیولی او لاس ته مو راوړی دئ، دا کوم نعمت او زموږ د پښتنو تېرو مېړو کوم میراث دئ؟

استقلال هغه لوی نعمت دئ چي د پښتنو تېرو تاریخي رجالو هر وخت په وینو ساتلی دئ، دا هغه زموږ آبایي میراث دئ چي زموږ توریالي قهرمان او ادیب خوشحال خان ټوله خپل عمر د هغه په ساتنه کي تېر کړی او موږ تې[1] راپرېښو او راته وې ویل:

«په دنیا کي آزاد اوسه آزاد مړ شه»

(خوشحال خان)

استقلال زموږ پښتنو هغه تاریخي د مېړاني گېڼه ده چي حاجي میرویس خان نیکه او احمدشاه بابا په خپلو تاریخي فداکاریو او په خپله پښتونواله موږ ته راساتلی او راپرې ایښی دئ.

---

[1] تې = ته ئې.

استقلال زموږ پښتنو هغه ملي مقدس امانت دئ چي د غازي اکبر خان او غازي ایوب خان او بریالیو زړو پښتنو او د میوند او د کابل شهیدانو ارواح ئې تر اوسه په ننګیالیتوب دفاع کوي او د دوی له نومه د غلیمانو هډونه رېږدي.

استقلال هغه زموږ د پښتونوالي او ملي ننګي لوړه نخښه ده، چي پښتانه ئې قرباني او جهاد او غزا د خپل ژوندون لوی مقصد ګڼي او د شهید د وینو تویېدو ځای مقدسه خاوره بولي، ځکه نو د کدني (نوې کلا)[1] هم په یوه ټینګه ملي عقیده مهبط د انوار الهي ګڼي، ولي چي هلته د وطن شهیدان او هغه ننګیالي ځلمي ښخ دي چي دوی خپليویني فی سبیل الله د دې پاکي خاوري په ساتنه کي توی کړي دي:

کلا جدید مشرف ټوله په وینو نګار
چي شهیدان دي پراته د رب پر اوري انوار

(عبدالله ملي شاعر)

نو اوس چي دا ښکاره سوه چي استقلال د پښتو او پښتونوالي لوی رکن دئ او موږ پښتانه هغه خپل یو ملي او مقدس نښان بولو، نو خود به په دې ورځو کي ښادي او خوشحالي کوو او خپل ملي اختر بې[2] ګڼو.

پښتنو ورونړو! ستاسي پلرو او ښاغلو نیکه ګانو استقلال په وینو ساتلی او تاسو ته ئې سپارلی دئ، هغو خپل استقلال په مېړانه وساته ولاړه او موږ ته ئې دا ملي امانت راپرېښو. اوس حاجي میرویس نیکه او احمدشاه بابا او نور ننګیالي نیکونه له تورو خاورو څخه موږ ته ګوري، چي موږ د دوی ننګه څنګه

---

[1] سپین بولدک ته ئې پخوا قلعهٔ جدید وایه او دا ټوله سیمه د کدني مربوطات ول، له نوي کلا څخه مراد هماغه قلعهٔ جدید دئ.

[2] بې = به ئې.

پر ځای کوو؟ د دوی امانت څنگه ساتو؟ د دوی خاوره څنگه خوندي کوو؟ د دوی پښتونواله څنگه روزو؟ او بالاخره آیا موږ د دوی صالح زامن یو که نه؟ آیا د دوی هغه د پښتونوالي مزایا موږ خوندي کوو، که یا؟

پښتنو! اې د ننگیالیو اولاده! دا وطن، دا خاوره، دا استقلال، دا د پلار او نیکه هډونه، ټوله ساتنه غواړي، دا ټوله په یوه ټینگ ملي عزم او د ملیت او پښتونوالي په احساس خوندي کیږي.

په علم، په ثروت، په زیار، په جدیت، په اتفاق، په یووالي، په ورورگلوي، په اخلاص، په صداقت، په رشتیا او بالاخره بیا په حقیقي پښتو او پښتونواله سره ساتل کیږي.

که تاسي غواړی چي همېشه آزاد اوسی که تاسي غواړئ چي دا خاوره د غلیم له تعرضه وساتی، که تاسي غواړی چي د پلار او نیکه نوم او ننگه خوندي کی، که تاسي غواړی چي د سیالانو سره سم سی، که تاسي غواړي چي ستاسي ملیت او ستاسي استقلال او ستاسي پښتونواله دي محوه نه سي، ولاړ سئ (علم) ته مخ کئ، د یووالي لاس سره ورکئ، خپل تاریخي عظمت ټینگ وساتئ.

پښتنو! دا وطن ستاسي دئ، دا خاوره ستاسي ده، تاسي بې ساتئ، لکه ستاسي پلرونو او نیکونو چيویني پر توی کړي دي تاسي بې هم په وینو مینځئ.

مگر دا هم ومنئ چي په دې زمانه کي بې له علم او بې له عصري ضروریاتو تاسي هیڅ نه سی کولای، ناچاره یاست چي ځان به د دې زمانې په ضروریاتو مجهز کوئ.

هوکې! دا ښکاره ده چي پښتانه ملي ننگ او غیرت لري، پښتانه له خپل استقلال سره مینه لري، پښتانه د پردو د اسارت پېغور نه سي منلای، پښتانه پر

خپل وطن سر ایږدي، مگر که سړی هر څومره فداکار او دلاور وي بیا هم ښایي چي له عصري ضروریاتو څخه ئې لاس تش نه وي.

نو راسئ پښتنو چي خپلي ملي توري ته د علم بریښ ورکو[١] او ځانونه په عصري ضروریاتو مجهز کو[٢] چي سبا مو تر سیالانو پوري سر نه وي کښته. دا هغه زموږ ملي احساسات او ناري وې چي په دې ملي اختر کي مو ستاسي غوږو ته ورسولې.

ورونو! نن ورځ ستاسي ملي او مهربان او غمخور حکومت د دې عصري ضروریاتو په ټولونه کي ډېر زیار کاږي او بل هیڅ مقصد نه لري، بې له دې چي دا ستاسي وطن ودان کي او ستاسي ملي عظمت وساتي، نو تاسو ته هم ښایي چي د خپلو ملي احتیاجاتو په ټولونه کي له دې محبوب حکومت سره یو لاس سی او ویښ سی، او ډېر زیار وکاږی ولي چي حکومت ستاسي او تاسي د حکومت یاست او د وطن د ساتني له پاره د دواړو زیار او کوښښ ضرور دئ.

په پای کي د وطن د استقلال ښاغلو شهیدانو او مخصوصاً د استقلال لوی قهرمان اعلیحضرت محمدنادر شاه شهید ارواح ښاد او مغفور غواړو او وایو:

ژوندی دي وي استقلال!

ژوندی دي وي د استقلال حامي اعلیحضرت محمدظاهر شاه!

ژوندی دي وي ښاغلی او ننگیالی پښتون ملت!

دا د استقلال ملي اختر مو مبارک سه!

---

[١] ورکو = ورکړو، د کندهار لهجه.

[٢] کو = کړو، د کندهار لهجه.

# د پلارمړي د اختر خولۍ

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، ۴۴مه ګڼه]

یوه خولۍ وه په خونه کښې شاوخوا ته رغښته. دې او هغه په پښه وهله، کړه وړه رغ سوې وه.

سره له دې چې نوې وه، بیا هم خورا خیرنه وه. ښه نه ایسېده.

ما چې دا خولۍ ولیده، ټولو په سپکه سترګه ورته کاته.

نو زه به هېښ وم چې دا خولۍ د چا ده؟

لوړه بله خولۍ هم ځړېده چې خورا برېښندوکې وه. په ډېره درناوي پر ځای پرته وه. هر چا په درنه سترګه لیدله.

له دوړو څخه په نري ټوکر پټه سوې وه، تر ټوکر لاندي لا هم ځلېده.

دا روغه وه د اختر ورځي ته سمه پرته وه. ها بله لړ لړ په اومړو سپڼسو سره نښلولې سوې وه.

روژه تېره سوه، د اختر په ورځ ګهیځ هغه روغه او برېښېدونکې خولۍ په خورا ښه ډېل او ډول د بډای د زوی پر سر سوه، دغه کوچنوټی چې په نورو ښوښو ځلانو نمریو[1] کي ډوب وو دا کښلې خولۍ هم دده پر کوټي سوه.

بلي خوا ته مي لیده چې یو اسکېرلی او ترټلی کوچنی هلک کوم ګوټ ته

---

[1] نمري = کالي، جامې.

ولاړ وو، سړو ریږداوه، ده د اختر په نوو نمریو کښي بل هیڅ نه درلوده.

ما ولیده چي هغه خرڅوړه[١] ناوړه خولۍ دده پر کوټي وه.

راته څرګنده سوه چي هغه د پلار مړي د اختر خولۍ وه.

نو ځکه داسي په سپکه د هر چا په پښو کښي رغښته او مروړله کېده.

ویش! لکه چي زموږ سره زړه سوی او خواخوږي نسته.

---

[١] خرڅوړه = هغه خولۍ چي پر سر لویه وي، پر غوږو را ایله وي.

# سرشك گلگون من

[طلوع افغان، اوولسم کال (۱۳۱۹ش)، لومړۍ گڼه، ۳۷ مخ]

اشك گلگونيكه بيادت اى سعادت موهوم، از چشمهٔ چشم ميجوشد، هنوز نه خشكيده است.

دلم ميخواهد در فضاى پاك تو، بال و پرى افشاند، ولى كجايى تو. هيهات!

ميخواستم بتو برسم، تو را در آغوش بگيرم، نى در دنياى وصالت نوازم، اشكى بدامنت افشانم، گردى از قدمهاى تو براى توتياى چشم بردارم. دستى بدامانت زنم ... اما كجايى تو؟

اى سعادت! اى هماى موهوم! اى نام بى نشان! سالها دويدم. عمرها به انتظارت سپرى شد. ايام درخشان جوانى، روزهاى مسرت انگيز صباوت را به تلاش تو گذشتاندم. ولى تو! كجايى؟

بيادت ميگريم و از انين خود حظ ميبرم. اينك ... من و سرشك گلگون من!

# یو ته یې!

[طلوغ افغان، اوولسم کال (۱۳۱۹ش)، لومړۍ ګڼه، ۳۷ مخ]

د دې غره پر ها خوا.

د ها بل غره پر ها خوا.

هولته[۱] لیري، هوکې، ډېر لیري.

یو خوږ بڼغ پورته کېږي.

ستا د مینې لنډۍ وایي. دلته د پسرلي په شنو تالو کي سره او زرغونه غوړېدلي دي. غاټول خاندي. رېدی نڅا کوي.

زه ورته ګورم ... ستا ... هو، ستا د مینې بوی ځني راځي.

په لویو غرو کي، په ګړنګو، په رغو، پر دښتو، پر لوړو ژورو، ته نه راڅخه هېرېږې، ستا د مینې سندري بولم.

هولته، هلته، دلته! ته یې او زه. بل څوک نسته. یه، یه! یوازي ته یې، زه هم نه یم.

---

[۱] هولته = هلته، د کندهار لهجه.

# د میني خبري

[طلوع افغان، اوولسم کال (۱۳۱۹ش)، لومړۍ گڼه، ۴۷ مخ]

هغه ورځ چي زوکېدم ستا د میني بړغ ئې په غوږ کي راوکی.

زه په هیڅ نه پوهېدم، کوچنوټی وم، هلته تا د لمر په روڼو وړانگو او د سپوږمۍ په وږمکۍ قدرت راښکاره کړ، د کور د څنگه مي د ونو په منځ کي یو تورکی چینجی وو.

د شپې بې[1] خوږې نارې وهلې. ما دده په نارو او شپېلکي کي ستا د میني بړغ اروېد. اوریځي پر شینکي اسمان گرزي. تالنده غړغړې وهي. برېښناوي ځلېږي.

له لویو غرو څخه خړ خړ ماندونه راځي. هلته وچه مځکه اوبوي.

دا ټوله ستا دي. ټوله له تا دي. بل څښتن نسته.

***

بیچاره دلم درد میکند! شعله های شورانگیز درد از کانون سینه در فوران است. در اوقاتیکه ناصیه ام بخاک آستانت سجده کنان است، این درد بامن همچون مسیحائی همراهی میکند. پس این درد در حقیقت دردی نیست، بلکه داروئی است که همواره دل خونین و افگار مرا تداوی میکند.

---

[1] بې = به ئې.

بادار من! من و دل دردناکم همه ازان توئیم.
مرا با تو راز و نیازیست که جز حنجرهٔ دردناک نمیتوان سرود!
آه! من بقربان درد و درمان تو! ای بادار.

***

آن گوهر گرانبهائیکه بمن داده بودی، من آنرا بخاک و گل آلوده و در بین طوفان خروشان ظلمت گم کردم.

آن نغمهٔ دلکش و آسمانی را که بمزمار من بخشیده بودی و من آنرا سروده و روح ناشاد و نادان مرا بیادت می انداخت، اکنون آنرا فراموش کرده ام.

حمائل گلهای قشنگ و خوشبوئی که بگردنم آویختی، و مرا همنشین قدوسیان آسمان ساختی، من آنرا بگل و لای این زمین سیاه و تاریک آلودم.

اکنون پیرامون من نه آن لولوی آبدار توست و نه آن گلهای زیبا. هر چند میکوشم که نغمه های مهر و عشق ترا بسرایم، ولی مزمار من یکسره شکسته و حنجره ام توان ناله و فریادی ندارد.

مویهای سرم ژولیده. چشمهایم بی نور است. در دلم سوزی و تپشی نمانده.

خدای من! باز رحمتی از عالم جاویدان بزندگانی این مشت خاک تاریک بفرست. باز همان گوهر روشن بمن ارزانی فرما!

باز بمن همان نور و سرور بی پایانت ببخش!

# د غره زوی

[طلوع افغان، اوولسم کال (۱۳۱۹ش)، ۵۸ گڼه]

ګهیځ چي به راکښېنستم مځکه به روښه وه. لمر به د اسمان پر څنډو برېښېدې. د غره نرى نرى ورږم به چلېدى. زموږ کږدۍ به ولاړه وه، د لویو غرو په لمنو کي.

زما سپین پستکی ورى به د پسرلي پر ګلونو غورځېدى، امبا امبا نارې بې[1] وهلې. هلته زه کوچنی وم، د لمر په وړانګو کي به مي د غرو په لمنو په کټکي خندل.

سهار په شنه خړه چي به له بړستني وپاڅېدم، د خپل کوچنوټي جونګي په غاړه کي به مي لاس ورواچاوه، پر څه لاېزار به ښه ایسېدى. پر ما ډېر ګران وو.

زه به هلته ګرزېدم، چي سپېڅلي غرونه وه. د مځکي مخ به برېښېدى، زما لوبې د پسرلي د ژړو ګلو سره وې. نو څه سو ها ژوند؟

آ غرو! آ غېلو! آ د کږدۍ سپیني سپوږمۍ! آ د مازیګر ژړوټې لمره! ما ورولئ هغه ځای ته!

[1] بې = به ئې.

# زما مینه

[کابل مجله، ۱۳۱۹ لمریز کال، ۱۲ مه گڼه، ۱۹ مخ]

زما مینه، لکه تك سور غاټول داسي ده، چي د پسرلي پر وخت غوړیږي.

زما مینه، لکه سندره داسي ده، چي په خورا خواږه ډول پیدا سویده.

څوني [۱] چي ته ښکلې یې، اې زما ګراني! هغوني [۲] زما مینه ډیره ده.

زه به تر هغه وخته ستا سره مینه کومه، تر هغو چي دا ټوله تریخ دریاب نه دئ وچ سوی.

ګرانی! تر هغو چي واړه ترخه دریابونه وچ نه سي او لمر تر ګړنګو و نه لویږي زه به ستا سره مینه کومه.

تر هغو چي ریګستان ورك نه سي.

ښه! ښه اوس نو د خدای په امان. زما یوازي محبوبا! د خدای په امان! مګر، زه به بیرته راسمه ګراني!

که څه هم په زرو زرو میله لیري یم!

---

[۱] څوني = څومره، څونده، د کندهار لهجه.

[۲] هغوني = هغومره، هغونده، د کندهار لهجه.

# ونه

[انیس ورځپاڼه، ۱۳۲۰ش، لومړۍ ګڼه]

هولته لیري.

هوکې، خورا لیري، د دې پوټي[1] پر ها خوا، د ها بل پوټي پر ها خوا. د بټ بیابان په منځ کي یوه شنه ونه ولاړه ده، شاوخوا پر دښت او چول د لمر وړانګې برېښي او خورا تودوخه ده.

دلته اوبه نسته، په دې چول کي ځناروان هم نه ګرځي، سړه سنا ده، د مچ بُڼ هم نسته. له لیري دوه تنه مسافران رارهي سوي دي. ورو ورو مځکه پرې کوي، پلي دي ځَوري[2] ئې هم په شا دي. د لمر سوځوونکي وړانګې پر دوی لوېږي او زښت ئې تږي کړي دي.

سترې ستومانه دي، راغله د هوسایۍ له پاره یو سیورۍ غواړي خو نسته، ها یو بل ته وایي: ملګرې! زه ډېر ستړی یم، تږی یم، کوم ځای به اوبه نه وي؟ زه زیاته نور نه سوای تلای، پښې راپسي ښخېږي، څه وکم؟

ها بل ملګری: زه تر تا بتر[3] یم، خو نو څه وکو ځان به تر ځایه رسوو.

خو دواړو هڅه وکړه، هله هله هله، راتله. تر یوې غونډۍ راواوښتل، تر بلي

---

[1] پوټی = خاورینه غونډۍ، شاګۍ، غونډۍ.

[2] ځوري = د سفر سامان، زاد الراحله.

[3] بتر = بدتر.

غونډۍ راواوښتل، خو سره بکوا ده، چول دئ. ملګري دواړه ساه شړي، نفس ئې په غاښ کي نيولی دئ، خو ځي. څه وکي؟ دلته د يوه ملګري زړه پر ډوبېدو سو، غوځار سو. ها بل ملګري چي يو څاڅکي اوبه په ژي کي درلودې دده په حلق کي ئې ورننولې.

خو ملګری ئې وو، په شا ئې راواخيست، په خپله هم ډېر تږی او نونځه دئ. راتی راتی[1] خو څه سر دي ګرځوم، سترګي ئې سپيني سوې خو دې چول پای نه درلود، له ځانه سره ئې وويل: چي تر دغي غونډۍ پوري به لا ولاړ سم، که څه وداني نه سوه ښکاره نو به ځان پر خدای وسپارم، خو پښې ئې راواخيستې.

په ډېر زحمت ئې ملګری په شا پر پوټي راواړاوه، کې[2] کتل د پوټي پر ها خوا ليري، هو ډېر ليري، يوه ونه پر دښت ښکارېږي، مسافر چي هغه ونه وليدله، همت ئې وکړ او ځان ئې په خورا تکليف ورته راورساوه، د وني سيوري ته خوړي بوړي واوښت. ملګری ئې هم ورته پرېيوست، چي لږ څه هوسا سو نو ئې وکتل چي تر وني لاندي يوه چينه ده او سړې اوبه پکښې ولاړي دي.

ژر ژر ئې اوبه د ملګري پر مخ او سر ورو‌پاشلې، هغه هم سترګي روڼي کړې، راکښېنوست او سړې اوبه ئې وچښلې، دې دوو ملګرو د هغې وني سيوري ته له مرګه نجات وموند او د هلاک له سوراړه د نجات سيوري ته ورسېدل.

خلک وايي چي دا د نجات او ژوندون ونه ده، د دې چينې پر غاړه يو وخت، يو تېر وخت يوه دهقان کښېنولې وه، چي اوس په دې بکوا کي د بېوزلو مسافرو له پاره د نجات ونه ده.

---

[1] راتی راتی = راتلی راتلی.

[2] کې = که ئې.

# ستا سرینده

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، یوولسمه گڼه، ۳۰ مخ]

په نیمو شپو کي مي ستا د سرینديٍ ږغ واروېد، څوني مؤثر وو؟

خلک په درانه خوب بیده وه، هیڅ ږغ او ږوغ نه وو، ما غوږ درته نیولی وو، ستا سرینده مي اروېده او د ږغ څپې ئې له مستۍ او ډېرو اسرارو ډکي وې.

زه یوازي نه وم، بل ملګری مي هم درلود، په تټر کي مي ویښ زړه رپېدی او له هر ځیر او بم سره ئې حرکت کاوه او له ما څخه ئې پوښتنه وکړه چي: دا سرینده څوک ږغوي؟

ما ته نه وه ښکاره چي دا ږغ له کومي خوا راځي او ږغوونکی ئې څوک دئ؟ نو مي ورته وویل: زما زړه! په نور څه نه پوهېږم خو دوني وایم چي «واړه دی دئ!»

ستا د سرینديٍ ږغ دا سِر ما ته تلقین کړ، که دا ږغ نه وای، زه ړوند او کوڼ وم او په هیڅ نه پوهېدم.

نو هر کله خپله سرینده ږغوه چي جهول انسان ئې له ږغ اروېدلو داسي اسرار کشف کړي او د نغماتو په مستۍ کي بېخوده وي.

زه هم تل ستا سرینده اروم، ستا سرینده!

# د سهار رڼا

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، دوولسمه گڼه، ۱۵ مخ]

د لویو غرو پر سر د سهار رڼا ښکاره سوه.

زه چي د شپې په توره تیاره کي ناست وم، د دې رڼا په برکت وپاڅېدم. دا رڼا څنگه ښکلې ده؟ تیاره او بیده دنیا څنگه د ښکلا په گېڼو ښایسته کوي؟

آسمان د ویر تور کالي ورو ورو له ځانه لیري کوي او لمن ئې هم هر گړی سپینېږي.

اوه، لکه چي سهار سو، د مرغیو سېلونه هم په فضا کي اتڼونه کوي، دوی چیري ځي؟

دا چوغکه هم له ځالي څخه راوپاڅېده، چڼ چڼ نارې وهي.

یوه شېبه وروسته به لمر هم راوخېژي، انسانان به له خوبه ویښ سي.

هوکې، رڼا د بیدو د خوب دښمنه ده، په رڼا کي څوک بیده نه سي پاتېدای.

څښتنه! زه په دې رڼا کي چي ستا د لوړ قدرت پلوشې پر مځکه پاشي، د خپل زړه رڼا ستا حضور ته اهداء کوم.

که دغه رڼاوي سره گډې سي نو دا زما تیاره کوټه به نه کړي روښانه؟

پاکه څښتنه! له خپلي جاویداني رڼا څخه یوه ډېوه زما په زړه کي بله که، چي د دې شپې په تورتم کي لار ووینم او دا تیاره ټاټوبی مي راته روښانه سي.

# دا سپوږمۍ او هغه سپوږمۍ

[کابل مجله، ۱۳۲۵ش کال، نهمه گڼه، ۳۵ مخ]

د خدای شپې او ورځې دي تېرېږي.

لس کاله دمخه په همدغه ځای کي یوه شپه یوازي زه او سپوږمۍ سره ملگري وو.

د کندهار د مني شپې وې او سپوږمۍ خورا روښانه وه، ما چي له ځانه سره فکر کاوه خودښکه[1] مي په خیال کي لا راگرځېده چي لس کاله وروسته به بیا هم دغه ځای وینم.

ښه مي په یاد دي چي ما هغې سپوږمۍ ته په بله سترگه کاته او اوس دې سپوږمۍ ته په بله سترگه گورم.

سپوږمۍ خو هغه سپوږمۍ ده، مگر د انسان نگاه او کاته تغیر کوي. یو اسیر چي د زندان تر کړکۍ ورته گوري، د هغه کاته له یوه خوښ او آزاد سړي سره بېل وي. جباران او ستمگاران هم د دې سپوږمۍ په رڼا کي عیش کوي، عفیفان او پرهېزگاران بیا عبادت کوي او په راز و نیاز بوخت وي.

په دې ډول پېړۍ پر پېړۍ تېرېږي او هر څوک په خپلو کړو خوښ وي. مگر دا رڼا ډېره حساسه رڼا ده، په تورو تیارو شپو کي ښه او بد، نېکي او بدي،

---

[1] خودښکه: په خدای ړو، قسم په خدای.

کاږه او سم سره بېلوي، ما ته زما عمل راښکاره کوي او ها بل ته دده عمل.

نو، دا سپوږمۍ او هغه سپوږمۍ څه فرق نه سره لري، د دنيا په تاريکه صحنه کي يوه جاويداني رڼا ده چي د انسان د اعمالو هنداره ده او تل هر سړی دده په خپل رنګ کي راښيي.

بدبخته دئ هغه انسان چي په دې رڼا کي خپل اعمال تشخيص نه کړي او بد ئې ښه په نظر ورسي.

کندهار، سرپوزه

د ۱۳۲۵ د مېزان ۱۴مه شپه

د یوه ملګري د مکتوب جواب:

# ماښجن یار ته

[کابل مجله، ۱۳۲۷ش، ۳ - ۴ ګڼه، ۴۲ مخ]

وطن مي ستا له لاسه پرېښو
خلک به وايي د نېستی له لاسه ځینه

تا راته ویل: راسه! زه درغلم.

زما ستا پر خبره ویسا وه او ته مي خپل دوست ګڼلې.

تا زما سره ټینګي وعدې وکړې، ویل دي: «زه ستا مړوند یم، ستا پر خوا یم، ورسه! هغه زړې کوډلي ونړوه، او زما له پاره نوې ماڼۍ بنا که!»

ما هم لېڅي راوغښتلې، ستا په خدمت کي مي شپه او ورځ پر ځان یوه کړه، رقیبانو په ما خپړي ولګولې، ما هم تا ته پناه دروړه، ستا په کور درننوتلم، په ننواتو درغلم، مګر تا پر مخ ووهلم.

رویبار زه درته وغندلم، او ستا په مخ کې[1] تور کړم، ګرېوان ئې راڅیري کی او دا داستان ډېر اوږد دئ.

وروسته ما ولیده چي ته هم ما ته په ښه سترګه نه ګورې، او ماښجن یې. ستا وعدې ټولي بېکاره ولاړې او زه له رقیبانو سره پر میدان ستري اتري ودرېدم. ما

---

[1] کې = کي ئې.

به تا ته ناريې وهلې، مگر تا هيڅ نه اروېده.

تا به ويل: ته زموږ مشر يې، در دمخه سه! زه چي به مخ ته تلم، تر شا به مي هيڅوک نه وه.

وروسته ما د زمانې تېرو پاڼو ته رجوع وکړه، ومي ليدل: چي يوازي زما سره دغه چم نه دئ سوی، بلکي هر څوک چي تا دمخه کړی دئ، بيا دي نه دئ پاللی او په رقيبانو دي تکړې تکړې کړی دئ. ما ته د تېرو مېړو روح راږغ کړه چي په دې تشو خبرو مه تېروزه، څې[1] کوې، دا د غم داستان اوږد دئ او تر اوسه لا هم تا د اروېدلو غوږ نه دئ موندلی.

آن نيست که من هم نفسان را بگذارم
با آبله پايان چکـــــنم قافـله تيز است

***

زه ولاړم. تر لويو غرو واوښتم، هولته ليري مي د ځان له پاره کوډغله جوړه کړه، هولته ليري چي د غرو په لمن کي توري کيږدۍ ولاړې دي.

دلته ږغ و ږوغ نسته، فضا خاموشه ده. پښتنې مېرمني د کيږديو مخي ته کراري آرامي ناستي دي او زه هره ورځ سهار وختي له دوی سره يو ځای د (پښتونوالي عالي روح) ته سلام کوم.

زما زړه اوس هم ستا په غم کي ناکراره دئ او ستا ملالي سترگي مي نه هېرېږي. تا چي هر څه کړي وي خو ته بيا هم زما د زړه ټوټه يې او کله چي ستا حال راپه يادوم، زړه مي ايشي او د باران په څېر مي تر سترگو اوښکي تويېږي او له ځانه سره وايم:

---

[1] څې = څه ئې.

قلــبی یحـــــدثني بانک متلفی
روحی فداک عرفت ام لم تعرف

تر تا دي وگرځمه یاره
ته نه پوهېږې په مانې دي ووژلمه
***

زما ږغ هو زما ږغ نه مري، په فضا کي به سره ګرځي او آخر به بیا ستا غوږ ته در ورسیږي. نن سهار هم غره ته ولاړم، د پسرلي نسیم ته مي خپلي اوښکي او زړه دروسپاره، آیا دا پیغام به تا ته درورسوي؟

د دې غرو لړ ستا تر کوره پوري اوږد دئ، زما دا یقین دئ چي زما ږغ به په دغو تورو غرو کي ږغږغه وکي او آخر به ستا غوږ ته درسي، اما ته مه قهرېږه. دا پیغام (د زړه درد) دئ، دا اوښکي قیمتي اوښکي دي له باد صبا سره یو ځای درځي، ګوندي تا به زهیر نه کي. آیا ته د یوه مظلوم او ترټلي مین ږغ نه سې اروېدلای؟

یک بار ناله کــرده ام از درد اشـــتیاق
از شش جهت هنوز صدا می تواند شنید

د میني په دنیا کي زما او ستا ډېري خبري وې. ما ستا په ډاډ ساړه نغري تاوده کړل. مړه اورونه مي بل کړه. مګر تا زه په خپله په هغه اور کي وسوم.

زما د میني سلسله په تشو خبرو نه پوره کېده، کار او زحمت ئې غوښت، تا زما سره وعده وکړه خو پر و نه ختې.

رقیبانو هغه زرینه سلسله وشلوله او زما د عشق رابطه ئې هم ورسره پرې کړه،

پر ما وطن اور سو او د رقيبانو پيغور هم راپسې وو، نه تا زما مرسته وکړه او نه بل چا. نو ځکه زه ځان ستا د تغافل او بې غورۍ شهيد بولم او تا ته نه يم پړ. اوس هم که ته په رشتيا راسره درېږې او تشي خبري نه کوې، زه هغه مين يم لکه چي وم ... اما:

از در دوست چه گويم به چه عنوان رفتم
همه شـــوق آمـده بودم همه حرمان رفتم

# پنځه دېرش کاله پخوا او اوس

[کابل مجله، ۱۳۲۷ش، ۲۱مه گڼه، ۱۴ مخ]

په کوچنیوالي چي زما سترگي په تورو آشنا سوې نو مي د پلار په کتابو کي یو کوچنوټی کتاب وموند چي نوم ئې (روضۀ حکم) وو.

زه په پاړسو ښه نه پوهېدم، مگر دا کتاب به مي سره اړاوه.

دوه درې کاله وروسته چي د دې کتاب د لوستلو وړ سوم نو به مي لوست او د کتاب په پای کي یوه مقاله وه «وطن عزیز افغانستان» ما به دا مقاله ویله، بیا به مي ویله، بیا به مي ویله، کله کله به ئې داسي اثر راباندي کاوه چي ژړل به مي هم! نه پوهېدم چي لیکوال ئې څوک دئ؟ او ولي دوني اثر لري؟

وروسته چي زه د (وطن) په معنی او مفهوم وپوهېدم، نو دې مقالې لا ډېر اثر راباندي کاوه او دا مقاله ما ته لومړی (وطني درس) وو او زما په فکري مراکزو کې[1] دوني ځای نیولی دئ چي تر اوسه هم د هغې مقالې الفاظ او کلمات زما په دماغ کي منقوش دي. [اللهم اغفر لکاتبه وارحمه و تجاوز عنه و زد فی حسناته]

ای صبا! ای پیک دور افتادگان
اشک ما بر خاک پاک او رسان

---

[1] کې = کي ئې.

څو کاله وروسته دا کتاب زما په کورني درس کي داخل سو، حضرت استاد به هم دا مقاله په ډېر جوش راته ویله او زه به پوهېدم چي دا خبري یوازي پر ما داسي اثر نه کوي بلکي نور هم ژړوي.

دا د پنځه دېرشو کالو خبره ده.

زمانه د سترګو په رپ کي تېره سوه، ډېر حساس زړونه او دردمند دماغونه خاوري سول. ډېري آرزوګاني تر تورو خاورو لاندي سوې، مګر هغه اوښکي لا نه دي وچي سوي او د وطن دښتونه او مځکي لا هغسي توري ولاړي دي. کورونه کنډوالې دي، پښتانه لا په هغه جهالت کي غرق دي او که اوس هم یو څوک د زړه درد په قلم ولیکي نو به د هغې مقالې په کمه نه وي.

ښه، اوس به نو له ځانه سره حساب وکو[1]، په دې دېرش څلوېښت کاله کي موږ څه وکړه؟ چیري ځو؟ پر کومه خوا رهي یو؟

راسئ چي بیا پر ځان وژاړو، اوښکي تویي کړو، ګوندي د چا پر دې بربنډو، وږیو، تږیو، ناروغو، ځپلو، نتلیو زړه وسوځي او په حیاتي غم کي راسره شریک سي.

وران کورونه، وران ښارونه، وران دښـتونه وینمه
نه اورمـــه خـــندا بې د مظـــلومو له ژړا نه
یبلي پښې بربنډ صورت په وږې ګېډه ګرځي تل
ولي د پښـــتون په احـــوال نه ژاړې آسمانه؟

۱۵ د قوس ۱۳۲۷

---

[1] وکو = وکړو.

# زما هیواد

[هیواد اونیزه، ۱۳۲۸ش، ۲۱ گڼه]

هلته چي غرونه لڅ لغړ دي.
هلته چي دښتونه شاړ او وچ کلک دي.
هلته چي اغزي د ګلو پر ځای شنه کېږي.
هلته چي لوږه، تنده پر خلکو غالبه ده.
هلته چي وږي، لڅ لغړ او سرتور هلکان په کږدیو کي اوسي.
هلته چي د علم رڼا نسته.
هلته چي خلک ئې د ژوندانه په خوند خبر نه دي.
هلته چي اوښکي ډېري دي او خندا لږ.
هلته چي د انسان ژوند د حیوان په څېر دئ.
هلته چي هیڅوک په هیڅا پسي نه ځي او هر سړی پر خپله لاړ روان دئ.
هلته چي نه لوی لوی دئ، نه کوچنی کوچنی.
هلته چي قوي ماغزه، غښتلي مړوندونه او هر راز استعدادونه سته، خو ټول خاوري کېږي او څوک ګټه نه سي ځني اخیستلای.
هلته چي هر څوک په خپلو خولو کي ډوب دئ.
هلته چي ژبه د ژبي کار نه ورکوی، او غوږ د غوږ.

دا زما هیوا دئ.

لویه خدایه!

دا هیواد پخپلو رحمتو ښاد او سرسبز که.

# خوښ لغړ

[هیواد اونیزه، ۱۳۲۸ش، ۲۵ گڼه]

یو لوی پاچا وو چي له درباري تشریفاتو څخه سخت په عذاب او خورا غمجن سو. یوه پوه سړي ورته وویل چي: ستا د غم چاره دا ده چي څو ورځي د یوه خوښ سړي کمیس واغوندې.

پاچا خپل لوی وزیر ته امر ورکی چي داسي کمیس ومومه چي په اغوستلو ئې خوښ سم او غم مي لږ سي.

لوی وزیر شاوخوا ډېر وگرزېدی چي یو خوشحاله سړی ومومي او کمیس ئې پاچا ته راوړي.

په یو دښت کي تېرېدی، له لیري ئې یو شپون ولید چي پسونه ئې پووله او په خورا خوښي ئې اتڼ کاوه او سندري ئې ویلې. وزیر چي دا خوښ سړی ولید ژر ئې امر وکی چي دده کمیس د پاچا له پاره څني واخلئ.

مگر په پای کي ئې ولیدله چي دا خوشحاله سړی کمیس نه لري او لڅ لغړ دئ.

# خپلواک پښتون

(کابل مجله، ۱۳۲۸ش، دیارلسمه گڼه، اول مخ)

د کوږک پر ککرۍ کږه وږه لاره تېره سوې وه، یوې خوا ته د پښین ډنډونه او بېدیاوي ښکارېدې، بلي خوا ته د سپین بولدک رغونه پراته وه. د توبې نجلۍ د پښین ترین هلک ته ویل: دا مځکه زموږ ده، نو ولي موږ خپلواکۍ ته نه پرېږدي؟

لږ څه ورتېر سوم، د بولان په لمنو کي یوه کاکړ ځلمي بل بلوڅ ته د زړه خواله کوله. دوري هوري ئې د گوتو په نغوته ښوول او داسې[1] ویل: هولته زموږ کور دئ، دلته ستاسي کور دئ، دا مځکه خو زموږ ده، زه او ته سره خپلوان یو، خو دا پردي څوک دي چي موږ د خپل کور واک ته نه پرېږدي؟

بیا پسي ورتېر سوم، یوه ډېره وال پښتون له ټلواله سره د گومل په لمنو کي ولاړ وو. یوه ویل: دا ټول غرونه او سمي تر اباسینده زموږ دي، خو واک ئې د نورو په لاسو کي دئ، ولي ئې موږ ته نه سپاري؟

د خیبر په زړه کي لویه لار وه، اپریدي ځلمي خیالو مهمندي ته ویل: دا غرونه، هغه مېرې، تر اټکه زموږ دي، تر چتراله د پښتانه برم خپور دئ، دوري کښته هم تر کوږکه او دریابه زموږ ورونه پراته دي، نو ئې ولي واک موږ ته نه

---

[1] داسې = داسي ئې.

راکوي؟

په اکوړه کي د خټکو پلار خوشحال خان په خپل ټاټوبي کي پروت وو او داسي ئې ویل: پښتنو! ما تاسي ته درې سوه کاله مخکي د خپلواکۍ ږغ کړی وو، تاسي لا تر اوسه مریان یاست؟

لوی پښتون، لویه پښتونخوا، خپلواک ژوندون، دا درې خبري هېري نه کئ! اباسیند لکه شین زمری د مریي توب په جال کي غړومبېدی او بهېدی، سپین څګونه ئې له خولې راوتل، ډېر په کاوړ[1] کي وو.

د خیبر نجونو په سرو سترګو ژړل، د ښپین څلمو غلبلې وهلې، د ډېرو مېرمنو وېښتان شکول، د پېښور پښتانه د میرځمنو په ښېړیو کي نښتي وه، د کسې غر په تورتم کي پټ وو، د مردان مېرې په وینو سرې وې، د اباسیند پر غاړو اړودوړ وو.

ما له یوه پښتانه سپین ږیري څخه پوښتنه وکړه، چي: دا ولي؟

ده ویل: دا ټول دي د لوی پښتون، لویي پښتونخوا او خپلواک پښتون له پاره.

د کابل نوی ښار، ۲۷ د زمري ۱۳۲۸

[1] کاوړ = غوسه، درد، قهر.

# د حق دښمني

[کابل مجله، ۱۳۲۹ش، اتمه گڼه، د وقايې دوهم مخ]

د بطحا او يثرب په رېگستاني تودو مځکو کي خلک بتانو ته پر سجدو پراته وه او د انساني اقتدار پرستش ئې کاوه.

يو يتيم او بېوزلي انسان پيدا سو، خدای د حقيقت ليدو سترگي ورکړې، ږغ ئې وکی: بې له خدايه بل د پرستش وړ نسته. هو، خلکو! د خدای پرستش وکئ! دا بتان مات کئ! دا د حق ږغ وو مگر جاهلان نه پوهېدل، هغو به ويل:

دا سړی لېونی دئ.

کاهن دئ.

دده په لار کي به ئې اغزي پاشل. بد به ئې ورته ويل. د وژلو اقدام به ئې کاوه.

***

دا د حق دښمني وه، مگر [والله متم نوره و لو کره الکافرون][1]

***

څو زره کاله پخوا د يونان په کوڅو کي يو جگ گړ وېښتی سړی گرځېد. دی به ولاړ وو خلکو ته به ئې لار ښووله.

---

[1] د الصحف سورة: ۸ آيت.

دښمنانو دا سړی بد باله. ځکه چي دی د [حق] پر خوا وو، په آخر کې[۱] زهر په وخواړه. سقراط مړ سو خو دده بړغ تر اوسه په نړۍ کي گرځي.

دا هم د حق دښمنی وه.

***

اتیا کاله دمخه د کونړ له درو څخه یو سید راووتی. ده د حق آواز لوړ کی[۲]، خو د حق دښمنانو پسې واخیست. تر هند، تهران، مصر، استانبول ئې تېر کی.

سید جمال الدین هم په زهرو مړ کړه سو، مگر اوس خلک پوهېږي چي دی پر حقه لار روان وو.

دا هم د حق دښمني وه. خو اوس هغه خلک پر هغه لار روان دي چي سید روان وو. [الحق یعلو و لا یعلی][۳].

***

موږ د حق بړغ ژر نه اروو، او سترگي مو پټي دي، ډېر ځله [حق] د یتیم، درویش، وارسته سړي په خوله ویل کېږي مگر خلک وایي: دا حق نه دئ.

پسله څو ورځو چي عالم د منتقم د نامه مظهر سي نو خلک وپوهېږي چي [حق] له چا سره وو او څنگه دښمني ورسره وسوه؟

انسان باید سترگي خلاصي کړي او حق ته د حق په سترگه وگوري. د حق دښمني انسانان خواروي، نابود کوي ئې، حق بین حق وایي او ځي. که چا نه واروېد په خپله به د خپل عمل جزا وویني.

والسلام علی من اتبع الهدی

---

[۱] کې = کي ئې.

[۲] کی = کړ.

[۳] د حدیث یو روایت داسي دئ: الاسلام یعلو و لا یعلی علیه.

# له لوړي څخه کاته

[کابل مجله، ۱۳۲۹ش، نهمه گڼه، د پښتې دریم مخ]

دوی ویل: ښې منظرې دي، څنگه ښې ښکاري.

دا شنه ډنډونه، زرغونه کوړمونه، په دې پسرلي کي څنگه ښکلي دي.

هغه دښتونه او رغونه او د غرو لمني څنگه ښه ایسي.

ما له ځانه سره فکر کاوه او دا ښکلا مي نه لیده.

یوه ویل: دغه حوزه هر راز ترقۍ ته مستعده ده.

بل وویل: دې رود ته چي بند ولوېږي، هغه دښتونه به شنه زرغونه کړي.

ها بل وویل: د نیل حوزه راپه یاد سوه.

داسي خبري اتري کېدې او ما اروېدې.

د طیارې غرهار وو، تله، تله، تله او دا خبري د فضا په لایتناهي غېږ کي ورکېدې.

د هریوال رود مجرا، د فوشنج خرابې، د اسفزار تاریخي ډگر، زما له نظره تېر سول، پر تاریخي فراه راغلو، د بست او میوند تاریخي ښارونه مو ولیدل، زوړ قندهار په اسفناک حال کښته ښکاره سو، د غور عظیم الشان جنوبي غرونه د دې خرابو او سهمناکو مناظرو په عزا سیه پوش وه. ما ته د پسرلي ښکلا نه ښکارېده.

په هوغه کلي کي څوک اوسي؟ څه خوري؟ څه ئې اغوستي دي؟ څنگه ژوند کوي؟ څه حال لري؟

دا سوالونه زما په مخيله کي گرزېده، لکه چي لېونی وم. هوغه کلا له لوړي ځخه خورا ښکلې او منظمه او پاکه ښکارېده، مگر ما ئې دننه حال ليدی او دا راته معلومه وه چي هلته ډول ډول امراض مسلط دي او يو څو وږي، لڅ لغړ انسانان په ډېر فلاکت او روحي اضطراب کي ژوند کوي.

يه، يه، خطاوتم، تر مرگه ځانونه رسوي. ځکه چي ژوند نن ورځ بېل مفهوم لري.

زما زړه د دوی د احوال په تصور کي پړکېدی، ويلېدی، رپېدی، خو ها نورو ملگرو له ظاهري مناظرو څخه خوند اخيست.

دا ولي؟ ځکه چي هغوی له لوړي څخه ورته کتل او د کښتي حال ئې نه سوای تصوير کولای.

ما له ځانه سره فکر کاوه چي يو بل وخت زه هم دغسي خطاوتلی وم، ما له لوړي طيارې څخه د يوه ملت مځکه وليدله او دا به مي په زړه کي وه چي گوندي هغه ملت به سعادتمند وي.

که څوک غواړي چي د يوه ملت حقيقي حال ځان ته معلوم کي، بايد له کښتي څخه ورته وگوري. د دوی کورونه او کوډلي ووينې، چي دوی څه خوري؟ څه اغوندي؟ څنگه ژوند تېروي؟

ځيني خلک ځکه د ملت په حقيقي حال نه خبرېږي چي دوی له لوړي څخه هغوی ته گوري او له لوړي څخه هر شي ښه ايسي.

# د اگست څوارلسمه

[کابل مجله، ۱۳۲۹ش کال، ۲۷۱مه گڼه، د وقايې دوهم مخ]

ځيني آزاد سول او د ځينو په غاړو کي نوي کړۍ ولوېدې.

دوی وايي: تاسي هم آزاد ياست، مگر هغه بنديان دي.

اباسين هغسي له غلامۍ څخه په خروښ کي دئ.

بولان په توره تياره پټ دئ.

د کوږک په زړه کي لا د غلامانو لاسونه ښوري.

دوی وايي: تاسي هم آزاد ياست، مگر دا د غولولو يو نوی افسون دئ.

زما زړه غواړي چي د يوسفزو په مېړو کي آزاد وگرځم.

زما زړه غواړي چي له کاکړو او بلوڅو سره د زړه خواله وکړم.

زما زړه غواړي چي د اباسين آزادو څپو ته ځان لاهو کړم.

زما زړه غواړي چي د پښتانه په نامه (آزاده پښتونخوا) جوړه کړم.

دوی وايي: ته هم آزاد يې، مگر زه خو بندي يم.

نن د مليونو مليونو زړونه آزادۍ ته رپېږي.

نن د پښتانه روح په فرياد کي دئ.

د پښتنو پېغلو کرږي او ساندي آسمان ته رسي، ځلمي د آزادۍ له پاره لېوني دي.

يوازي زما د زړه رپېدل، د اوښكو توېدل، د دې اولسي خواهش ژوندۍ نمونه ده.

دوى موږ غولوي، وايي چي: آزاد ياست مگر موږ بنديان يو.

اې جهانه، واوره! چي دغه بنديان زيات نه غولېږي، دوى به دا كړۍ وشكوي او د ظالمانو كورونه به ور وران كي.

اې ظالمه! ظلم كوه، لاس مه اخله!

هر څومره چي پر دغه ملت ظلم وسي، دوى بيدارېږي.

نن د آزادۍ ترانې ويلي كېږي او د خوښۍ جشنونه برپا دي، انسانان په خپله آزادي نازېږي او مباركۍ سره وايي، مگر زه پښتون د غم په تياره كي پروت يم، لاس و پښې مي تړلي دي، دنيا به تر كومه پر ما دا ظلم كوي. انسانان ولي زما حق نه مني؟

آسمان زما دښمنۍ ته ملا كلكه تړلې ده!

زه ولي بندي يم؟ ولي ټوټې ټوټې يم؟ ولي ځانله پښتني نظام نه لرم؟ ولي پردي راپوري خاندي؟

خدايه! په دنيا كي داسي لاس نسته چي زما اوښكي راپاكي كي. په دنيا كي څوک نسته چي ما د انسانانو په ټولۍ كي وشمېري، په دنيا كي ټول قوا زما د (مستقل وجود) مخالف دي. هو! هو! دا ټوله دي، خو:

زه هم پښتون يم كه دنيا گرده پر يوه خوا سي،

ما به ورک نه كړي، زه به «لويه پښتونخوا» جوړوم،

او بيا به د گرد پښتانه د آزادۍ جشنونه كوم.

# خپل دوست ته

[کابل مجله، ۱۳۲۹ش کال، ۲۸۱ گڼه، د وقايې دوهم مخ]

په تروږمۍ کي د شپې په تپه تياره او هولناکه فضا کي، ما تا ته درږغ کړه چي ډېوه راواخله، دواړه به سره رهي سو، گوندي يو د بل په کومک پر لار سو او په کوم گړنگ کي و نه لوېږو.

ما ستا لاس ونيوی او تا زما لاس، څو چي پر لاره سم سوو. خو ستا په کلي کي پر ما ډېر ظالم او خدای ناترسه خلک پېښ سول. زما لاسونه او پښې ئې وتړلې او غوښي مي شکوي.

خو دوی وايي: موږ ستا د دوست دوستان يو او دا جفا او ستم د دوستۍ او خدمت په نامه پر ما کوي.

زه نه پوهېږم که دوستي او خدمت دا وي نو دښمني او ظلم به څه وي؟

راسه، يوار وگوره! چي زما حال څنگه خراب سوی دئ؟ څنگه خوار او لغړ يم؟ او نه پوهېږم چي آخر به مي څه وي؟

زما او ستا يارانه خو د ښېگڼي او معاونت او دوستۍ له پاره وه، ما چي تا ته لاس درکی په دې اميد وم چي ته به زما په درد وخورې او ما به له هغه بده حاله وکاږې. خو نه پوهېږم چي ته نه يې خبر او که خپل مين په لوی لاس د جفا پر اور کړوې؟

# دوشیزۀ شنوار

(آزاد افغانستان، سال اول، شماره نهم، [۱۳۳۰ش، ۳۰ دلو])

خدائش حسن و زیبائی داد، چشمان نافذ وی باسرار کائنات دقیق است! تبسم از لبان سرخ و شیرین وی جهید، بازوان توانایش بارهای گران را بآسانی بر میداشت، وی از کوهسار وطن به پشاور کوچیده بود. و سحرگاهان وقت بر میخاست، آستین به بازو می زد، و تا شام در بین خاکستر ایستگاه راه آهن توته های زغال را فراهم میآورد. شامگاهان این دوشیزۀ رعنا به هوتلی که من بودم میآمد، و دسترنج یک روزۀ خود را به ۵ آنه میفروخت.

بعد از چند روز از وجنات وی دانستم که پښتنه است و همزبان من است و هم وطنیم. وی با مستی افغانی و شور جوانی مانند کبک دری میگذشت و به رنج و کار یکروزۀ خود اعتماد داشت.

ازو پرسیدم: از کجائی؟

گفت: از کوهسار شنوار افغانستان.

گفتم: درینجا چه میکنی؟

گفت: ما پونده ایم، درینجا برای رنجبری آمده ایم.

دیدم: برقی در نگاه وی تابید، و اشک چون لؤلوی تر در چشمان فتان وی درخشید، و همیگفت: آنچه داشتم، حکمداران افغانی به یغما بردند ما با دست

خالی ازان کوه باین کوهسار (اشاره بخیبر) شدیم و اکنون درین شهر افتادیم، اینک ما و دسترنج، اینک مائیم و کار و رحمت مستمر! پیراهنش الوان مختلفی داشت، و رقعه برقعه دوخته بود، چادرش رختی بود که نوعیت آن معلوم نمیشد، گاهی بدن نازنینش از توی پارچهای شاریدۀ پیراهن بنظر می آمد.

آتش حسرت در دلم شعله زد، دود اندوه در کنارم پیچید، و بیادم آمد، آن خانمهای مدرن افغانی که در شهر نو کابل، در طول ۲۴ ساعت چندین نوع لباس حریر و مُد آخرین پاریس و امریکا را می پوشند، و از عرق جبین این ملت مظلوم غرق ناز و تنعم اند.

بلی! این دوشیزه شنوار و آن دوشیزه کوچی که هر سال به ملیونها نفر به خاک پاکستان سرازیر می شوند، و دسترنج چندین ماه خود را به دهکده های محقر افغانی خود نقل میدهند، ولی درانجا به تاراج مامورین ظالم و خدانترس افغانی میرود، و به عشرتکدۀ شهر کابل، برای عیش و نوش انتقال داده می شود.

بلی! ملتیکه حق زندگانی ندارد، قومیکه برای راحت دیگران میزیار توده ایکه به فجیع ترین صور استثمار می شود، باید چنین باشد.

ای خدا برهم زن این هنگامۀ بیداد را
سرنگون کن راه و رسم جور و استبداد را
(پریشان)

۲۰ حمل ۱۳۲۹ لاله زار هوتل، پشاور

# ژوندی مړی

[وړمه مجله، د ۱۳۴۴ ل کال ٤، ٥ او ٦مه ګڼه، ٥٨ مخ]

دوی وای[۱]: مړ سو.

زه وام[۲]: ژوندی دئ.

دوی وای: خدای دي وبخښي.

زه وام: «خپل عمل د لاري مل.»

دوی وای: له دې دنیا ناکامه ولاړ.

زه وام: نېکوکاره انسان ناکامي نه لري.

انسان لایموت دئ. انسان نه مري. انسان تل ژوندی وي.

لنډه کامراني، خو اوږده ناکامي.

لنډه ځغاسته، خو اوږده ناسته.

لنډ وصال، خو اوږد ملال.

لنډ راحت، خو اوږد مشقت.

دا ده، زموږ د مړي د ژوند نقشه. دا ده د هغه د ارمانونو او محرومیو په غم لړلې قصه.

---

[۱] وای = د وایي لنډه او لهجوي ډول دئ..

[۲] وام = د وایم لنډ او لهجوي شکل دئ.

دی په ژوند کي: وتراټه سي، وشاړه سي، وشکانځه سي، وغانده سي.

مگر چي مړ سي نو: دده مرگ ژوند سي، لوی انسان سي او حتی مفترس ځناوران او غرضمن انسانان هم وايي: «خدای دې[1] وبخښي.»

عجب! په ژوند: غندلی، شړلی، ترټلی!

اما په مرگ: ستايلی، پیاوړی، نمانځلی!

دا دئ د لويو ميړونو ژوند.

دا دئ د دوی مرگ.

او هم دا ده:

«زموږ د قومي سيرت افسوسناکه او منحوسه څېره.»

۲۷ / اپریل ۱۹۶۰

[1] دې = دي ئې.

# سوځلې شمع

[وړمه مجله، د ۱۳۴٤ ل کال ٤، ۵ او ٦ مه ګڼه، ۵٦ مخ]

کله چي به د کلي په کوټه کي زلمي د عشق او ځوانۍ په خوند سره ټولېدل نو زه به ورته لګېدم، او کوټه به مي ور روښانوله.

کله چي به د واده په شپه، زلمی د خپلي پېغلي او محبوبي سره لومړۍ پلا لیدن کاوه دا به هم زما د رڼا په سپکو وړانګو کي کېدی.

کله چي به دوه مین، تر اوږده بېلتانه وروسته، سره ترخ په ترخ کېدل نو هلته به هم د دوی د عشق مرکه، ما روڼوله.

زه شمع یم. رڼا زما لور ده.

ما پتنګانو ته د سربازۍ درس ورکاوه، مګر په رڼا کي.

ما بوراګانو ته پر ګلو د پرواز نشاط باخښه، هغه هم په رڼا کي.

زما په رڼا کي زده کوونکو علمونه زده کړل او دنیا ئې رڼه کړه.

زه د بډایانو د ساړه زړه حرارت وم.

د بېوزلانو د کوډغلو، سپکه د رڼا پلیته وم.

کوم غریب ناروغه چي د فقر او محرومیت په دنیا کي، وروستنۍ سوګلۍ وهلې د هغه سر ته هم زه د شپې لګېدم.

کوم شاعر چي به د شپې د زړه په وینو، خپل ویرجن داستانونه لیکل هغه

ته هم ما رڼا ورکوله.

خو، لنډې[1] دا چې: زه به د شپې لګېدم او سوځېدم.

ما نورو ته رڼا جوړوله.

کړئ شپه مي روښه کړه او د زړه شومه مي وسوځله.

څله؟ دې له چي نورو ته رڼا ورکم.

مګر، کله چي توره تیاره تېره او شپه سهار کېده، نو زه سوځلې وم.

زما د زړه نم وچ سوی وو.

زما د ژوند مزی هم سوځلی وو.

په جامعه کي هم داسي راڼه عناصر وي، چي پخپله رڼا د انسانانو د دماغو تیارې ور روښوي.

مګر کله چي رڼا راسي، نو دوی پخپله لکه شمع سوځلي وي.

کابل، جمال مېنه ۲۵ حمل ۱۳۴۴

[1] لنډې = لنډه ئې.

# گوځن

[زېری، ۱۳۵۵ش، ۴۳ گڼه]

لاس و پښې ئې کاږه وه، پر لارې تی، خو رېږدېدی، سم نه سوای تلای، کله به یوې خوا ته کوږ سو، کله بلې خوا ته. ناروغي او خوارې او بېوزلي درې غټ مرضونه.

لوږه، د ګېډې له پاره خواړه پیدا کول دې ګوځن ته یو بل اپت وو، چې باید راووزي، او له چا څخه څه وغواړي چې ډوډۍ په رانیسي او نس په موړ کي.

دین وایي: صدقه او زکات ورکئ چې داسې بېوزلي ناروغان په هوسا سي.

اخلاق او عاطفه د زړه سواندۍ لار راښیي.

نوي مفکورې دا راښیي چې: د ټولني په ثروت کې داسې خلک برخې لري او باید ورورسېږي.

زه په دغو چرتونو کې ډوب وم چې د شا له خوا یو غټ او ښکلی موټر راغی کوم غټ بډای پکښې سپور وو او داسې ئې څغلاوه چې تا به ویل له آسمانه راشوه سوی دئ او دا کښته نړۍ په سترګو نه ویني.

ګوځن رېږدېدی رېږدېدی، تی تی، چې ځان له دې بلا څخه چپ کي، تر شا سو، د لوشو په ډک لښتي کې غوزار سو.

خو د بډای موټر بوږ بوږ ځنې تېر سو.

کابل ۶/ ۳/ ۱۳۵۰ ش

# مچه

[زیری، ۱۳۵٦ش، شپږمه گڼه]

سر مي کوز سو، شونډو مي يوه ښکلې رنګينه طلايي پاڼه مچ کړه او خلکو ويل: دا قرآن دئ.

زما په زړه کي له دې مچي سره يو تقديس آلوده د ارادت لېونۍ جذبه وه.

بله ورځ مي د مور لاسونه په احترام مچ کړه او دې هم زه پر تندي مچ کړم، خو د دې مچو په منځ کي د مځکي او آسمان فرق وو. ما د مور لاسونه په درناوي او ميني مچ کړه خو دې زما تندی په مهرباني او شفقت مچ کی.

بله پلا زما کوچني زوی په ناز ناز په خندا و ښکلا راغی. ما په غېږ کي ونيوی او پر سرو سرو باړخوګانو مي په داسي محبت مچ کی چي د دې مچي خوند بېل وو.

ګوره! دغه يوه شونډه په يوه مچه کي څوني[1] ډول ډول خوندونه او مقصدونه لري. خو هغه خوند، هغه مزه، هغه مينه او هغه جذبه چي يو ځلمی ئې د پېغلي په سرو شونډو کي مومي، دا خو ځانله بېله خورا خوږه دنيا ده.

په دې مچه کي د عشق اور بلېږي. دلته مينه او الفت او احترام او تقديس ټوله سره ګډېږي.

---

[1] څوني = څومره.

دا مچه د انسانیت د خوندونو یوه غوټه ده.

دا مچه د انسانیت د بقا او دوام یوه مقدمه ده.

دا مچه ډېري معناوي لري. ډېر خوندونه لري او د دې ټولو نتیجه څه ده؟

د انساني توکم دوام.

# ادبي ترجمي

د هندوستان مشهور فیلسوف او شاعر ټاګور:

# ناز او نیاز

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۲٦ – ۲۷ ګڼه]

ده په ارامي راته وویل چي: پر ما ګراني! یو وار خو دوري راته وګوره!

ما په ډېره تېزي او تریو تندي جواب ورکی: ځا ځا!

مخامخ راته ولاړ وو او زما دواړه لاسه ئې په لاس کي نیولي وه.

ما ورته وویل: ایله که، تېر سه!

اما ده حرکت نه وکی، ولاړ وو. ده خوله زما غوږ ته رانژدې کړه ما ورته کاته او ویل مي: دا څوني[1] د شرم او ننګ خبره ده؟

اما ده بیا حرکت و نه کی.

شونډي ئې باړخو ته رانژدې کړې، زه وربېږدېدلم، ویل مي: جرئت دي تر اندازه واوښت، بیا ئې یو ګل په وېښتانو کي راکښېښود.

ما ورته وویل: بې فایدې.

اما دی ولاړ وو، څو زموږ له کلي وووت او ولاړ.

زه اکثر ژاړم، او له زړه څخه پوښتم چي آیا دی بیا ولي نه دئ راغلی؟

---

[1] څوني = څومره.

د الفردموسه اثر
(۱۸۱۰ - ۱۸۵۷ع)

# سوې کُډغاله

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۲٦ - ۲۷ ګڼه]

د لمر لوېدو پر وخت یو بېچاره دهقان له پاره د اوسایۍ له ستومانۍ د ورځې و خپلي کوډغلي ته راتی. کې[1] کتل هغه لکه دده بخت داسي ورانه ده. لومړی ئې خیال وو چي دا وحشتناکه واقعه په خوب کي ویني اما وروسته نو شکمن سو سر ئې آسمان ته لوړ کی چي حقیقت د دې آسفناکه واقعې د آسمان له فرشتو څخه واروي.

په هغه تیاره شپه چي کوم وخت برېښنا هم ځلېدله هغه بېوزلي دهقان په خپله کوډله پسې ګرزېدی، و هري خوا ته ئې منډې وهلې او دا ئې په یاد ورتله چي هره شپه به مهرباني ماندینې دده پر دغه وخت په دروازه کي د کوډغلي دده انتظار کاوه. اما هر ځونه[2] چي وګرزېدی، پلټنه ئې وکړه، د هغه خپل ټاټوبي نخشه ئې له یوه موټه خاوري او ایرو په هغه وحشت افزا صحرا کي نه وموندله.

لڅ او برمنډ زامن دده چي له بېري تر بوټو لاندي پټ او له سوړتیا څخه د هوا رپېږدېدل چي خپل بېنوا پلار ئې ولید راوځغاسته، دا حکایت ئې وکی چي: برېښنا او پېلبو څنګه د دوی کډغاله وسوه، څنګه ئې بدبخته مور په دلخراشو

---

[1] کې = که ئې.
[2] ځونه = ځومره، ځونده، د کندهار لهجه.

نارو او غلبلو کې تر خاورو ایرو لاندې مړه سوه او اوس آرام او ساکته تر تورو خاورو لاندې پرته ده.

دې بېوزلې دهقان چې ولیدل چې بدبختۍ څنګره[1] پر ده هجوم راوړی دئ؟ نو ئې خپل کوچنې زامن او د سترګو تور لځ واړه په غېږ کې ونیول او په سینه پورې ئې ونښلول او بې له نن ورځې لوړې او شومتیا او د سبا مرګ بل څه نه سوه ورپاته.

د غم خپړې داسې تر ستونې ونیوی چې سوړ آه ئې هم له خوږمن زړه څخه نه سوای راوتلای، هک پک له هغه ځای څخه تی[2]، هو تی! آسمان ته ئې کتل چې څنګره حاصل د رنځ او زیار د یوه عمر دده وسو، دود سوه، ځې له تورې اوریځې سره د آسمان ګډېږي.

تی، څې[3] نه ویل، ولې چې بې سده وو، بدبختۍ هوښ او پوهه دده وړې وه.

---

[1] څنګره = څه رنګه.

[2] تی = تلی.

[3] څې = څه ئې.

د هند فیلسوف او شاعر ټاګور:

# عاشقانه آمال پر وخت د وداع

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۲۸مه ګڼه]

مسافره! نو ته راځخه ځې؟ اوس لا شپه او پر نغښت جهان تیاره ده، په کوټو کي څراغونه هم تر اوسه لګېږي لا نه دئ سهار. ګلان لا غوټۍ دي د ځوانانو سترګي تر اوسه هم روڼې دي.

آیا دا نو ستا د وداع وخت دئ؟ مسافره نو ته خامخا راځخه ځې؟

هوکې! زما لاس تړلی دئ تا نه سم راګرزولای.

آه دا خو په رشتیا دروازه خلاصه او آس ولاړ دئ، نو یو شی که ستا د تګ مانع وي هغه به ...

- مسافر: ته پر ما ګرانه یې، ستا په وداع کي زه یوازي د محبت، هو د محبت اوښکي توومه. څه وکم، مجبور یم چي ځمه به.

دا د محبت بلي لمبې ستا په سینه کي له کومي خوا سوی کوي؟

دا حرارت ستا په وینو کي له کومي خوا ګډ سو؟

- نه ده رامعلومه!

د شینکي آسمان ستورو ته په خپلو سحرناکو چشمکانو داسي مسخر کړی یې او د توري شپې سره تړلی راز ستا په زړه کي داسي پټ دئ چي اوس په دې داسي تیاره زما څخه دباندي ځې. که فرضاً ستا دا د طرب بزم او خوږ

مجلس نه وي خوښ، زړه دي غواړي چي آرام او استراحت وکې[۱]، نو به زه دا مجلس وشلومه، ته پرېوزه له خواړه خوبه څخه خوند واخله. تر هغو چي سپينه سپوږمۍ راخېژي زه به ستا په ليدو مړه سم او ستا په ديدار کي به محوه سم.

اما افسوس ... مسافره! د بې قرارۍ اور ستا په زړه کي بلېږي او دا زما ټول عاشقانه تمنيات چي له تا څخه ئې لرم ايرې کوي.

نو آيا ته خامخا ځې؟ پر ما ګران مسافره، آيا ته نو رشتيا ځې؟ په دې نيمه شپه کي څنګره[۲] عزم د تګ پر تا غالب سوی دئ. څه وکم، خو ځې.

---

[۱] وکې = وکړې.
[۲] څنګره = څرنګه.

د ټاګور اثر:

# د پسرلي ګلان

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۴۲مه ګڼه]

مور په وارو وارو خدای په اماني سره کړې ده. اما دا دئ اوس بیرته راځو.

اوه، ته څوک یې؟

زه چمپا یم.

اما ته څوک یې؟

زه ګلاب یم.

دا بل څوک دئ؟

زه د ام ګل یم، چي د سپین رود پر غاړو پروت یم، خاندم، مسېږم، ځلېږم، چي وخت مي تېر سو، رخصتېږم، اما بیرته په پسرلي غوړېږم.

اما ته څوک یې؟

زه چنبیلی یم.

ته څوک یې؟

زه خو بنفشه یم، اما دا بل کوم یو دئ؟

مور نوي زرغونه پاڼي د وني یو!

# د مینې فلسفه

[طلوع افغان، لسم کال (۱۳۱۱ش)، ۴۲مه ګڼه]

پر ما ګراني ولې بهېږې، رودو ته تويېږې، د آسمان بادونه هم چلېږي او يو له بله لاس تر غاړه دي.

دا ټوله نخښه د مينې او محبت ده، په دنيا کي هيڅوک يکړ او يوازي نه دئ. طبيعي نواميس هم (د خدای په قدرت) يووالی د موجوداتو غواړي.

نو ولې او پر څه باندي (اې پر ما ګراني!) زما او ستا روح متحد نه سي؟

وګوره وګوره! د دې لويو غرو سرونه ښنګره آسمان مچوي؟

وګوره! طلايي شعاع د لمر، ښنګره سپين انوار د سپوږمۍ او د سين څپې په غېږ کي نيسي؟

نو زه هم څو تا مچ نه کم او ته ما، تر هغو دا عشق هيڅ قدر او قيمت نه لري.

د مغرب د ادبیاتو یوه نمونه:

الفرد موسه، د فرانسې!

# ما یادوه!

[طلوع افغان، یوولسم کال (۱۳۱۲ش)، لومړی ګڼه، ۲۵م مخ]

هو، هر کله ما یادوه! سهار چي آسماني پېغله (لمر) له بالښته د اُفق سر راپورته او د وړانګو زرین وېښتان سره پرېشان کي، ما یاد که.

ماښام چي توره تیاره، روڼه ستوري وبرېښوي ما در په یاد که! هغه وخت چي خوږې او روح بخشي بدلي، ستا زړه له ښادۍ او نشاطه ډك کي، یا هغه وخت چي ته په خواږه خوب بیدېږې یا هغه وخت چي د ولې پر غاړه ناست او لمر خپل روښانه مخ له دنیا څخه پټوي، نو ته زما نوی او آرام ږغ د ځنګله او ګڼو ونو له منځه واروه، چي وایم: «ما یادوه!»

ما یادوه! که قضا او قدر زموږ تر منځ ابدي بېلتون واچوي، که حوادث ما ورك او زما امیدونه محوه کي، اما ته هغه زړه چي ستا له میني څخه ډك دئ در په یاد که!

که ژوندی پاته سوم، ستا په یوه پېغام خوشحالېږم، او دغه مي بس دي چي کله کله ستا په پاك زړه کي در وګرزم.

اما که د دې خوږمن او د ویر له ژوندونه فارغ او تر خاورو لاندي سوم، نو هغه وخت چي خودرو، غوټۍ زما له خاورو وغوړېده، نسیم او لمر ته ئې ومسل، ما در په یاد که!

تر مرگ وروسته به هم پر خپل عهد او مينه ولاړ يم او روح به مي ستا خوا ته را الوزي، ستا مينه او محبت به په تورو خاورو کي زما ښه مونس او د لومړي ماښام څراغ وي.

که لږ څه را نژدې او غوږ ونيسې، يو نوی جانکاه ږغ به له دننه څخه د تورو خاورو واروې، چي درته وايي به: «هر کله ما يادوه!»

د بلبل هند مسز سروجني نائيدو:

# يوه نغمه

[طلوع افغان، يوولسم کال (۱۳۱۲ش)، لومړی ګڼه، ۲٦م مخ]

زما مَينه!

ستا سپين او نوراني روڼ مخ ته د هنداري څه حاجت دئ؟ و سيل ته د لمر د جمال ستا، زما سترګي حاضري دي، هو! له پاره د انعکاس د ښايست، روښه سطح د آرزو او اميدونو سته.

مَينه! زه د نل دلکش ږغ څه کوم؟ ته و نامه او شهرت او عزت ته څه اړ يې؟ ستا د حسن او جمال د ستايلو بدلي به زه په خپل نري او ربړدېدلي آواز وايم، او ټول کاينات به په داسي ترانو او زړه سولوونکو نغمو له سده وباسم.

خوږ مينه! ستا و سپيني پستې پښې ته د وربښمو پاسته او رنګين فرشونه څه په کار دي؟ هوکې! و سترو پښو ته دي فرش او پسته غاليچه او زهير روح ته دي آرامګاه او خېمه، فقط زما حزين او خوږمن زړه دئ و بس.

نو راسه! پکښي ځمله! آرام وکه! اې نيازمن او ګران مينه! د ژوندون پر انقلاباتو تأسف مه کوه. د نورو اميدونو غم مه خوره! مه ببرېږه!

زما حيات، هوکې زما ټوله ژوندون به ستا د عمري تقصيراتو په کفارت کي قربان سي. آه! هو دا يو ابدي کفارت دئ، ستا له پاره، اې پر ما ګران او خوږ مَينه، زهير مه اوسه!

شاعر و فیلسوف هند، تاگور!

# دل خونین

[طلوع افغان، یوولسم کال (۱۳۱۲ش)، لومړی گڼه، ۲٦ مخ]

من ترا می شناسم. من با تو علاقه، الفت و داد دارم، بوتهٔ دل من از نفایس محبت و عشق پاك ات سرشار است. این آرزوهای پاك و آمال برومند عشق خالص تو، که در اعماق احساسات و افکارم ریشه دوانیده است، قطعاً تو را مجبور میکند، که مرا دوست داشته باشی. نی! نی! این را تنها من مدعی نیستم، این یك اصول مسلمه ایست که دنیا با آن خاضع است.

گروهی از هوا پرستان و بندگان شهوت میخواهند که در شاخسار دنیا، مرغان زیبا، و شیرین قواره را باین جور سخنان فریبائی صید کنند.

بشنو بشنو! اینها حقیقتی ندارند، همه بخطا میروند.

ولی عشق و علاقهٔ من با تو صمیمی است، و از شائبه هر گونه غرض مبرا است، بلی من راست میگویم، عشق و محبت تو در عمیق ترین احساسات من جا گرفته و دل خونین مرا آنقدر داغدار ساخته که هیچگاه مداوا نمیشود، محبت من با تو بمنزلهٔ محبت عندلیب است با گل. چطور؟ دوست من آیا باور داری، راست میگویم؟

اینك دل مرا از جوف سینه برکش، و ببین! ور نه سخنان اندوهناك من تسلیم شدنی نیست! خیر! خیر!

بمان! و مبین! منظرهٔ جانگذار (دل خونین شیدا) را تاب و توانی درخوراست که تو ای دلبر نازنین من نمی توانی دید!

د واحد قریشي اثر:

# پلټنه

[طلوع افغان، دوولسم کال (۱۳۱۳ش)، څلرمه ګڼه]

۱. خلکو وویل هغه خو مړه سوه، شاید!
ما د مرګ توري پردې، پنډې پردې په خپلو نازکو ګوتو څیري کړې.

***

۲. باران اورېده، په توره شپه کي، تیارې خپل وزرونه غوړولي وه، د مرګ په رنګ.
زه د لېونو په شان و هدیرې ته ولاړم، لاکن آه!
دروازه ئې تړلې وه، زما د سکوت په رنګ.

***

۳. پوه سه زه و تا ته راځم، په آسمانو کي!
د محبت د شراب په هغه روښانه ځای کي.
د عشق او شباب په هغه ودانۍ کي.
چي هلته زما خخه ناراضه سوې، خفه سوې، پټه سوې.
میري! خاوري مي په خوله، که مي ته هلته هم پیدا نه کړې.

د هندوستان لوی فیلسوف او شاعر رابندرناتهـ ټاګور:

# خپلواکي

[طلوع افغان، دیارلسم کال، (۱۳۱۴ش)، ۲۲مه ګڼه]

هلته چې زړه نه بېرېږي او سر لوړېږي.

هلته چې علم آزاد دئ.

هلته چې د کور په څلورو دېوالو کې انسان بندي نه وي.

هلته چې زیار و بشپړوالي ته رسېږي.

هلته چې د عقل روڼه چینه، د فضولو دودو په شګلنه لار کې نه ورکېږي.

هلته چې نفس د پراخ تخیل و خوا ته تلای سي.

اې زما باداره!

د خپلواکۍ په داسې فردوس کې زما وطن ویښ کې.

د ټاګور اثر:

# دعا

[طلوع افغان، دیارلسم کال، (۱۳۱۴ش)، ۲۲مه ګڼه]

اې خاونده! ستا څخه دا غواړم:

له زړه څخه مي د افلاس انډي[1] لیري کې او ما ته واک راکې چي په خپل ناورین او ښادي وپوهېږم.

ما ته واک راکې چي غریب له نظره و نه باسم او خپل زنګون و پردي ګستاخ قوت ته کوږ نه کم.

ما ته واک راکې چي خپل ځان له روزمره بدیو څخه وساتم.

او ما ته قوت راکې چي خپل قوت د خپلي میني سره ستا رضا ته وسپارم.

(عوض نغمه)

---

[1] انډی: بار، جمع ئې انډي ده.

دوکتور ټاګور د هند لوی، فیلسوف او ادیب:

# ستا خوږې بدلي

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، لومړی ګڼه، ۱۵ مخ]

واه، ستا بدلي څنګه ښې دي. زه حيران ئې اروم په ډېر حيرت.

ستا د نغمو په روڼا دنيا ځلانه ده. ستا د رباب ترنګ په آسمانو کي آزاد الوزي. ستا د نغمو سُر په خپل سرشار لطف کي رېږدي، ځي او راځي.

زه غواړم ستا د بدلو سُر واخلم، ستا نغمې وسروم، مګر کله؟

هغه چي زه لږ څه ترنګولای يا سُرولای سم، پر خوله نه راځي. ږغ ئې نه خېژي، په وارو وارو ناکام سوی يم. په خپل زړه کي سره خوړل کېږم، ژاړم.

آه، تا له څلورو خواوو د نغمو په جال کي اچولی او په حيرت کي دي ډوب کړی يم.

ستیفن کرائن د امریکا مشهور شاعر، له "المقتطف" د مصر:

# د حکمت کتاب

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، لومړی گڼه، ٤٥ مخ]

یو سپین ږیری ښاغلی سړی مي ولیدی چي د «حکمت کتاب» ئې په لاس کي وو.

ورته ومي ویل: ښاغلې! دا کتاب ما ته راکه چي وې وایم.

راته وې ویل: «هلکه کوچنیه!»

ما دده خبره ورپرې کړه ومي ویل: سپین ږیرې! زه هلک او کوچنی نه یم. داسي ډېر کتابونه مي لوستي دي.

ښاغلي سپین ږیري کتاب راته وغوړاوه ... اما زه، ړوند وم.

د دوکتور راس مسعود «د ژاپان د طرز تعلیم» له کتابه:

## د ژاپان ملي ترانه

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، لومړۍ ګڼه، ۷۵ مخ]

که مځکه وچوي، ټوکر ټوکر سي.
او آسمان ټُکي ټُکي[۱] سي.
څه پروا لري؟
د وطن دلاورو مېړو! ټوله وپوهېږئ!
چي یو شی قائم دئ او پاتېږي او هیڅ خطر و ده ته نه ورپېښېږي.
دی تل تر تله ښاغلی او مقدس دئ.
څه شي؟
«د ژاپان د شاهنشاهی لوړ او عظیم الشان اقلیم!»

---

[۱] ټُکي ټُکي = ذره ذره، ټوټه ټوټه.

د ماري والانډره د يوه شعر ترجمه:

# عسکر بيرغ څنګه ساتي؟

[طلوع افغان، څورلسم کال، (۱۳۱۵ش)، نهمه ګڼه]

د مني سوړ باد راالوزي، هوا خُپ[۱] ده. د لمر ټکی لکه ناروغه پېغله په ژړ مخ تر اورو لاندي ده، د جګړې پر ميدان مړي داسي پراته دي لکه کوچنی وني چي له بېخه راختلي وي.

مازديګر د لمر لوېدو پر وخت يوه توره بسی[۲] ښکاري، او په دې سره ميدان کي ګرزي. دا يوه زړه خواشينې مور ده چي د زوی د مړيني خبر ئې اروېدلی دئ او اوس ئې دلته په نعش پسې ګرزي. دا ښځه تر تور پنډ پُړوني لاندي رېږدي، په الوتې بڼه ځي، په مړو کي خېژي او لوېږي، څه کوي؟

خواشينې مور، د يوې ډبري اړخ ته خپل زوی په وينو لژند او ککړ وليدی، پروت وو، يو څيري په وينو ککک بيرغ ئې داسي ټينګ په غېږ کي نيولی وو چي تا به ويل ده بری موندلی دئ او د خپل وطن د افتخار نخښه ئې ټينګه په غېږ کي ساتلې ده.

مور ئې سړه ساه وکښه، د ګلالي ځوانيمرګ له لاسه ئې هغه بيرغ راواخيست.

---

[۱] خُپ: ګرد لړونګی.

[۲] بسی = شبهه، توره بلا. مګر دلته مراد هغه توره زاره ترکې ښځه ده چي په ميدان کي ګرزي.

هر څه چې وکړه له دغه ځای ئې زړه نه تی[۱]، کښېنسته، یو څو اوښکي ئې توی کړې، مړ زوی ئې پر تندي مچ کی او لکه دا چي د یوه مقدس شي ساتندویه وه رارهي سوه، تر پړوني لاندي د دې ښځي یو امانت دئ چي دا ئې خورا ښه ساتي. لمر ولوېدی، دنیا تیاره سوه، دا ښځه ژر ژر ځي، ساه وهي، په تلوار ځغلي.

د لښکر منځ ته راغله، اورونه بل دي، او لښکر ډله ډله پر راټول سوی دئ، سپین سرې په تور پړوني کي راغله د لښکر مشر تې[۲] وویل:

غنډمشره! واخله دا ستا امانت دئ، چي ما له خپل مړه زوی څخه درته راوړی دئ. واخله!

په رېږدولي لاس هغه (بیرغ) و غنډمشر ته ورسپاري.

د لښکر مشران پر دې خواشیني مور راچاپېر سوه، او هر یوه و دې ته د زړه ډاډ او پاتا ورکوله.

کې[۳] کاته سپین سرې مور غوزاره سوه، ورپېردېدله، ژر مړه سوه او خپل څښتن تې اروا وسپاره.

اما هغه مقدس امانت ئې ساتلی او خپل خاوند تې ورسپارلی وو.

---

[۱] تی = تلی.
[۲] تې = ته ئې.
[۳] کې = که ئې.

لامارتین:

# اوښکي

[کابل مجله، ۱۳۱۹ لمریز کال، ۱۱ مه گڼه، ۱۵ مخ]

راتوی سئ! اې تودو اوښکو راتوی سئ، یو گړی مه درېږئ، ژر ژر راتوی سئ!

یو وخت ستاسي ځای له ښورماښوره ډك زړه وو او له هیجانه ډك ټټر وو.

خو افسوس چي اوس پر ژیړه ښڼه او زمول مخ راتوییږی. تاسي داسي یاست لکه د باران ځاځکي چي پر پرښو رالوېږي او شاوخوا خپرېږي، نه پر آسمان لمر دوی تبخیر کولای سي او نه د هوا وږم دوی وچوي.

ښادمن خلك، د خوږمنو او خوږو زړونو نارې غلبلې نه اوري. پر دوی هغه اوښکي هیڅ اغېزه نه کوي، چي د یوه بېوزلي پر باړخو تودې را اوري.

افسوس د بېوزلو د ویر او ښادمنو د خوښۍ تر منځ ډېر واټن دئ.

مادام دیبور فالمور فرانسوی شاعره:

# مه لیکه!

[کابل مجله، ۱۳۲۰ش، دوهمه گڼه، ۱۸ مخ]

ما ته څه مه لیکه! زه داسي په ویر لړلې یم چي مرگ غواړم.
د پسرلي ښکلي وختونه ما ته داسي دي لکه مړه مینه.
ځکه چي تا ته نه سم رسېدلای، نو اوس قرار ناست یم.
څوک چي زما په زړه گوتي وهي، لکه زما پر قبر چي خېژي.
مه لیکه!
مه لیکه! موږ خپل ځانونه ښه پېژنو چي مرو.
نو بې له خدایه له بل چا څخه څه مه غواړه، ته پر ما گران یې.
زه هم اروم، چي پر تا گرانه یم.
مگر څه وکم؟ دا خبري زه له آسمانه اروم، خو هلته نه سوای ختلای.
مه لیکه!
مه لیکه! زه پر تا بېرېږم، زه له خپله یاده بېرېږم، چي ستا هغه ږغ ساتي چي تا به کله ما ته ویل: اوبه هغه چا ته مه ښیه چي نه ئې سي چښلای.
زما ذاکره لکه ستا خوږ لیک داسي دئ، نو: مه لیکه!
مه لیکه! داسي خوږې خبري مه راته لیکه چي زه ئې ویلای نه سم.
داسي راته ښکاري لکه ستا ږغ چي ئې زما پر زړه راتووي.

چي اروم ئې، زه چي وايم ستا خوږه مسا هم وينم.
او زما پر زړه لکه نقش داسي کښېني.
مه ليکه!

ټاګور:

# مور

[کابل مجله، ۱۳۲۰ش، دوهمه ګڼه، ۲۱ مخ]

زما خپله مور یاد نه ده.

مګر هر کله چي زه لوبي کوم، نو مي کله کله یو سپک ږغ تر غوږ سي.

دا هغه ږغ دئ چي د بیدېدو پر وخت به ما ته مور للو ویله.

دې ږغ به زه د لوبو په غېږ کي پارولم.

خو زه پوهېږم، که څه هم زما مور له دې نړۍ څخه تللې ده، مګر زما د یاد له پاره ئې خپله سندره پرېښې ده.

***

زما خپله مور په یاد نه ده.

مګر چي د پسرلي په رنګ ښونه ښکلي سي او له هري خوا ګلان ښکارېږي.

نو ما ته په پرخه نیولو ګلانو کي د مور د غېږي وږمه راځي.

زما خپله مور را په يادېږي چي له ښه به ئې په ډکه کوډانه[1] کي ګلان راوړل، چي پر خپله مسئله ئې کښېږدي او لمونځ وکي.

***

---

[1] کوډانه = ټوکرۍ، له خاشو جوړ سوی لوښی.

زما خپله مور په یاد نه ده.

مګر کله چي زه پر خپل بستر وغځېږم او د کوټې تر پرانتلي مکڼ[1] زما سترګي پر آسمان ولوېږي.

نو ما ته داسي ښکاره کېږي چي د ستورو په ځلېدو کي زما مور له لوړې راکښته کېږي او راته خاندي وايي: «پر ما ګرانه! زه ستا سره نه یم، مګر اروا مي تر اوسه ستا سره ده.»

***

[1] مکڼ = کړکی، کلکین.

د کلیر اثر:

# د وطن یاد

[انیس، ۱۳۲۰ش، ۴۷ گڼه]

آه هغه سکون او هوسایي چي تل ئې شاعر غواړي.
هغه هوساګلوي چي زوی ئې د خپلي مور په غېږ کي مومي.
الوتونکی ئې د مور تر وزر لاندي او نور څاروي ئې په خواږه خوب کي.
آه زه به کله بیا هغسي هوساینه ومومم او چیري؟
د وطن په شنو چمنو او کښتو او دښتو کي چي هلته تل مینه اوسي.
زما هغه شنیلي خوښ دي چي د ډکو ولو او ډنډو پر غاړو وي.
داسي شنیلي د بڼ تر ګلانو لا هم ښکلي دي، ځکه چي آزاد وي.
زه له خپلواکۍ سره مینه لرم او له آزادو ونو سره.
هغه مرغان مي خوښ دي چي پر آزادو غرو الوزي.
هغه ګورمونه چي پر شنو چمنو څړ کوي.
هغه پسونه چي پر زرغونو دښتو د غرو په لمنو کي ګرزي.
دا ولي؟ له دې لامله چي دوی آزاد دي.
په کوچنیواله کي زما له آزادي فضا سره مینه وه.
ما به تل د فطرت هغه آزاد ږغونه اورېدل چي آزادي به ئې ستایله.
په وړکتوب کي به زه ګرزېدم. په ځنګلو کي، په دښتو کي، د رودو پر غاړه،

د ولو پر غاړه.

د دې وختو زحمت هم خوښي وه، ژړا هم خوښي وه.

آه ... هغه هوسا خوب او د شپې هغه خواږه تصورات او خوبونه چې تر وېښې ئې لا ښه خوند درلود.

د بدلیر فرانسوي له آثارو څخه:

# د وینو چینه

[کابل مجله، د ۱۳۲۰ش کال، نهمه ګڼه، ۱۰ مخ]

وینې مې هر ګړی بهیږي.
لکه چینه چې دارې وهي.
زه ئې د بهېدو بُږکې اروم.
خو، نه پوهېږم چې ټپ مې چیرې دئ؟

***

د کلي او کور پر شاوخوا مې وینې تویېږي د مځکې ګټې او ډبرې سرې کوي.

د وګړو جوش او خروش ټوله دلته سره ټولېږي او څو چې وي ... نړۍ سره کوي.

***

کله کله وغواړم، چې د ځان غم الیش کړم او په بې سدوونکو شیانو یو ګړی ویر له ځانه لیرې کم، مګر هغه خو مې کاته راځیر کي، او اروېده مې ګړندي سي.

***

مینه داسې ده لکه یو خوب!

خو، ما ته د ستنو ډکه نالي ده.

دا د دې له پاره اواره سوې ده چي د لويو زړو خاوندان د بېوزلو په وينو اوبه کي.

(له عربي څخه په لږ تغير ترجمه سو)

شيلي:

# چې ډېوه مړه سي

[کابل مجله، د ۱۳۲۰ش کال، نهمه گڼه، ۱۰ مخ]

چې ډېوه مړه سي، رڼا په تورو خاورو ولړله سي، چې اوريځې ولاړې سي، د شنې زرغونې[۱] ښايست ورك سي، چې سرينده ماته سي، نغمې هېرې سي.

***

موسيقي او ښايست د ډېوې او سريندې تر ورکېدو وروسته نه پاتېږي.
چې اروا پټه خوله وي، پر زړه هم خوږې بدلې نه راځي.
بلکې ويرجنې نارې ځنې خيژي، لکه د باد بُرکې په ورانه کوټه کې.
يا لکه د درياب د څپو ږغ چې پردېسان د مرگ په غېږ ورکوي.

***

مينه د ځان له پاره ضعيف زړه خوښوي، له غښتلو زړو څخه وزي.
اې مينې! تا ولې د ځان له پاره ضعيف زړه ټاټوبی غوره کړی دئ.

***

د بېوزلو زړونه داسې ښوروې لکه صرصر چې بڼې په فضا کې الوزوي.
لکه لمر چې د ژمي په اسمان کې سوړ وي، يا لکه په سړو سېليو کې چې پاڼې رالوېږي، ته هم پر زړو دغسې حکمراني کوې.

(آزاده ترجمه)

---

[۱] قوس قزح.

جارج ایل بینکس
(۱۸۲۱ - ۱۸۸۱ع)

## د ژوندانه مقصد

[کابل مجله، ۱۳۲۲ش، پنځمه گڼه، ۲۴ مخ]

زه د هغه له پاره ژوندون کوم چې زړونه ئې له رشتیا او میني او الفته ډک دي.

زه ژوند کوم ځکه چې آسمان له پاسه راته خاندي او زما اروا ئې د مسا انتظار کړي. د نورو انسانانو سره اړیکی ما ژوندی ساتي او د دوی حق مي پر اوږو بار دئ.

زما د هیلو وړانگي او د ښېگڼي پلوشې راته برېښي او زما په ژوندانه کي کومک راسره کوي.

***

زه ژوندی یم چې د هغو خلکو قصې واورم چې زما د ژوندانه له پاره دوی مرگ نه خوښاوه.

د دوی ملگري وه چې ما ته ئې لوړتیا او پرتم راوباخښه او چې ما د دوی پر پل پل کښېښو نو ئې بریمن کړم.

په دوی کي ژبور سړي وه، پوهان وه، پر هیواد مین وه، شهیدان وه.

دوی هغه څوک وه چې رڼې کارنامې ئې تاریخ ښکلی کوي او د زمانې شهکارونه هم د دوی له لاسه راوتلي دي.

زه ژوندی یم چي د شیانو یو له بله ربط او نسبت څرګند کړم، کوم شیان چي د ښښتن قدرت ښکاره کوي. زه پوهېږم چي د فطرت او زما د زړه تر منځ ټینګي او کلکي مراندي سته.

له ویر او ناورینه هم خوند اخلم، له خیالي ونو څخه خوږې مېوې ټولوم، دغه د یقین برکت دئ چي زه ئې پوه کړم حکمت مي وموند.

زه ژوندی یم، چي هغه زمانه ووینم چي پوهان ئې اوس احوال راته بیانوي، هغه وخت به د انسان ژوندون د پوهني تر سیوري لاندي خوږ وي، په مال او زرو به سړی نه خوښېږي.

د انسانانو په بزم کي به جذبه او یو له بله مینه ومیندله سي، د الفت په رڼا به تیاره نړۍ روښه سي، بیا به د جنت مثال ښکاره سي.

***

زه ژوندی یم هغه چا له چي زما سره مینه لري هغه چا له چي ما له حق راکوي، هغه اسمان له چي ما ته خاندي، هغه چا له چي زما ملګري کړي او له باطله سره جګړه کوي.

هو! زه مستقبل له ژوندی یم، چي یو ښه کار وکاندم.

# د شيلي جل

[کابل مجله، ۱۳۲۲ش، شپږمه گڼه، ۲۸ مخ]

[د انگريزي ادب يوه خورا مشهوره قصيده چي په دنيا کي په خوږوالي او خوندوري منله سوې ده، د معروف شاعر شيلي هغه قصيده ده چي د عمر پر (۲۸) کال ئې په ايټاليا کي وويله. دده ماندينه وايي: «چي شيلي د دوبي په يوه ورځ په ځنگله کي گرځېدی، د جل خوږ بږغ ئې واروېد او دغه قصيده ئې پر زړه راغله» اوس هغه شعر په پښتو د کابل ويونکو ته[1] وړاندي کېږي. (حبيبي)]

---

ستړی مه سې! اې ښادمن روحه!

روغه اوسې، اې هغي مرغۍ چي پر مځکه نه گرځې او د آسمانو له لوړو طبقو څخه د سوچه فن رڼې چينې ستا پر زړه راتويېږي او پکښې څرخې.

له مځکي څخه وبهېږه، هسکه ولاړه سه، خورا لوړه لکه سور اوره او د صافي هوا په لوړو کي خپل وزرونه ورپوه.

څرخه او لوړېږه، لوړېږه او څرخه!

لمر چي د اورو په درياب کي ډوب دئ، ته ئې سپينو وړانگو ته والوزه او

---

[1] مراد ئې کابل مجله ده.

پکښې ولامبه.

اې مرغۍ! که څه هم ته زموږ له سترګو ليري يې خو بيا هم ستا د خوښۍ او ښادۍ سندري اروم.

هغه وقت چي شپه د اوريځي کالي له ځانه وکاږي او د سپوږمۍ سرې وړانګي راولوېږي، ستا په ږغ مځکه او هوا ډکېږي او کاينات مستوي اما ته، موږ دي نه پېژنو چي څه شي تا ته ورته دئ؟

د اوبو څاڅکي چي اوريځي ئې راتويوي، موږ داسي نه خوښوي لکه دغه د سندرو څاڅکي چي ستا له خوا راباندي څاڅي.

ته داسي يې لکه هغه شاعر چي د فکر په رڼا کي د ابديت او خلود سندري ږغوي، څو چي عالم خبر کي او خپلو هيلو ته نژدې سي او د بېرو له ځايو څخه ووزي.

يا داسي يې: لکه شهزادګۍ چي په خپله تېنګه ماڼۍ کي کله کله له ځانه يو ګړۍ وخت تروښوي او په خپلو خوږو سندرو چي په بڼ کي شاوخوا ځي، د ميني مرکې تودوي. يا داسي يې: لکه روڼ اوراورکۍ چي په لنده مځکه کي خپل سپين رنګ په خاموشي او پټه له هغو ګلانو او بوټو څخه څرګندوي چي دی ئې پټ کړی وي.

يا داسي يې: لکه ګل چي په زرغونو پاڼو کي پټ وي او باد ئې کله کله ښکاره کوي او په نورو ئې ويني.

د پسرلي د اورو څاڅکي چي پر زرغونو شنيلو څاڅي ږغ ئې ښه خوند کوي، مګر ستا سندري بل راز دي. ما ته ووايه! اې خياله يا اې چوغکي چي ستا فکرونه څوني لوړ دي؟ ستا ژبه د ميني تر ژبي لوړه او ښه ده.

که د سندروالو سندري او د بري بدلي ستا له سندرو سره پر څنګ کښېږدو

نو به هغه خوشي ناريې سوريې وي، ته د خپل سعادت اوبه له کومي چينې څخه چښې؟ له کښتو څخه که له څپو څخه؟ له غرو څخه که له هوا او که له دښتو څخه؟

ستا سوچه او ژوره خوښي هيڅکله نه لړيږي. د وير بسي هيڅکله تا ته نه نژدې کيږي. ته مينه کړې، خو د ويرمني ميني تريختوب دي نه دئ ليدلی، ته په ويښه او خوب کي د مرگ فکر کوې او ډېر نور لوړ او رښتيني شيان چي کله ئې موږ په خوب وينو ليدلای سې، که نه وي په دې بلوري جو کي به څنگه څرخېدلای سوای؟

اما موږ دمخه گورو، تر شا گورو، د هغه پټ او گران شي فکر مو ويلوي، او خوښي او ښادي مو په وير او ناورين را اليشوي.

که رخي او لويي پريږدو نو به زموږ تر ټولو خوږه سندره هغه وي چي له خورا ويرجن فکره راوتلې وي. که موږ داسي پيدا سوي وای چي يو څاڅکی اوښکي به نه تووو، نو به مو کورټ ستا د خوښي د نژدېوالي لار هم نه وای ميندلای.

ستا فن يو شاعر ته تر خوږو سندرو زيات دئ او تر ټولو هغو خزانو ورته ښه دئ چي د کتابو په منځو کي سته.

دغه خوښي چي ستا په زړه کي ده، نيمی ئې ما ته راوښنده، نو به زما له شونډو څخه هم دغسي سندري راووزي او وگړي به ئې اروي، لکه چي اوس ئې زه اروم.

د انگلیسي شاعر جوزف کیمپ بیل، ۱۸۸۱ع

## زړه ښځه

[کابل مجله، ۱۳۲۲ش، دوولسمه ګڼه، ۱۸ مخ]

لکه سپین قندیل چي په مقدس ځای کي ځړېږي.
د یوه زاړه مخ ښایست هم داسي دئ.
***
لکه د ژمي لمر چي سرې وړانګې رااچوي.
یوه ښځه هم په زوړتیا کي دغسي وي.
***
له دې ځخه د بدن سېک وزي.
مګر فکر ئې د پولاد په څېر پخېږي او کلکېږي.
لکه اوبه چي تر ژرندي تېري سي.

الفرد دوموسه:

# (نینون) میني ته

[کابل مجله، ۱۳۲۳ لمریز کال، ۳مه گڼه، ۱٤ مخ]

وګوره ... ما ته څه وایي، اې د تورو وېښتو او زرځیو سترګو خاوندي؟ چي زه ستا په مینه کي اریان سوم. ته هم پوهېږې چي مینه د ویرونو چینه ده او کوربټ کمښت نه لري. تا ئې پخپله هم د ویر غوړپ کړی دئ خو سره د دغه هم بیا ما په ربړوې.

***

اې نینوني! ته خورا ښکلې او په ښکلیو کي وتلې یې. شپږ میاشتي مي په پټه خوله او غلي تېري کړې، خپل ټول ویلوونکي ویرونه او آرمانونه مي پټ کړل. ته هم ښه پوهېږې، خو چي دغه مي درته وویل: نو تا ولي مخ راڅخه واړاوه؟ زه نه پوهېدم. ما چي تا ته وویل:

یو خوږ او خوندور لېونتوب زه ستا له سیورو څخه یو سیوری کړی یم او ما اړ باسي چي زه به ستا پلونه نه پرېږدم، او لکه چي پوهېږې، ډېر تخڼك[1] او میني ستا تر ښکلا ته ما له لا ډېره ښکلې کړې یې، نو تا ویل: دا زه نه منم.

ما چي تا ته وویل:

زه ستا کوچنۍ او لویي خبري د زړه په کومي کي ساتم او ستا زرځي سترګي

---

[1] تخڼک = هوس، غوښتنه.

د شك له لامله ما ته هر وخت اورونه بلوي:

نو تا له ديداره محروم کړم.

بيا چي ما درته وويل:

ټوله شپه پلټند يم او د ورځي ژړا راسره ملګرې وي او خدای ته نارې وهم، نينوني! ته نو نه پوهېږې چي ته خاندې، زه داسي ګڼم، چي خوله دي سره غوټۍ ده، داسي چي درته وايم: نو ته ولي راپوري خاندې.

***

زما حال نه دئ درته ښکاره. نو به زه په پټه خوله درسم او ستا د ډېوې په رڼا کي به کښېنم، خبري به درسره کوم، ږغ به دي اورم، ابير[1] به دي بويوم، اما ته به د شك په سترګه راته ګورې او راپوري خاندې به.

او دا به نه وايې: چي ولي داسي په قهر ورته ګورم؟

***

زه به په پټه د اسرارو ډکي غوټۍ ټولي کړم، او سهار به درسم، تر شا به درته کښېنم، او له پيانو څخه به ستا د لاس ږغونه اروم، او ستا د ښکلي وني به د دوو څنګلو تر منځ ننداره کوم خو ته به په نڅا راوستونکو سندرو کښي ډوبه يې.

***

چي د شپې تياره راسي او زموږ ټولنه سره خپره سي، نو به زه خپلي کوټې ته ولاړ سم، ور به پوري کړم. ستا په ياد به ويښ يم او يوازي به په خوښي خدای ته شکر کوم. خپل زړه چي وپرانيزم، داسي به وي لکه د سرو زرو خزانه، ستا په مينه به ډك وي. هو زه مينه کوم، خو پټوم ئې او غواړم چي زما په مينه

---

[1] ابير = عبير: عطر، خوشبويي.

څوك خبر نه سي.

نو دا څنگه ښه خبره ده او دا مينه مي څنگه خوږه او خوندوره ده؟

ما لوړلي دي، چي مينه به بې آرمان او اميده تېروم مگر په سعادت او سواني، خو دا سعادت چيري دئ؟ تا چي وينم بس مي ده، بل څه نه غواړم. بې له دې چي که ژوندی يم، ستا په غيږ کي به يم او که مرم ستا تر پلو به لاندي يم.

هر څه دغه راته وايي، حتی زما ويرونه هم.

خو سره د دې هم وگوره، ما ته څه وايي ... اي د تورو وېښتو او زرځيو سترگو مېرمني، چي زه ستا په مينه کي اريان يم.

کالي سپير انگليسي شاعر
(۱٦٧۱ - ۱٧٥٧ع)

# ړوند هلک

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، څلورمه گڼه، ۱٥ مخ]

ها، راته ووایاست هغه چي رڼا ئې بولي، څه شي دئ؟
هغه چي ما ئې کوربږ خوند نه دئ کتلی.
د ليدو ښېگڼي څه دي؟
ها، ووایاست دغه بېوزلي هلک ته!

***

تاسي د هغو ښکليو شيانو خبري کوی چي وينی ئې، تاسي د لمر ځرک پلوشې وینی. زه ئې تش په تودوخه پوهېږم، خو نه پوهېږم:
چي دغه روڼه ورځ بیا شپه څنگه جوړوي؟

***

زه خپله ورځ او شپه په خپله جوړوم.
هغه وخت چي بيدېږم يا لوبي کوم.
زه ډېر ځله اروم چي په سړو اوسېللو:
تاسي زما پر بېوزلۍ وير کوئ.
خو زه دا ټوله په صبر پر ځان گاللای سوای.

***

نو زه داسي نه سوای کولای.
چي د خپل زړه خوښي ورکه کړم.
په دې ترخ کي زه داسي سندري لولم چي: «زه پاچا يم!»
که څه هم يو بې وزلي ړوند هلک يم!

وردسورتهه:

(۱۷۷۰ – ۱۸۵۰ع)

# موږ اووه یو

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، څلورمه ګڼه، ۱۵ مخ]

ما یوه کلیواله نجلۍ ولیده:

دا د اتو کالو وه. وېښتان ئې غوټه غوټه او ګاړګوتي سوي وه، غوړشکه غوړشکه ئې پر ککرۍ ښکارېده.

***

بڼه ئې د کلیوالو او ځنګلوالو وه.

ارت کالي ئې اغوستي وه.

سترګي ئې ملالي وې او ډېري ښکلي، د دې په ښکلا زه خوښ سوم.

***

اې کوچنوټې! تاسي څو خوندي او ورونه یاست؟

دې وویل: «څو؟ ټول اووه یو»

او ملال ملال ئې راته کاته.

***

راته ووایه! نو دوی چیري دي؟

دې وویل: «موږ اووه یو، دوه له موږه څخه پټه هستوګه کوي او دوه نور سیند ته تللي دي.»

***

«له موږ څخه دوه په هدیره کي پراته دي، زما خور او زما ورور او د هدیرې په کلي کي، موږ له خپلي مور سره هلته نژدې ورته اوسو.»

***

تا وویل: چي دوه په هدیره کي دي.
او دوه نور سیند ته تللي دي.
نو تاسي څنګه اووه یاست؟ راته ووایه!
ګراني کوچنوټي! دا څنګه خبره ده؟

***

نو کوچنوټي نجلکۍ داسي ځواب راکړ:
«موږ اووه ورونه او نجوني یو، دوه له موږ څخه په هدیره کي پراته دي، د کلیسا تر ونو لاندي.»

***

«زما ماشومي کوچنوټي! ته تېروتې.
ستاسي څو ژوندي دي؟
که دوه په هدیره کي پراته وي.
نو تاسي خو فقط پنځه یاست»

***

ماشومي کوچنوټي جواب راکړ:
د دوی قبرونه شنه دي او زرغونه لیدل کېږي.
دوولس قدمونه یا یو لږ څه ډېر، زموږ د مور د کور له وره

دوی ښنګ پر ښنګ پراته دي»

***

«زما جرابي ډېر ځله هلته اودلي کېږي.
او زه خپل دسمال هم هلته اویم.
زه هولته پر مځکه کښېنم.
او دوی ته سندري لولم.»

***

«لومړی چي مړه سوه، هغه زما خور وه (جين).
دا به په تلتک کي پرته وه، ناري به ئې وهلې.
چي خدایه! ما له دې خوږو ښخه وژغورې.
بیا نو دا لیري راښخه ولاړه.»

***

«داسي دا په هدیره کي پرته وه.
چي واښه به وچ سوه.
نو به د دې له قبره سره موږ یو له بله لوبي کولې.
زما ورور (جان) به وو او زه به وم.»

***

«بیا به چي مځکه په واوره سپینه سوه
او موږ به پر ځغستل او پر ښویېدو به
زما ورور (جان) هم د تلو اسره وکړه
ولاړ د دې له څنګه پرېووت.»

***

ما وویل: «ښه نو اوس تاسي څو یاست؟
چي هغه دوه بلي دنیا ته تللي وي؟»
کوچنوټي نجلکۍ ژر جواب راکړ:
«او، ښاغلې موږ اووه یو»

***

«خو دوی مړه سوه، دوی دوه مړه سوه
د دوی اروا اوس پر هسک گرځي»
دا وه د کوچنوټي والي خبره
چي هغې نجلکۍ جوړه کړه
او بیا ئې وویل: «هوکې، موږ اووه یو»

جین ټایلر، انګلیسي شاعر:

## پر زرغونې او په سیوري پټې مځکې باندي

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، پنځمه ګڼه، ۱۹ مخ]

پر زرغوني او په سیوري پټې مځکي باندي.
یوه بې پیه بنفشه ټوکېدلې وه
د دې نارونه کاږه وه او سر په ځړېدی.
ما چي ویل: دا له کتلو څخه ځان پټوي.

***

دا یو ډېر د میني وړ ګل وو.
رنګ ئې ځلاند او د خوښۍ ډک وو!

***

یو د ګلو ښکلی چتر ئې د پټېدلو له پاره درلود.
اوس دا غوړشکي غوړشکي شکوفه وه.
په ډېر ښه رنګ ښکلې سوې وه.
او دلته ئې ښه ښه بویونه خپرول.
تر پټو او ګڼو سیورو لاندي.

***

بڼ ته ولاړم

چي دا ښکلی ګل وګورم
ده ما ته د ودي چم راوښو
په خوړې تواضع سره!

[د چيني شي کنگ څخه چي په (۵۰۰ع) کي کنبل سوی دئ، د هيلن وا ډيل ترجمه، او له انگليسي (د نړۍ د شعر انتخاب) څخه د حبيبي ترجمه]

# خپل بادار ته گورم!

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، لسمه گڼه، ۲۲ مخ]

دغه کڼو لا تر اوسه ډېري پاڼي لري او پر دې گودر باندي اوږد غځېدلی دئ.

زه خپل بادار ته انتظار کوم.

***

دا گودر تر غاړو پوري يو ميل ولاړ دئ.

چوغکه له خپلي مادې سره چونگيږي.

خو زما بادار ځنډېدلی دئ.

***

ماڼو لا تر اوسه سر او لاسونه ښوروي او د تورو يون هم پای ته رسېږي، خو زه خپل بادار ته انتظار کوم!

[د چیني شي کنګ څخه چې په (۵۰۰ع) کې کښل سوی دئ، د هیلن وا ډیل ترجمه، او له انګلیسي (د نړۍ د شعر انتخاب) څخه د حبیبي ترجمه]

# د ګهیځ پرتم

[کابل، ۱۳۲۳ش، لسمه ګڼه، ۲۲ مخ]

د ګهیځ پرتم پر ما باندې پرېووت.
سپین او ارغواني او شنه او سره ګلان پیکه سول.
زه ناآرامه یم.

***

په شنو زرغونو وښو کې د یوه شي کښهار دئ، ما داسې وګڼله چې دده د پښو کړپې دئ، چې زه ئې اروم، هلته چې یو ملخ ځزهار لري.

***

زه هغه وخت غره ته وختم، چې سپوږمۍ برېښېده، نو ما دی ولید چې پر جنوبي لار تی.
زما د زړه دده لوړتیا ته کښته کښته کېدی.

[د چیني شي کنګ څخه چي په (۵۰۰ع) کي کښل سوی دئ، د هیلن وا
ډیل ترجمه، او له انګلیسي (د نړۍ د شعر انتخاب) څخه د حبیبي ترجمه]

# شپه څنګه ځي؟

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، لسمه ګڼه، ۲۲ مخ]

شپه څنګه ځي؟
نیمه شپه لا اوس راځي
لاندي په غولي کي مشال روڼ او ځلاند دئ
زه له لیري د ډاله ډبهار اروم.

***

شپه څنګه ځي؟
تر اوسه لا شپه نه ده تللې
زه د بوغۍ بږغ اروم، چي له پاسه راځي.
او مشال پیکه پیکه کېږي کښتي ته ځي.

***

شپه څنګه ځي؟
شپه ولاړه او تېره سوه
مشال د ګهیځ په رڼا کي دودېږي، د اژدهار بیرغ په لمر کي رپېږي.

انګلیسی مسز هیمنس:
(۱۷۹۳ – ۱۸۳۵ع)

# لومړی ویر

[کابل مجله، ۱۳۲۳ش، لسمه ګڼه، ۲۳ مخ]

ها، زما ورور بیرته راته راوبولئ
زه یوازي لوبي نه سوای کولای
دوبی د ګلانو غلاوزو؟ سره راځي
زما ورور چیري ولاړ؟

***

بورا الوزي او برېښي.
کم وخت چي د لمر له وړانګو څخه تېرېږي
چي دا تښتي زه ئې په وروسته پسې نه سم تلای
ها، زما ورور بیرته راوبولئ!

***

هغه ګلان ځنګلي سوه، چي مو
د خپل بڼ پر ونو چاپېر کرلي وه
زموږ تاک هم د خپلو کورو سره مړاوی دئ
ها، دی بیرته راته راوبولئ!

***

«ښکلې وړوکې! هغه زما نارې نه سي اروېدلای
دی به بیا تا ته رانه سي
هغه خوله چي یو وار په سر کي وخاندي
بیا پر مځکه نه لیدله کېږي.»

***

«د گل په څېر لنډ او د خوښۍ ډک، روښانه ژوندون
دغسي هغه ته ورکړ سوی وو.
ځه، زما کوچنوټې! یوازي لوبي وکړه!
ستا وروړ په جنت کي دئ!»

***

«ده چي مرغۍ او گلان پرېښوول
نو به زموږ رابلل ابته وي؟
د دوبي اوږده اوږده فصلونه به تېر سي
خو دی به بیرته را نه سي؟

***

او، په دې لمر ځرک کي په دې شنیلو کي به
زموږ ټول اپوټه توب او زکلېدنه تر کله راسره وي؟
ها، زما وروړ به کله لوبي راسره وکړي،
چي پر ما لا ډېر گران سي!»

ویلیم ورډسورت:
(۱۷۷۰ - ۱۸۵۰ع)

# نړۍ ټوله زموږ سره ده

[کابل مجله، ۱۳۲۴ش، اوله گڼه، ۱۹ مخ]

نړۍ ټوله زموږ سره ده، پخوا او اوس هم هر څه راکوي، خو موږ خپل قواء تلف کوو. په دې لږ پوهېږو چي فطرت زموږ ملگرى دئ او زړونه مو پر یوه بابېز هډوکي بایللي دي. دا سیند چي خپله غېږ ئې سپوږمۍ ته پرانیتې ده، هغه بادونه چي هر وخت چلېږي او لکه زمول گلونه بیا به سره ټولېږي دا ټول موږ ته حرکت نه سي راکولاى او په هر شي کي موږ له هوله وزو.

لویه خدایه! ما له هغه کفره وساتې، چي عقیده به مي را ورانوي.

زه د دې توان لرم چي پر دې زرغونه وښبانه ودرېږم او په یوه نرۍ رڼا کي ځان له ورکېدو وژغورم، هلته به دده شغلې له سینده راپورته کېږي، یا به ئې ږغ د گلو په شپېلۍ کي اروم.

انګلیسي شاعر جان هنري
(۱۸۰۱ - ۱۸۹۰ع)

# د هیلي رڼا

[کابل مجله، ۱۳۲۴ش، اوله ګڼه، ۱۹ مخ]

اې د مهربانۍ رڼا د چارچاپېري تیارې په منځ ورننوزه!
ما هم درسره بوزه او لار راوښیه!
شپه تیاره ده او زه له کوره لیري یم.
ته ما درسره بوزه او لار راوښیه.
زه د هغي لیري منظرې د لیدلو توان نه لرم، نو ځکه ته زما پښې راټینګي کړه چي یو پل ورواخلم.
زه نه سوای تلای او نه تا نمنځلای سم، نو ته مي بوزه.
زما خوښه ده چي ځانته لار وټاکم او وئې وینم، مګر اوس: ته ما بوزه!
زما ځلانه او رڼه ورځ او د ښکلا پلوشې خوښي دي، او آینده به هم زه دغه خوښوم، نو تېري کیسې پرېږده.
هر څوني چي ستا قوت ډېر خیر او برکت لري هغه اوس دستي راکړه.
آیا ته به ما ته لار راوښیې؟
پر وچ ډګر او لاښ یا د ډنډ او نېز په منځ کي شپه راباندي راغله.
اما د ګهیځ په رڼا کي هغه ښکلي مخونه موسکي دي چي زما لا دمخه هم مینه ورسره وه او یو څه وخت راڅخه ورک وه.

د گل پاچا الفت اثر[1]:

# اسیر بی گناه

[مجلۀ سروش، جلد ۳، شماره ۱، اول جون ۱۹۵۸م = ۱۱ جوزا ۱۳۳۷ش]

[د محصل په مستعار نامه]

برهانید! این اسیر بی گناه را رها کنید!
مترسید، در رهائی او هیچ خوف و خطری نیست.
اندک فساد و شرارتی ازو پیدا نخواهد شد.
بلکه اسارت او، عظیم گناهی است.
این یوسفی است که از بیگناهی در زندان افتاد و اگر از زندان براید، میتواند آیندۀ شما را بسنجد و غم روز بد شما را بخورد.
برهانید! این اسیر بی گناه را برهانید!
اگر وی رها شود، انتظام امور شما را بوجه بهتری کرده میتواند.
گرسنگان شما را سیر، و برهنگان شما را تن بجامه خواهد پوشانید.
پس این موجود زیبا را در اعماق سیاه چالهای تاریک نیندازید.
درون زندانهاش میفگنید.
بخورد گرگان و جانورانش مدهید.
برهانید! این زندانی بیگناه را!

[1] اسیر بی گناه، د مرحوم استاد الفت د ادبي ټوټې (بې گناه بندي) ترجمه ده.

وی خوابهای پریشان شما را تعبیر صحیح خواهد کرد.

عقدهای مشکلات و مبهمات شما را خواهد کشود.

وی پیش بینی اوضاع آیندۀ شما را کرده میتواند.

به رموز و اسرار طبیعت نیک آگاهست.

مقتضیات اوضاع جوی و فلکی را بخوبی سنجیده می تواند.

برهانید! این زندانی بیگناه را!

بارهائی وی دانش و بینش فراوان میگردد.

کشور روشن می شود، و کوران بینا می شوند.

وی با برادران ستمگر خویش نیز رفتار خوبی خواهد کرد.

وی بسا کژ روبها را راست می سازد.

بسا راههای کژ را مستقیم، و بسا مشکلات ما را حل میگرداند.

من خوابی دیده ام: که این زندانی اکنون رها میگردد، و بر سریر سلطنت می نشیند!

این اسیر بیگناه کیست؟

فکر است فکر!

# ډرامه وشمه او کيسه وشمه ليکني

# توریالی پښتنه[1]

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱۵ش)، لومړۍ ګڼه، ۲۰ مخ]

[د ادبیاتو په اقسامو کي روایي او قصصي اشعار په دې عصر کي خورا مهم دي، ددې لاندینۍ قصې په نشر کي مقصد دا دئ چي پښتانه د قصصي شعر په خوند وپوهېږي. په دې قصه کي د پښتنو ساده او له حماسته ډک احساسات تصویر سوي دي، چي د پښتنو پسیکولوژي (روحیات) ښه ځني ښکاره کېږي. (حبیبي)]

[۱]

## د واده دریمه شپه

تقریباً اتلس کاله دمخه یوه شپه چي د پسرلي د اخرینو ګلو بویونه د رېګ د تالو څخه پورته کېده او سپوږمۍ ځلېده د قندهار د کدني په یوه کلي کي چي وېش ته نژدې وو د ریدي خان چي یو ځلمی اځګزی وو د واده دریمه شپه وه. توریپکۍ یوه زېبا او مړوچه پښتنه نجلۍ چي د واده پسول په پوري او ساده کالي ئې اغوستي وه ناوې وه، چي سپوږمۍ ئې په حسن شرموله.

ریدي خان هم یو پښتون ګلالی شل کلنی ځلمی وو، چي د کږدۍ پر اړخ تر ځلاندي سپوږمۍ لاندي له توریپکۍ سره ناست او د عشق او محبت په ویناوو بوخت وو، که چا په هغه شپه دا دوه زړه ته سره تېر مینان لیدلی وای، تا به ویل چي لمر او سپوږمۍ د دې کږدۍ اړخ ته سره یو ځای سوي دي، د واده دریمه شپه او د وصال لا لومړۍ ټاپې وو.

---

[1] دا لیکنه په اوسني لیکوال کي د (توریپکۍ) تر عنوان لاندي خپره سوې ده.

ريدي خان پنځه کاله پردېسي گلولې، اوس بيرته خپلو کړديو ته راغلی او نوی واده ئې کړی و خوږې شپې او ورځې وې.

[٢]

## د استقلال د غزا کال

دا کال چي د ريدي خان د واده شپې پکښې وې هغه کال وو، چي پښتنو د خپل استقلال د گټني له پاره سر پر ميدان ايښي وو او په ټوله وطن کي د جهاد او غزا ډنډوره گرځېدلې وه، د واده په دريمه شپه چي ريدي خان له خپلي محبوبې (تورپېکۍ) سره د خپلي کړدۍ اړخ ته په خوږو مرکو بوخت وو، نابېره دده سپين ږيري پلار (زمری خان) پر را ږغ کړه:

ريديه! ريديه زويه! ... (په رپېږدېدلي آواز) اوس کلي ته خبر راغلی چي سبا سهار فرنگي پر سپين بولدك (قلعه جديد) راځي او هلته هم فقط دوه درې سوه تنه سپاهيان سته نور هيڅ نسته.

زويه! کلی ټول بار سو جنگ له تيار سوه اوس به ژر ځې چي سهار قلعه جديد ته د خپلو ورونو کومك ته ورسېږې.

زويه ريديه! دا دئ د ننگ وخت، دا دئ د توري وخت! دا دئ هغه وخت چي ما په دې اويا کاله عمر کي غوښت، غزا ده، شکر خدايه.

سبا پر سپين بولدك غزا ده
تر خدای مي جار کړې پښتانه غزا له ځينه

[٣]

## د جنگ تياری

ريدي خان ځلمي چي د بابا دا وينا واروېدله د پښتونواليويني ئې په غورځنگ سوې.

را ولاړ سو پلار ته ئې وويل: بابا! ما پرون لا اروېدلي وه، چي غليم له پښتنو سره د جنگ خيال لري، نن سهار ما توري تېرې کړې، توپك مي پاك کی، ته سپين ږيری يې مور مي بوډۍ ده، ته به دلې د مور او تورپېکۍ سره پاتېږې، زه، هوکې زه چي پښتون زلمی يم ځم به د پښتونوالي ننگ به پر ځای کوم (په ډېر افسوس) تاسي او تورپېکۍ پر خدای سپارم.

په دې وخت کې خپلي ناوي محبوبي ته داسي وکتل، لکه آخرنی ديدن چي ئې وي:

ځلمي ولاړ توري تر ملا دي
غزا له ځي پر خپل وطن سر ورکوينه

تورپېکۍ چي د ريدي خان دا وينا واورېدله بې اختياره ئې وويل:

پر سپين ميدان به درسره يم
زه پښتنه د توري نه ترپلم مينه

[۴]

## د جنگ ميدان ته کوچ

سپين ږيری بابا زمري خان چي د خپل زوی دا خبري واروېدې په خورا قهر ئې وويل: زويه! زه پښتون يم، پښتون! زما د ميوند د جنگ آرمان لا په زړه کي دئ، هوکې! زه سپين ږيری يم، سترگي مي ليده نه کوي، پر ملا کړوپ يم، لاس مي رېږدي، مگر آيا سپين ږيرتوب نو زما څخه پښتونواله ورکولای سي؟ آيا زه نو پاته سم؟

نعوذبالله ... غزا به وي، د ننگ او ناموس وخت به وي، پر وطن به پردي حملې کوي (تر سترگو ئې روښي اوښکي تويېږي) په داسي حال کي به کوم پښتون پاتېږي، يا ! يا! زويه! يا زه کُرټ نه پاتېږم. په دې وخت کي د ريدي خان بوډۍ مور (زرغونه ادې) چي سپيني پېڅې ئې پر مخ ښکارېږي راغله دوی ته

ئې وويل:

«ريدی زويه! ستا خيال دئ چي يوازي زه ځلمی يم، زوره ور يم ... های په ځان مغروره! ته به د جنگ پر ميدان توري وهې زه به پاتېږم.» راتېره سوه ريدي ئې پر تندي مچ کی وې ويل: زويه! ټوله به يو ځای سره ځو چي ځانونه تر وطن قربان کو. غليم به تر وېش را اوړي پښتانه به کور ناست وي؟ يا! يا دا ممکنه نه ده. که نور څه نه وي يو وار خو به منگولي (لاس پورته کوي) د غليم په وينو سرې کم:

ټوله به ځو د جنگ ميدان له

نه چي پېغور د کوم غليم راپاته سينه

تر دې وروسته بابا، ادې، ريدي، توريېکی ټوله په گډه مخ پر سپين بولدك (قلعه جديد) را رهي سول. ټوپك ريدي واخيست يوه توره بابا واخيسته، بله توره توريېکی په سپينه غاړه کي امېل کړه، زرغونې ادې يو سوټی او د اوبو ژی راواخيست ځي!

چيري؟

د استقلال، د ناموس، د ننگ، د مېړاني، د حميت، د پښتونوالي ميدان ته.

## [٥]

## د ننگياليو احساسات

د ننگياليو پښتنو کهول ټوله غزا ته رهي سوه. پر لاري ځي زمری خان بابا وايي: «دا شپېته کاله تېر سوه، هغه وخت چي زه لا ځلمی وم، ما د ميوند پر ميدان په غليم زړه سوړ کړی و. خدايه! هغه څوك چي ستا د رضا له پاره ژوندون کوي مرگ ئې هم ستا د رضا له پاره وي، پښتانه خپله ننگه پر ځای کوي، په تلتك کي مرگ د ځان عار بولي. دا دئ پر ناموس ټينگ پښتون بيا راغی چي د وطن پر وېش په خپل سر بازۍ وکي، خاونده! زه خو بله آرزو نه لرم چي په

آخر د عمر کي ځان د جهاد پر لار قرباني کم. زه به ژوندی یم، غلیم به مي پر کور را اوړي ...» ریدي خان چي د بابا وینا واروېده په خورا خواږه آواز ئې دا لنډۍ ناري کړه:

د پښتنو ځلمیو وار دئ
پر خپل وطن به توریالي مړونه مرینه

تورپېکۍ چي د واده په پسول او کالو کي وه د واده په نکرځو سور لاس ئې پورته کی او دا ناره ئې وکړه:

تر توریالي مین به جار سم
چي د غلیم په وینو سره کاندي لاسونه

زرغونې ادې چي دا د ننګ ویناوي واروېدې په رېږدېدلي ږغ ئې ناري کړه:

توري به نه کړی نو به څه کړی
چي مو شیدې د پښتنې رودلي دینه
حق به هیڅکله در پل نه کړم
څو د غلیم په وینو رنګ نه کړئ لاسونه

## [٦]

## د فداکارۍ صحنه

د ننګیالیو پښتنو کهول لا پر لاري وو چي سپېدې وچاودې، سهار سو. پر یوه ناور ټولو اودسونه تازه کړه، تر لمانځه وروسته زمري خان بابا توره له تېکي راوکښه، په پښتني جوش ئې وويل: «خدایه! دا توره ما ستا د رضا له پاره او د پښتونوالي او ننګ و ناموس د ساتني له پاره راکښلې ده، زه ځان او خپل زوی د سترګو تور تورپېکۍ او خپله پښتنه ملګرې زرغونه پر تا سپارم.» دا ئې وويل. د لمر لومړیو وړانګو دده توره وبرېښوله مخ پر نوي کلا راغله هر څونه چي

رانژدې کېږي گرز او غبار، د توپو دربهار، د توپکو تکهار، د طيارو غړومبهار ډېرېږي او داسي ښکاري چي د سپين بولدك پر کلا د محشر ورځ ده، ننگيالو پښتنو چي دا حال وليدى ځانونه ئې چمتو کړه.

د سپين ږيري بابا د پښتونوالي احساسات مشتعل سوه ناري ئې کړه:

«دا کلا، دا کلا ... دا مځکه ... دا خاوره ... دا وطن ... دا زموږ د پلار او نيکه هديره مگر خاوند نه لري؟

خدايه ! پښتانه ژوندي دي که مړه؟

ها! د ميوند زمرو! څه سواست؟

ها! د احمدشاه او اکبر غازي اولاده! چيري ياست؟

ها! پښتونوالي او پښتنو!

ها! د بارك او اڅك زامنو!

د ننگ او ناموس وخت دئ!»

پر سپينه ږيره ئې اوښکي بهېږي. آخره پلا خپل گران گلالی زوی ريدی په بغل کي نيسي پر تندي ئې مچوي وايي: «خدايه! دا زوی خو ما خاص د دغي ورځي له پاره لوی کړی وو، دا دئ ستا د رضا او وطن له پاره ئې قرباني کوم!»

تر دې وروسته توريېکی هم پر سپين باړخو باندي مچوي، ورته وايي: «جنکۍ! د سترگو توري! د پښتانه مېرمني تل پر خپل ننگ و ناموس تر سر تېرېږي، له خدايه غواړم چي ته هم يوه (توريالۍ پښتنه) سې او د وطن انتقام له غليمه واخلې.

پښتانه به خپل هوډه پرې نه ږدي لــه لاسه
که ئې سر سي د خوني زمري تــــر زامه
که دي نقش د توري کښېني راته غوږ کړه
کامـــــروا به سي هـــــاله له هـــــره کامه

ريدي خان چي هم وخت آخير وليدی، خپله گرانه او د زړه سر محبوبه ئې

په بغل کي ونیوه، اخرنۍ وداع ئې ورسره وکړه، دا منظره دومره دلچسپه وه تا به ویل یو اهل جنت له حوري سره مینه کوي. وروسته نو دواړو د زرغونې ادې لاسونه ور مچ کړه او حق پلیت ئې ځني واخیست.

توري له تیکي څخه وبریښېدې ټول په ګډه د فداکارۍ میدان ته راغله، مردك لکه ژلۍ داسي اوري، فضا له ډېره ګرزه تیاره ده، که زمرۍ وي هم بې دلته زړه وربېږدي، مګر زموږ ننګيالي پښتانه یو تر بل دمخه کېږي. تورپېکۍ خو ځان د ریدي خان مخ ته وراچوی چي که مردك راتلی پر دې به ونښلي او له ده څخه به چپ سي.

پوخ ځاښت دئ د کلا دننه غازیان ټوله د غلیم په طیارو، ټوپکو، توپو شهیدان سوي دي فقط څو تنه ننګيالي پښتانه پاته دي کارتوس هم نه لري. هغو سلا (مشوره) سره وکړه، چي له کلا څخه دباندي پر دښمن ور ووزي او لاس په لستوڼي جنګ ورسره وکي، ټوپکونه ئې وغورځول، توري ئې واخيستې د کلا تر دروازه راووتل، لکه زمري د دښمن په لښکر چي کلا ته نژدې وه ګډ سوه. زموږ د ننګياليو پښتنو کهول هم په دې وخت کي را ورسېده، سپين ږيري بابا خو د څو تنو سرونه په توره غوڅ کړه، شهيد سو او خپل هغه لوړ مقصد ته ورسېدی.

پښتنې زرغونې ادې چي دا حال وليدی د هغه په توره ئې دده قاتل وواهه، پښې ئې ور پرې کړې، دا هم سخته زخمي سوله ولوېدله.

ها بلي خوا ته ريدي خان د زمري په څېر د دښمن سره چنګاو دئ، څو تنه ئې مړه کړه، دده ګرانه محبوبه هم توري وهي، سپين مړوندونه ئې د غليم په وينو رنګ دي، پر سره ميدان باندي د وينو په سېلاب کي لکه ځوان مېړه داسي جنګېږي.

پښتنو زلمـــــيو بيا لاسونه ســــره کړه
لکه باز منګولي سرې کاندي په ښـکار

سپيني توري ئې ګلګوني کړې په وينو
په اهاړ کې شګفته سو لالـــــــــه زار
تر دې منځ تورپېکۍ پر خپل ګران مين باندې ناره کړه:
تر دې تېرې توري دي جار سم
د غليمويني تويوه ګرانه مينه!
په وينو رنګ توره دي راوړه
راسه په سرو شونډو ئې زه در پاکومه

[۷]

**دوه مين د وطن شهيدان**

تر دې منځ له ليري يوه ګولۍ راغله د ريدي خان پر زړه ونښته، په سرو وينو کې کرنګ ولوېدی، روح ئې جنت ته والوتی، ولاړ شهيد سو. تورپيکۍ زموږ توريالۍ پښتنه يوازې پاته سوه، دې چې خپل ګران مين په وينو کې لژند وليدی له حزين زړه ئې داسې فرياد راوخوت:

جانان مې سر پر وطن کښېښود
په تار د زلفو بې کفن ورته ګنډمه

تر دې نارې وروسته ئې توره کش کړه لکه زمرۍ په غليم ور ګډه سوه ډېر ئې سره ژوبل کړه، په پای کې ئې سخت پرهار واخيست، سرو وينو ئې باړخوګان رنګين کړه، تا به ويل چې له جنت څخه ملکو سره خالونه د دې د زينت له پاره راوړه، راغله ځان ئې تر خپل مين پورې راورساوه پر ولوېدله، روح ئې جنت ته والوت.

بله ورځ چې شهيدان ښخېده، دا دوه دلباخته ګان چې د واده کالي ئې اغوستي وه يو ځای سره ښخ او په ابدي خوب بيده سوه، جنګ ختم سو، د تورپېکۍ مور د خپلې توريالۍ پښتنې زيارت ته راغله سور بيرغ ئې پر قبر ور

وځړاوه، چي تله نو ئې وویل : «تورپېکۍ! د وطن نازنیني توریالۍ شهیدي! ما خو هم ته د دې له پاره لویولې، ستا سرې او گلگوني ویني یوازي زما نه بلکي د دې خاوري سورمخي ده، تا د وطن له پاره سر بایلو، نو د جنت په سرو گلونو کي د خپل شهید مین (ریدي خان) سره لاس تر غاړه (په ابدي ژوند) گرځه!

دا دئ زه ستا مزار د پښتنو په ابدي افتخار پر دې سرحد باندي جوړومه او سور بیرغ چي ستا د واده د سرو لاسو او بیا د شهادت د سرو پرهارونو نخښه ده باندي ځړوم، چي د پښتنو آینده ځلمو له پاره د غیرت او ننگ سرمشق وي، په جنت کي ابدي ژوندۍ اوسه!

زما توریالۍ پښتنې لوري!

# د میوند غزا

[طلوع افغان، څورلسم کال (۱۳۱٦ش)، ۲۳مه گڼه]

دا یوه لنډه قصه ده چي په ښه ادبي ډول د جناب ع، صدقي په قلم د (آئینه عرفان) په مجله کي په پارسي لیکلې سوې وه، ځکه چي پښتانه د میوند د غزا له نقلو سره ډېره مینه لري، نو ئې موږ پله پسې ترجمه او نشر کوو.

---

د الله اکبر لوړ ږغ او ړوړ به گړی په گړی د بکوا پر پلن او وچ دښت پورته کېدی، یوولس سوه پلي فوجونه او اته سوه سپاره او دودېرش توپونه او نور ډېر غازیان چي اوز زره به وه، پلي وه که سپاره، ډله ډله ژر ژر په لښکر پسې تله. دوولس د لښکرو بیرغونه د هري ټولی دمخه رپېده. د دې تورو او سرو او سپینو بیرغو رپ رپ، زموږ د غازیانو جوش او خروښ ښکاره کاوه. د غازیانو د پښو کړپی وو. د دوبي تود باد چلېدی، تر دې ملي بیرغو لاندي د پښتنو ملي لښکر په مخ کي، ملي سردار په ورین تندي پر مشکي آس سپور وو د پلو په پښو ئې آس واهه، دده اوږده او تېره توره د لمر وړانگو برېښوله، سپینه بگړی ئې تړلې وه، توره ږیره، ورین تندی، د خندا ډک شونډان ئې وه، ټوپک ئې په لاس کي وو. سپین مُټې چاړه ئې په ملا کي وهلې وه، چا چي به دې ملي سردار ته وکاته، پرتم بې پر پرېووت. ولي چي دې پښتانه ځلمي سردار ټوله هغه ښېگڼې

درلودې چې له يوه لوي ملي مشره سره ښايي.

***

هر څومره چې به پر دې پراخ دښت راتله، هغوني به د غازيانو ږوږ لوړېدی او هر څوني چې و خپل مقصد ته رانژدې کېدی، هغوني به په خروښ کښېواته. څو چې ميوند ته راورسېدی او پر دې دښت ئې واړول او د غزا په نيت ميشته سوه.

دا غازيان چې پر دې لار راتله، ډېر ساراشين پښتانه او پونده هم ورسره ملګري سوه. ولي چې وپوهېده چې دا ملي لښکر د پښتونوالي او د وطن د ناموس د ساتني له پاره ځي.

ملي غازيانو يو ځای سره واړول، اما هغه غازياني ښځي او توريالۍ پښتنې چې له دې لښکره سره ملګري وې په يوه لو[1] کږدۍ کي د پونده وو يوې ګوښې ته ميشته سوې.

ټوله شپه غازيانو ځانونه سره سمول، چا و چا به پيرې کولې، سپوږمۍ دا له پرتمه ډک دښت روڼ کړی وو. د دې تر سپکو وړانګو لاندي يوه هولناکه منظره وه، څو چې سپوږمۍ د شپې په پای کي د ميوند د غرو تر څوکو لاندي پټه سوه او ولوېده، توره تياره سوه. لږ څه وروسته د سپېدو سپکه رڼا د آسمان تر څنډو راوځلېده، او شپه تېره سوه.

سپېدې نوي وچاودې يوې سرې سپکي رڼا د آسمان څنډې په وينو ولړلې د پښتنو په لښکر کي د آذان خواږه ږغونه پورته سوه او د ګهيځ نرۍ ورږمه راوالوته. ټولو اودسونه نوي کړه، پر يوه ځای سره ټول سوه، د لمانځه صفونه

---

[1] لو = لويه.

هم سم سوه، تر دوو رکعتو سنتو وروسته ښاغلی امام دمخه سو. د امام له ږغ سره چي به پر دې بټ د مکبرانو درانه ږغونه پورته کېده، ډېر پرتم ئې پرېووت. لمونځ تمام سو، څو زره لاسونه د لوی خاوند و دربار ته پورته سوه، او دده مرسته او بری ئې وغوښت، تر څو دقیقو دعا وروسته غازیانو لاسونه پر مخ تېر کړه. ټوله پښتانه پر خپلو ځایو ناست وه، ښاغلي ځلمي په گرېږ؟ بدن د لمانځه له صفه راولاړ سوه، دلته د غازیانو څخه یو ږوږ پورته سو، چي «ژوندی دي وي ښاغلی سردار، ژوندی دي وي غازي ایوب خان!» مگر سردار په نغوته دوی بیرته سره پټه خوله کړه، چا ږغ نه کاوه. دلته دې غازي سردار په ورین تندي دا وینا وکړه:

«د پښتنو ځلمو! پوهېږئ چي نن موږ پر دې بټ بېدیا څه کوو؟ هوکې! و تاسي ټولو ته دا ښکاره ده چي نن وطن و موږ ته گوري او زموږ د مټانو په زور به د غلیم له پېغوره نجات مومي، آیا دغه تېرې توري به کله زموږ په لاسو کي حرکت وکي؟ پردو غلیمانو نن ورځ زموږ د هیواد دا خوا ټوله نیولې ده او د خپلو اغراضو له پاره غواړي چي پښتانه قرباني کي، گورئ نن ورځ موږ د دوی له لاسه هر گړی په زرو زرو ناورینونه او ویرونه وینو، دا دئ چي اوس دلته موږ پښتانه فقط د څښتن د رضا او زموږ د تېرو مېړو د اروا د خوښۍ او د اولس او هیواد (مملکت) د ساتني له پاره راټول سوي یو او ملاوي مو ټینگي د غیرت په پړي تړلي دي.

که څه هم نن غلیم زورور دئ مگر لوی خاوند تر هر چا قوي دئ.

ځکه چي موږ پر خپله پښتني او اسلامي ننگه ولاړ یو، نو خامخا خاوند زموږ مرسته کوي او بری راکوي. پښتنو! وگورئ، که څوک یوه کوچنۍ چوغکه تر غاړه ونیسي، هغه هم وزر سرپوي، په منگولو د خپل وژونکي لاس منگاري

کوي.

موږ هم پښتانه یو، ښايي چي دا خپل غلیم ژوبل کو او له وطنه ئې وباسو!

ځلمو! موږ نن د وطن د مېرځمنو (دښمنانو) سره مخامخ کېږو، پوهېږی چي د اسلام مقدس دین موږ ته راښوولي دي که یوه مسلمان په جګړه کي له دوو کافرانو څخه مخ وګرزاوه او ماته ئې وکړه، او مړ سو مردار دئ.

دا رشتیا ده چي د غلیم لښکر سم دئ او لوی توپونه لري، توپکان ئې مرتب دي، اما زه وایم چی دا غلیم د پښتونوالي د مېړاني په مخ کي هیڅکله نه سي درېدای، د تاریخ مخونه په دغسی پېښو ډک دي.

ډېر به لیري نه ځو، وبه ګورو چي په دې نزدو کلو کي د پښتنو نامتو غازي وزیر اکبر خان څنګه د غلیم بې شماره لښکر سره له ډېرو توپو او توپکو یو ځای سره کوترم کړه او خپلي مېني ته ئې نجات ورکی، چي له هغو څخه فقط یو سړی ژوندی پاته سو، هغه هم مرګ ته نژدې! ځلمو! نن زموږ وار دئ چي هغسي به کوو، او د وطن حق به په خپلو وینو ادا کوو.»

دلته غازي ځلمي سردار یو ګړی پټه خوله سو، بیا ئې نو وویل:

پښتنو غازیانو! څنګه آیا و دې جنګ ته تیار یاست؟

د غازیانو ږوږ: هوکې! په سر و مال.

آیا خپل ځانونه په دې لار کي نذري کوی؟ هوکې، هوکې، هوکې!

بیا نو ځلمي سردار داسي وویل:

موږ په مخ کي درې شیان لرو، هر یو چي ځان ته ټاکی، واک مو خپل دئ. لومړی شهیدېدل، دوهم غازي کېدل، دریم پیغور او بې ننګي. لومړي دوه سره یو دي، اما دریم پر خلاف د لومړیو دئ، موږ ...

دلته د غازیانو په ګډه ږوږ پورته سو، چي «لا غازي لا شهید»

بیا غازي ځلمي وويل: ښه اوس به د جنګ پر ډول ورګېږو، موږ به دوې برخي سو، سپاره به له ما سره د (سنګبر) پر لار ولاړ سي، او پلي لښکر او اولسي غازيان دي د (ګرماوک) پر لار وردمخه سي.

ټولو غازيانو په لوړ ږغ وويل: «خورا ښه»

اوس زموږ ټوله کارونه تمام دي، موږ به زيار کاږو، څښتن به برکت راکوي، راسئ چي ټوله په ګډه لاسونه پورته کو، او دعا وکو.

دلته د غازيانو د دعا جګ ږوږ پورته سو، ځلمي مشر داسي دعا وکړه:

لوی څښتنه! موږ ته چي د خپل هيواد د ناموس پر ساتنه راولاړ سوي يو، بری راکه، د غليمانو مردار لاسونه له دې پاکي خاوري څخه لنډ که.

څښتنه! لکه تا چي هر کله پښتانه د وطن پر غليمانو بری ميندونکي کړي دي، اوس موږ ته هم بری راکه! خاونده! موږ خو بل مرستی نه لرو، بې تا. په دې وخت کي د غازيانو د آمين آمين ږغ ټوله فضا نيولې وه.

***

لمر نوی راوخوت، د تحسين په سترګه ئې دا فداکاران وليده، ورو ورو راپورته سو او هغه سيمه ئې توده کړه، لړ لړ تودوخه ډېرېده.

د غليم افسران چي د غازي ايوب خان او د پښتنو غازيانو له هراته په رارهي کېدو خبر وه نو د کندهار له خوا د بې شماره لښکرو بشپړي توپخانې له اسبابو او وسلو سره راووته او د کندهار لار ئې غازيانو ته وتړله. که څه هم غازيان له نورو خواوو پر غليم راتوی سوه، مګر د غليم لښکر هم په خپلو ډېرو او په اور ډکو وسلو راتېر سوه او د جنګ ځايونه ئې ونيول. د «هوررا» ږغ ئې په دې ځای کي لوړ کی.

د غازيانو له خوا د الله اکبر پرتم نامه رِغ پورته کېدی، خاص بیا دلته د غازيانو ښځو په ډله کي د یوې گلالۍ پېغلي پښتني نری رِغ لوړېدی او د پښتنو ځلمو ته ئې د غیرت او همت او الله اکبر ویلو تشویق ورکاوه.

په جنگ پیل وسو، بېروونکي رِغونه پورته سوه، د ټوپکو او توپو د ټکانو رِغ نه سره بېلېدی، د غلیم افسرانو په خورا دلاوري خپل جنگي ځلمي فداکارۍ ته وربلله، او هر گړی بې دوی ته د خپل مملکت د تاریخي خدمتو باټ ورکاوه او ویل بې: که غواړی چي تاسي دي هر کله د خپل ملت له خوا په احترام یاد سی، ښایي چي ځانونه دلته واري کی او دا خلک ټوله ورک او محوه کئ. د غلیم لښکر هم ټینگ ودرېده. په جگړه کې[1] خپل ټینگار ښکاره کی، تر ځانو تېر سوه، دوی که څه هم د مځکي هري خوا ته تللي او جنگېدلي دي، مگر هیځ ځای ئې دومره فداکاري نه ده ښکاره کړې لکه دلته ...

له بلي خوا د پښتنو د لښکر او غازيانو مشرانو هم صفونه سره سم کړه او پښتنو په مېړانه د خپل وطن له پاره فداکاري شروع کړه. سخت جنگ جاري وو، د ټپیانو نارې او زگېروي پورته وه، مگر ژر دا دواړه لښکر سره گډ سوه او کار و توري او چړو او نېزو ته ورسېدی.

لمر د اسمان په منځ کي په خورا شدت ځلېدی او دا لوی دښت ئې لکه د پښانو پجه؟ یا بټۍ په څېر تود کړی وو، پر آسمان که څه هم اوریځ نه وه، مگر خُپ وو، ډېري لکه د اور سکروټې د وگړو په پښو پوري نښتې او د لمر تودوخي ماغزه په کوټېو کي ایشول.

پښتانه په هغه خپله ښکاره مېړانه چي په جنگ کې لري جنگېدل او دوی

---

[1] کې = کي ئې.

ټوله د اوبو د لړوالي څخه په اندېښنه کي وه.

هغه اوبه چی د غازیانو سره وې د دوی نه بس کېدې، نو د جنګ پرتم او اړودوړ او تندي دوی و مرګ ته نژدې کړي وه، یو د اوبو څاه د میوند پر دښت وو، مګر هغه بیا د غلیم په لاس کي وو، بل څاه خو دلته نژدې نه وو، نو ستوني ټوله وچ کلک وه، غازیان له تندي څخه ډېر مړاوي لیدل کېدل، څو ساعته پله پسې جګړه پر دې سوځوونکي ارت دښت باندي په هړینه غرمه اسان کار نه دئ، د غلیم له لرګیو؟ برسېره دلته تندي هم غازیان لکه ترخې مندکي داسي وژل، تر ټولو ډېر هغه ځلمی مشر په دې ویر کي وو او خپله تنده ئې تر نورو پوري هېره کړې وه او هر ګړی بې نارې وهلې: «هلي پښتنو ننګیالیو! درې زره قدمه لیري د اوبو څاه ستاسي انتظار کوي، ژر سئ! ژر سئ!»

د ماپښین دوې بجې وې، تودو سېلیو زړونه وریتول، زموږ غازیان خورا تږي وه او نژدې وه چي له کاره ولوېږي.

دلته هغه زموږ پښتنه نجلۍ چي بیرغ ئې په لاس کي وو د فرښتې په دود پر دوی باندي راغله، او په خورا خواږه ږغ ئې دا دوې پښتو لنډۍ ناري کړې:

که په میوند کي شهید نه سوې
ځما لالیه بې ننګې ته دي ساتنیه
خال به د یار د وینو کښېږدم
چي شینکي باغ کښي ګل ګلاب وشرموینه

دې ځلمۍ ځلانده توره راوکښه او د غلیم پر لښکر ئې د مزرۍ په دود حمله وکړه، په دې پسې نورو ځلمو هم پر غلیم برید وکی او لکه مزري ورتوی سوه. د الله اکبر پرتمناکو نارو او د غازیانو د مېړاني حملو د غلیم لښکر سره تار په تار کی، خورا ډېر مړه سوه، او غلیم ماته وکړه.

په دې وخت کې د غلیم له افسرانو څخه یوه و خپلو ماتو لښکرو ته وویل: «څوک سته چې نن دلته د خپل مملکت له پاره ځان فدا کي؟»

له ماتو لښکرو څخه دوې ټولۍ راوګرزېدې یو د باغ دېوال ئې سنګر کی او ټوله په دغه ځای کې سره ژوبل سوه.

لنډې[1] دا چې ننګیالي پښتانه له هري خوا پر غلیم راتوی سوه او ټوله ئې ووژل، لومړی څوک چې د اوبو و څاه ته ورسېدی او ملي بیرغ ئې پر ودراوه هغه ننګیالی پښتنه وه.

د دې جنګ قصې هر څوک کوي او د هغې توریالۍ تقدیر کېږي.

هوکې! د ۱۲۹۷ هجري کال د شعبان ۱۷ ورځ (= ۲۷ د جولای ۱۸۸۰ع) یوه داسي ورځ ده چې هیڅکله نه هېرېږي.

او نن د میوند پر دښت د شهیدانو و سر ته د دوی د مېړاني په یاد یو لوی څلی ولاړ دئ، چې د پښتونوالي جلال او د پښتنو ابهت ښکاره کوي.

---

[1] لنډې = لنډه ئې.

له فرانسوي څخه اخيستنه:

# اوستری لوست

[طلوع افغان، پنځلسم کال (۱۳۱۷ش)، ۲۹مه ګڼه]

[د طلوع افغان په تېرو کلو کي هم موږ ځيني خوږې خوږې قصې خپلو ورونړو ته وړاندي کړي وې، اوس هغه مزی بيا پسې اوږدوو، يوه نوې قصه پله پسې ليکو. په دې قصه کي د يوه هلک له خولې د ويښو ملتو ژوندي ملي احساسات درښکاره کېږي، چي دوی خپله ژبه او خپل ملت څومره خوښ لري؟ دا قصه د هغه وخت ده چي د رائن مځکه جرمني ونيوله.]

---

د پسرلي د ښه موسم يو ښکلی سهار وو، د ګهيځ نری وږم چي خورا خوشبوی وو، چلېدي. زړه او دماغ دواړه په معطر کېده. د دې ښکلي او زړه غوړوونکي سهار په سيل او ننداره بوخت وم چي د مکتب وخت راڅخه تېر سو.

زما خپل سبق لا هم ښه نه وو زده، پر لاري تلم او دا مي ويل چي: ښاغلی ښوونکی (معلم) خو ضرور زما څخه سبق پوښتي او راڅخه خوابدی کېږي. يو وار مي زړه وغوښته چي وتښتم او مکتب ته پر مخ نه سم ولاړ. خورا روڼه ورځ وه، هري خوا ته ګلان غوړېدلي وه، د چوغکو چوڼکی وو، سپاهيانو کوايت[1] کاوه، کله کله د باجې بړغ هم راتی، د دغو ټولو چارو سره زه له مکتبه نه سوم پاته، زما پښې پخپله د مکتب و خوا ته تلې، نه پوهېږم ولي؟

---

[1] کوايت = قواعد او عسکري تمرينات.

پر سړک ئې يوه پټۍ (تخته) ځړولې وه، شاوخوا ډېر خلک پر راټول وه، ضرور خو دلته يوه نوې خبره سته. په دمخه کلو کي به هم د جګړو خبري خلکو له دغه ځايه څخه ويلې، اوس هم لکه چي يوه نوې خبره سته، چي دومره ډېر سړي پر راټول دي.

ما وغوښته چي د دې ډلي و خوا ته ولاړ سم او وګورم چي څه پېښه ده، مګر يوه سړي راته وويل: «اوس مکتب ته ځې؟ دا وخت د تلو دئ؟»

په دې خبره زه ډېر شرمنده سوم ژر مکتب ته ولاړم.

په مکتب کي خو تر سبق دمخه د هلکانو ډېر ږوږ وي، ځيني خپل لوستونه لولي، ځيني هلکان لاس سره لګوي، ځغلي مګر نن خو هيڅ نسته، ټوله هلکان پټه خوله دي، چپه چپايي ده.

هلکان ټول په کوټه کي ناست وه. ښاغلی ښوونکی هم دننه وو، زه تلولی[1] په کوټه ورننوتم، ښوونکي صاحب په خورا شفقت راته وويل: «راځه راځه، کښېنه، موږ بې له تا په سبق پيل نه کاوه.» زه هم ژر پر خپل ځای کښېناستم، شاوخوا مي وکتل، که ګورم زموږ د کلي ټوله لوی لوی سړي دلته ناست دي، کلی مشر او د استون مشر (مدير مخابرات) هم راغلي وه، زه ډېر هېښ سوم، نه پوهېدم چي څه پېښه ده؟

په دې وخت کي زموږ ښوونکي صاحب پر چوکۍ ناست وو او راته وې ويل: «هلکانو! نن زه تاسي ته اوستری لوست درکوم، له برلين څخه حکم راغلی دئ چي زموږ په دغه مکتب کي پسله دې په جرمني ژبه لوست کيږي، نو ځکه نن دغه ستاسي د (فرانسوي) ژبي اوستری لوست دئ. سبا بل معلم درته راځي.

---

[1] تلولی = وارخطا.

گرانو هلکانو! د نن سبق په خورا غرور واروئ!»

ما چي دا وينا واروېده، سرې خولې راباندي ماتي سوې، وربړدېدم، د هغي پتۍ خبره په خپله راښکاره سوه، چي څه پر ليکلي وه؟ نن زما د فرانسوي ژبي اوستری لوست دئ. افسوس! تر اوسه لا ما ليک ښه نه دئ زده کړی.

اوه خدايه! ما خپل وخت څنگه ضايع کی، کشکي ما خپل سبقونه زده کولای. زه د فکر په سيند کي ډوب سوم، هغه لوستونه چي پرون ما نه زده کول، نن مي ډېر ارمان سوه. پټه خوله وم، له ډېره ارمانه مي زړه وربړدېدی، ښوونکي صاحب وويل:

«افسوس! تاسي به فرانسويان ياست، مگر خپله مورنۍ ژبه به درڅخه پاته وی؟ کوچنو! دا خبره په ښي غوږ واروئ چي زموږ فرانسوي ژبه تر ټولو ښه ژبه ده، داسي خوږه، داسي پسته، داسي ښکلې ژبه پر دنيا بله نسته، تاسي نن مريان ياست، مگر دا ژبه هېره نه کړئ او د دې له ساتني څخه لاس وانخلئ.»

په دې ډول معلم صاحب کتاب وپرانتلی، او په ويلو ئې پيل وکړ، موږ ټوله ډوب ناست وو، د خپلي خوږې ژبي لوست مو اروېدلی.

د لوست وخت تېر سو، د ليک وخت راغی، موږ ډېر کاغذونه د خپلي خوږې مورنۍ ژبي فرانسوي په ليکنه تور کړه، ټولو دغه مشق کاوه «زموږ گران وطن فرانس! زموږ گرانه ژبه فرانسوي!»

په کوټه کي خورا سړه سنا[1] وه. د مچ بُڼ نه وو، د ټولو يوه شونډه لاندي بله سربېره وچه وه، پټه خوله وه. هوکې! کله کله د قلم کښهار پر کاغذ اروېدل کېدی. په کړکۍ کي يوه کوتره ناسته وه، ورو ورو ئې غمبر کاوه، ما چرت واهه.

---

[1] سړه سنا = چپه چوپتيا.

له ځانه سره مي وويل: ښايي سر له سبا به خوارکی کوتره هم په جرمني ژبه غمبر کوي. اف څومره بېوزلي ده.

ښوونکی صاحب هم په اندېښنو کي ډوب وو، له ډېري هېښی څخه ئې کله کله سترګو اوښکي کولې.

آه! پسله څلوېښتو کالو زیاره به دی اوس ټوله مکتب پرېږدي.

دا ټوله بوټي او ګلان چي ده په خورا ناز کرلي وه او اوس ټوله لوی سوي دي په خورا ویر به ئې پرېږدي.

هوکې! ضرور به ئې پرېږدي. څه چاره لري؟ د مریو د لاسه څه پوره وي.

د ښوونکي صاحب کهول ټولو کالي وتړل، غواړي چي ولاړ سي.

زړو خلکو هم نن په خورا خوښي سبق ووایه، ولي چي دوی پوهېږي چي نن د دوی د ژبي اوستری لوست دئ.

په دې وخت کي ساعت دوولس بجې وترنګولې، د جرمني د عسکر د تروم بړغ هم راغی. د ښوونکي صاحب مخ ژړ سو، بدن ئې رېږد واخیست.

په ډېر زحمت ولاړ سو، وې ویل: «ګرانو هلکانو! نن زه ... زه .... زه ....»

دده ستونی ډک ډک کېدی، له خولې څخه ئې خبره نه وته. نو د تختې خوا ته ورتېر سو، په رېږدېدلي لاس ئې په پنډ خط دا توري ولیکله: «فرانس دي ژوندی وي.»

له ډېره ویره سر په ځړېدی، موږ ته ئې په لاس اشاره وکړه، وې ویل: «هلکانو! ولاړ سئ، ټوله خپلو کورو ته، مکتب بند سو.»

موږ چي دباندي راوتلو، د ټولو تر لیمو اوښکي بهېدې.

پای

# د خپلواکۍ مینه

[اصلاح ورځپاڼه، ۱۳۲۲ش، ۱۵ گڼه]

د هر چا له لویو پېښو او مهمو واقعو څخه څه په یاد وي، پر موقع ئې بیانوي، نکلونه ئې کوي، خوږې کیسې ځني جوړوي.

زما ښه په یاد دي چي: په کوچنیوالي به زړو اناگانو د غزاوو کیسې راته کولې او په غیر شعوري ډول به ئې د پښتونوالي او وطن دوستۍ درسونه راکول. دا رویه ډېره ښه وه، کوچنو ته د وطن د میني او د استقلال د محبت یو مکتب وو.

زه هم غواړم چي په دې څو کرښو کي خپلو خوږو ورونړو ته یوه کیسه وکړم او د یوه پښتون مینه د خپلواکۍ سره ورښکاره کړم. نه پوهېږم چي مړ به وي که ژوندی، خو پنځه ویشت کاله دمخه د کندهار په یوه کلي کي یو سړی اوسېد، نوم مې[1] هم نه دئ په یاد، خو دوني مي په زړه ده چي یو ملا پېشه سړی وو،ږیره ئې سپینه وه، خو یو یو تور تار هم پکښې ښکارېدی.

په دغه کال چي پښتانه د خپلواکۍ بیرغ پورته کړ، د دې سړي ماینه هم مړه سوه، دوې کوچنۍ لوڼي او یو هم وړوکی زوی ځني پاته سوه. ددې کوچنو روزنه پلار ته وسپارله سوه او پلار ئې هم بېوزلی سړی وو. د کوچنو د روزني

---

[1] مې = مي ئې.

ځای ئې نه درلود، کله به په یوه مسجد کي وو او کله به ئې دغه کوچني د یوه بل کره استول چي یوه شپه تېره کړي.

بې موره کوچني د بېوزلي پلار د غاړي وه او دې مهربان پلار له دوی سره ډېره مینه درلوده، ماښام چي به ئې د یوه بل کره د خوب او بیدېدلو له پاره استول پر تندي به ئې مچ کړل او بیا به ئې سهار په مینه راوستل، او کله کله به ئې د خپلو بېوزلو زامنو پر بې موری اوښکي هم توولې او د خپلي گراني مایني په یاد به ئې د دوی سپېڅلي تندي مچول.

خلک وایي چي: د اولاد مینه تر هر څه تېره ده، زه هم دا منم، مگر راسئ چي ددې پښتانه مینه هم وگورو.

د غزا اعلان وسو، خلک ټوله د استقلال د جنگ میدان ته ولاړل، په مسجد کي څوک نه سوه پاته، ماښام مي لیدل چي د کوچنو پلار په رنگټ ژاړي او وایی: خدایه ټول خلک ولاړه، ستا د لاري غزا ده.

خو زه، دا کوچنی عیال او بېوزلي اولاد څه وکم؟

په دې سبا مي لیدی چي هغه پر خپلواکۍ مین سړی راغی، د یوه کور مېرمنو ته ئې ډېري زاری جگۍ وکړې چي دا زما کوچني اولاد مي پر خدای او تاسي سپارلی دئ زه ځم جهاد ته یو تلتک او یوه کمبله لرم، دغه مي خرڅ کړي دي او یوه سېلاوه مي رانیولې ده، ځم!

رشتیا هم هغه وه، دغه مجاهد خپل بېوزلي او کوچني اولاد د پردیو خلکو کره پرېښوول او پخپله ئې سېلاوه تر ملا کړه، ولاړ.

چیري؟ د استقلال جنگ ته.

د خپلواکۍ گټلو میدان ته.

دده په زړه کي تر هر څه د خپلواکۍ مینه قوي وه.

بېوزلی اولاد ئې د ننگ او همت په وخت کي هېر سول، چي د وطن او ملت د ننگي وخت راغی ټولي نوري ميني ئې له زړه ووتلې.

نه پوهېږم چي ژوندی راغی که شهيد سو، نه مي دي په ياد چي بيا ئې هغه بېوزلي وړوکي اولاد وليدل که يه؟

خو پښتون مېړه او پښتانه د خپلي خپلواکۍ سره دغسي مينه لري.

لوی څښتن دي هغه مجاهد وبخښي.

# حماقت

[کابل مجله، ۱۳۲۷ش، اتمه گڼه، ۲۳ مخ]

[۱]

## مریض دار او طبیب

مریض دار: څو شپې کېږي چي ناآرامه دئ. اړخ پر اړخ کېږي، ټوخېږي، وینه هم اچوي. تبه ئې نه شلېږي.

ته خو طبیب یې، پوهېږې به چي په کوم رنځ اخته دئ؟ داسي یوه دوا ورکه چي جګ ئې راولاړ کي. پر ما ډېر ګران دئ. زما ژوند دده په ژوند پوري تړلی دئ.

طبیب: تاسي خو د طبیب په خوله نه کوی. مریض مو دې حال ته راورساوه، که دغسي پاته سي، یقیناً مري اوس هم ځکندن ته نژدې دئ.

ولي مو هغه دوا ور نه کړه؟ ولي مو له طبي هدایاتو سره سم نه وساته؟ ستاسي بې اعتنایي دده رنځ ورډېروي. ورځ په ورځ ئې حال بترېږي، پام کوئ. دا بېچاره مه وژنئ، آرام ئې پرېږدئ، مخالفه غذا هم مه ورکوئ، حال ئې خراب دئ.

مریض دار: (له طبیبه څخه ځي او د یوه خپل بل دوسته سره داسي خبري کوي):

دا طبیب خو پوه دئ. اما خورا بدبین دئ. زه دده پر خبره غوږ نه نیسم،

همېشه تاریکي خواوي پلټي. د مرګ پیغام راکوي. دوني[۱] جنجالي دئ چي دده له ډېرو خبرو څخه په عذاب یو. تر دوا ئې خبري او هدایات ډېر دي. ځو واره ئې ما ته ویلي دي چي دا مرض ډېر سخت او مهلک دئ.

آخر دوني خبري؟ دوني هدایات؟ دوني بدبیني؟

خو ماغزه ئې راوخواړه.

د مریض دار ملګری: هو! دا خلک عجبه مالیخولیا لري. تمامه ورځ ګڼه وي، چي مریض ووینې زړه ئې ولوېږي، نو پر موږ منت کوي دوی چي وایي دا مرض موږ ورته راوستلی دئ. آخر زموږ ګناه ئې څه؟

یه یه! ضرور جوړېږي، باید دوني بدبین نه یو. ښه او قوي خواړه به ورکو. یوازي به ئې نه پرېږدو، سات به ئې ورتېروو. د ژوند او روغتیا او امید خبري به ورته کوو. ورته خاندو به، پخپله جوړېږي. دا طبیبان خو داسي بدبین دي چي ژوندي وژني. مرګ را نزدې کوي.

سړی باید په ژوندانه کي خوشبین وي. توري خواوي نه وپلټي. دا مریض که څه هم لټ پر لټ اوړي او تېږېږي خو عقل ئې پر ځای دئ. مځکه او آسمان سره پېژني. خبري کوي. کله کله راکښېني هم. غذا خوري، زه خوشبین یم، خامخا جوړېږي. پرېږدئ دا بدبین طبیب چي تمامه ورځ د مرګ نارې وهي.

دی به خوښ ساتو، نه به ئې پرېږدو، چي په خپل درد او رنځ وپوهېږي.

هوکې! ژوند خندا ده، امید دئ، دی به نه پرېږدو چي په خپل رنځ کي چرت ووهي.

---

[۱] دوني = دومره، دونده، د کندهار لهجه.

## [۲]

## د مریض په کوټه کي

مریض دار: ان شاء الله حال دي ښه سوی دئ (مریض ته وایي)، طبیب وویل، چي د مرض هیڅ اثر نه دئ پاته. جوړ یې! خوښ اوسه، ښه غذا خوره، ولاړ سه، یو ګړی خبري وکه! وخانده، دنیا څوني[۱] ښایسته ده!

دا کوټه څنګه ښه ایسي، دا خوش خوانه مرغه مي خاص تا ته رانیولی دئ. دا د ګلو دسته څنګه ښه بوی لري، دا د سیبو شربت څوني لذیذ دي. زړه بیداره کوي.

د مریض دار ملګری: هوکې! د وطن پسرلی څنګه ښه ایسي؟

خدای تعالی زموږ د وطن مځکه څنګه ښایسته پیدا کړې ده!

پسله دوو درو ورځو چي جوړ سوې، دباندي به ولاړ سو، و به ګرزو، باغونه له ګلانو ډک دي. رودونه بهېږي. مرغان پر درختو چغېږي. باید ځان خوښ وساتو. غم و نه خورو.

خدای تعالی موږ ته داسي نعمتونه راکړي دي، چي بل څوک ئې نه لري. ولي به غم خورو؟ ولي به نه خاندو؟ د انسان سعادت په خوش بیني کي دئ. امید او آرزو سړی ژوندی کوي. ژر به جوړ سې. نوی ژوند به دي څوني خوږ وي. هر څه لرو. په هیڅ شي کي تر نورو کم نه یو.

مریض (اوښکي تویوي ... وایي): زما حال خراب دئ. نفس مي تنګي کوي. آه خدایه! مرم، طبیب راولئ! که زما دوستان یاست، طبیب راولئ، مه خاندئ. دوا راکئ. مرم! زما له سینې څخه وینې راځي. دا ستاسي خوش بیني چي ما ته ئې لرۍ حماقت دئ:

---

[۱] څوني = څومره، څونده.

سرشک از زخم یک کردن چه حاصل؟
عـلاجی بکن کـــز دلــم خــــون نیاید

[۳]

## د احمقانو نڅا

## د مریض په کوټه کي

مریض دار: برایي ئې هیڅ خبري نه دي کړي. آرام وو. له سره نه دئ ښورېدلی. لکه چي جوړېږي. هو! جوړېږي بدبیني ښه کار نه دئ.

د مریض دار ملګری: بلې! جوړېږي، آرام دئ. هیڅ اضطراب او تپش نه کوي. د سیبو د شربتو یوه هنده به ئې ژوندی کي.

خاندو به چي سات ئې تېر سي. خپه به ئې نه پرېږدو. ولي به بدبین کېږو.

مریض دار: هو! راسئ وناڅو، وغورځو، چي سات ئې تېر سي. طبله راوړه، طنبور راوړه.

دا دئ سترګي ئې روښي سوې. څوني خوشحال دئ. مګر غواړي چي زموږ سره یو ځای وناڅي. دا د طنبور لاره[۱] څنګه ښه خوند ورکوي، مړی ژوندی کوي. وئې درنګوه. سهار دئ. د اسا یوه نغمه به ئې له بستره راولاړ کي.

بدبیني ښه کار نه دئ. لاس راکه، چي سره وناڅو. ژوند په نشاط او خوښي او امیدواري کي دئ. نباید چي سړی بدبین وي.

د مریض دار ملګری: څوني آرام دئ. هیڅ نه ښوري. سترګي ئې پټي دي. د اسا لارې بیده کی. هوکې! موسیقي روح ته خوند ورکوي.

---

[۱] لاره (فشار پر وروستی هجا) = نغمه.

[٤]

## د طبیب یادداشت

طبیب (دروازه ټکوي).

مریض دار: راځه خدای دي راوله. د مریض لیدو ته راغلې؟

طبیب: د مریض په کوټه کي دوني درب و دروب مه جوړوئ . څنګه دئ؟

د مریض دار ملګري: له برایي څخه بالکل آرام دئ. اوس ئې یو وار سترګې روښې کړې، خو بیرته زموږ خوږې موسیقۍ بیده کی. یو څو دقیقې مو دده سات ورتېر کی. ان شاء الله ژر جوړېږي. سړی باید چي بدبین نه وي.

طبیب: (مریض ته نژدې کېږي، ویني ئې) هوکې! په ابدي خوب مو بیده کړی دئ. ستاسي خوږې موسیقۍ داسي خوند ورکړی دئ چي بیا به د داسي حماقت رنځ و نه ویني. (وروسته طبیب د خپل یادداشت په کتابچه کي داسي وکښل):

«فلان د ... زوی چي زما تر علاج لاندي وو. په ... ورځ ... نېټه تر دنیا تېر سو او د ناپوهو ملګرو د حماقت قرباني سو.

هغه ملتونه چي د ناپوهو رهنمایانو په لاس کي ولوېږي، حال ئې داسي وي. د بدبختۍ او سفالت حال ته خوشبیني داسي ده، لکه چي سړی د مړي و نعش ته ناڅي ...»

چمن، ١٤ د جوزا ۱۳۲۷

# طبیب

[کابل مجله، ۱۳۲۹ش، شپاړسمه گڼه، د پښتې دریم مخ]

موږ یو خانداني طبیب درلود او دا طبیب د هر مرض متخصص وو.

کوچنی، لوی، ښځه، نارینه، زوړ، ځوان چې به ناروغ سوه دی به مو راغوښت او که به مو فرضاً کله بل طبیب ته رجوع وکړه، دی به خوابدی کېدی.

موږ هم ناچاره وو چې په هره واقعه کې ده ته ورسو، یا ئې راوغواړو، ولې چې له پلرو مو اروېدلي وه چې دا طبیب حاذق دئ.

زموږ طبیب صاحب ډېر بدخویه هم وو، تریو تندی، بروس مخ او ډېر قهرجن وو. ده به کله کله نوري دواوي هم ورکولې، خو د پلوسو اماله او زدوولي مرغلري به ئې خامخا د هر مرض له پاره استعمالولې.

زموږ په کور کې دغه دوه شیان ضروري وه، او کله چې به مریض پېښ سو نو به طبیب صاحب راغی او فوراً به ئې اماله او مرغلري طلبولې.

یوه ورځ زما په یاد دي، چې یو سړی تبې نیولی وو، نو طبیب صاحب فوراً اماله ورکړه او مرغلري ئې په عرق گلاب کې وزدوولې او په وئې خوړې. خو مریض پسله څو ورځو روح عزرائیل ته وسپاره. بل وخت یو کوچنی له بامه راولوېد او طبیب صاحب هغه زړه نسخه پر تطبیق کړه.

بل وخت یوه ښځه په نسایي ناروغي گرفتاره وه او د وضع حمل په سختي

كي د مرگ پر بستر رغښته، بیا هم طبیب صاحب هغه اماله او مرغلري ورکړې.

زه حیران وم چي دا اماله او مرغلري څنگه د هر مرض دوا دي؟

یوه ورځ د سکاروي (سینه بغل) یو سخت مریض پېښ سو، موږ لیدل که هغه خپل آشنا طبیب راولو نو دی خو ضرور اماله او مرغلري ورکوي حال دا چي دغه مریض فوري علاج ته اړ وو، او دوني[1] وخت ئې نه درلود چي د پخواني طبیب صاحب د مشق او تجربې مورد سي.

موږ پوهېدو چي بل طبیب ته رجوع هم مشکل کار دئ، ځکه که هغه زموږ طبیب صاحب خبر سي نو خوا بدوي او شر راسره کوي.

موږ دوه درې تنه د خپلي کورنۍ ځلمي د طبیب صاحب د آشناتوب قرباني کړل او د هر مړي پر جنازه به طبیب صاحب اوښکي تویولې. د تجهیز او تکفین او دعاخوانۍ حق الزحمه به ئې هم نقده غوښته.

نو د هر مریض د علاج او بیا مرگ حق الزحمه د طبیب صاحب نقده گټه وه، د ختمې ډوډۍ او د فاتحې چای لا ورسره.

د کورنۍ مشران او اراکین په دې جاني او مالي تاوان نه پوهېدل او موږ ځوانانو که به څه ویل نو به دوی ترټلو او ویل به ئې:

دغه لا پخوانی (حاذق) طبیب دئ (امزجه) ورته معلوم دي (حار و بارد) پېژني، د (اطریفل او معجون او طلا او شربت) مجربې نسخې لري.

موږ که څه هم هلکان وو پاخه عقلونه مو نه درلودل، خو دومري پوهېدو چي دا طبیب صاحب زموږ له پاره بلای جان دئ او هیڅکله دده دوا صحت نه راولي، بلکي ورو ورو د دې کورنۍ افراد ملک الموت ته سپاري.

---

[1] دوني = دومره، دونده.

یو وار یو هلک ژړی تبي (مالاریا) نیولی وو او طبیب صاحب څو مفصلي امالې او د څو سوو روپو مرغلري په وخوړې، خو جوړ نه سو، لکه نل داسي سوی وو.

زه ولاړم د کوم ډاکتر له دوکانه مي د درو څلورو روپو کنین رانیول او په مریض مي وخواړه، سبا ته ئې تبه وشلېده او روغ رمی راکښېنوست.

د کورنۍ مشرانو او سپین ږیرو چي د دغي دوا اثر ولید، اریان سول او له طبیب صاحب څخه ئې لاس واخیست.

پسله دغه ما لیدل چي موږ د طبیب صاحب د وجود له درانه باره خلاص سوي یو او په سوو سوو روپۍ مو په مرغلرو او یاقوتي معجونو نه خرڅېږي او ځلمي او زاړه مو هم جوړ روغ دي.

هو، څوک چي د عصر او زمانې له تقاضا سره سم کار کوي، تل به روغ رمی وي.

کابل ۱۴ د میزان ۱۳۲۹

# یوه ځلانده خاطره

[عرفان مجله، ۱۳۴۸ش، پنځمه شماره، ۱۸ مخ]

نیمه پېړۍ تر اوس دمخه!

کله چي زه لس کلن هلک وم، خلکو زموږ په ښار کي په سادګي ژوند کاوه.

کرونکو به په پوره زړه او خوښۍ خپل کښتونه کرل.

دکاندارانو او کسبګرانو به د ښار معاملې چلولې.

مسجدونه به پنځه وخته په زلمو او زړو نمونځ ګزارانو ډک وه.

ملایانو او پوهانو به په سوو سوو شاګردانو ته درسونه لوستل.

ښځو به په خپلو کورو کي خپل اولادونه په پښتني دود روزل.

مساجد او مدارس به له سبق ویونکو هلکانو او طالبانو ډک وه.

یو پسرلی وو، توتان پاخه سوي وه، الوچه او بادرنګ نوي بازار ته راغلي وه. یو سهار وو، زه له کوره ووتم، په کابل بازار کي مي د یارمحمد اکا له دکانه یو څه مېوه رانیوه.

تر هغه ځایه چي زما په یاد دي خدای مي دي غاړي نه بندوي زموږ د ښار خلک، له نوري دنیا څخه لږ خبر وه، هغه وخت اخبارونه او راډیوګاني نه وې، خلکو له نوي ژوندانه سره چنداني آشنایي نه درلوده. په ټول ښار کي یو څو

خلک او ځیني کورنۍ داسي وې چي د نورو ملکونو په حال به لږ خبر وه.

خو دا خبره په ښار کي اروېدله کېده چي یو امیر وژل سوی او بل امیر په کابل کي پر تخت کښېناستلی دئ، خلکو دا هم ویله چي د پرنګیانو سره [به] غزا وسي.

غزا نو څه وي؟

ما له ځانه سره فکر کاوه.

په بل څه نه پوهېدم، خو برایي مدت اکا زموږ همسایه، یو زوړ توپک اخیستی وو، په هغه ئې لاس واهه، ده ویل چي: که غزا سي نو دا توپک به په ښه راسي.

زه په دغو فکرو کي وم چي په بازار کي یو سړی پر تور آس سپور تېرېدی او دا ئې ویل: «مسلمانانو! سپین بولدک پرنګي ونیوی! ټول مسلمانان سپاهیان ئې شهیدان کړل! د وېش ټول خلک د غزا پر میدان ولاړ دي.»

دا ږغ یو عادي ږغ نه وو، ما ولیدل چي ټول خلک هغه ته خورا ځیر دي او دا سره وایي: ښه اوس نو څه وکو[1]؟

مګر دوی ژر وپوهېدل چي څه به کوي؟

دوی وپوهېدل چي پر وطن باندي دښمن حمله وکړه، نو په یو څو ګړیو کي دکانونه ټول وتړل سوه.

خلک ډلي ډلي په مسجدو کي راټول سول. دوی ښه پوهېدل چي اوس نو د وطن د ساتني له پاره څه باید وکو؟

غزا، غزا، غزا!

---

[1] وکو = وکړو.

دا نارې د ښار په هره خوا کې پورته سوې.

زاړه، ځوانان، روغان، ناروغان، خواران، بډایان ټول غزا ته تیار سول.

د دې ورځې تر مازدیګره پورې د ښار ټول خلک تیار سول او غزا ته ووتل.

زه د ماښام نمانځه ته د خپلې کوڅې مسجد ته ولاړم. که مې کتل: مسجد خالي دئ.

د مسجد ملا اذان وکی او موږ څو تنو کوچنو هلکانو په ملا پسې اقتدا وکړه او نمونځ مو وکی، دا ولې؟

ځکه چې د کوڅې ټول ځوانان، سپین ږیري، کشران او مشران غزا ته تللي وه او په کورو کې یوازې ښځې او هلکان پاته وه.

***

پنځوس کاله دمخه زموږ خلک د وطن ساتنې ته داسې چمتو ولاړ وه، چې له سهاره تر ماښامه ټول له ښاره غزا ته ووتل.

دوی خپل کورونه، ښځې، کوچني اولادونه او د دنیا ګرده کارونه پرېښوول او د وطن د استقلال و مقدس جهاد ته داسې ژر تیار سول.

زما د استقلال د مقدس جنګ دا ځلانده خاطره کوره نه هېرېږي.

زموږ پلرونه او تېر سوي مړونه، د وطن ساتنې ته داسې تیار وو.

مګر اوس ...؟

لنډه کیسه:

# میړنی هیوادپال

[زېری، د ۱۳۵۵ش کال، ۳٦مه ګڼه]

د ۱۸٤۰ع کال د دوبي په تودو ورځو کي، چي یوه ورځ لمر په خورا تاو سره ځلېدی، د قندهار په زړه وړونکې فضا کي د ناورین او عمومي ناقرارۍ علایم لیدل کېده.

د دې ښار خلک په مساجدو، کوڅو او کورو کي سره ټولېدل او د کار چاره ئې سنجوله او د وطن د نجات له پاره ئې په خپلو کي سلا مشورې سره کولې.

او دا ځکه چي څو میاشتي لا نه وې تېري سوي چي د انګلیس متجاوز لښکر د انډس ارمي په نامه د سندهـ او شال له لاري راتېر سوی او احمدشاهي ښار ئې نیولی وو.

یو قندهاری ځوان چي سهار له کوره وتی نو خپله تېره سېلاوه ئې تر ملا کړه او ځان ئې د وطن په لاره کي عظیمي قربانۍ ته چمتو کاوه، ځکه په خپل ښار کي ئې د پرنګي متجاوز لښکر لیده، نو د داسي ننګینو مناظرو د لیدو توان ئې نه درلود، او عزم ئې کړی وو، که چیري په دې لار کي ستر کار تر سره نه سي کړای نو خپل ځان خو به هرومرو فدا کي او د دغسي مناظرو له لیدو به سترګې پټې کي.

دوکتور والف مسیحي روحاني چي په همدې ورځو کي د استانبول له لاري

بخارا ته راغلی وو، د دغه هیوادپال مېړني او فداکار ځوان داستان په پخپله سفرنامه کي چي په ۱۸٤٦م په لندن کي طبع سوې، داسي لیکي:

«له قندهاري افغانانو څخه یوه ځوان په روښا روځ له پرنګي لښکرو څخه د یوه تن ګېډه وڅیرله او مړ ئې کی. دا قاتل ځوان ئې لاس تړلی د پرنګي لښکر قوماندان میجر راولنسن ته راووست، او د تحقیق په جریان کي د پرنګي صاحب منصب او ځوان تر منځ داسي مذاکره وسوه:

مېجر: ولي دي زموږ هغه عسکر مړ کی؟

ځوان: که ئې زما لاس نه وای تړلی، نو مي ته هم وژلې؟

مېجر: ولي؟

ځوان: «په ډېر قهر او متانت جواب ورکی» تاسي کافران څه کوئ چي زموږ کور ته راغلي یاست؟ دغه خاوره زموږ ده او زموږ د پلرو وه، څه ته مو زموږ پر کور او خاوره تجاوز وکئ؟ دورې یو بل افغان چي د دغه مېړني ځوان د نجات له پاره راغلی وو، مېجر راولنسن ته وویل:

صاحب! دا سړی لېونی دئ.

خو ځوان په خپل هغوني[1] متانت او زړورتیا چي ئې درلوده په لوړ آواز په خورا مېړانه داسي وویل:

اې پرنګیه! زه لېونی نه یم، عقل مي پر ځای دئ، په هر څه پوهېږم، تاسي پرنګیانو څه حق درلود، چي زموږ پر وطن او کور مو یرغل وکئ او هغه څه چي زموږ دي، هغه مو تصرف کړه؟

تر دغو خبرو وروسته قندهاری وطن خواه او زړه ور ځوان د مېجر راولنسن

---

[1] هغوني = هغومره.

په حکم اعدام کړه سو او په خورا مېړانه او شهامت ئې له جهانه سترګي پټې کړې.»

له قندهاري سپين ږيرو څخه مي واروېدل:

کله چي پرنګي سپاهيانو دا مېړنی ځوان مقتل ته بېوه، نو ئې په زړه وړونکي اواز افغاني لنډۍ له ځانه سره زمزمه کولې.

خو، وروستی آواز ئې د پرنګي سپاهيانو په ډزو کي خاموش سو او په وينو ککړ وجود ئې په وطنخواهانه تاب و تب پر مځکه غوځار سو، ده به ويل:

لاس مي تړلی مرګ له بيايي

پر قندهار باندي پرنګ ليدای نه سمه

وايي: چي يوه پېغله د دغه مېړني وطنخواه نجل وه، د خلکو په ډله کي مقتل ته نژدې ولاړه وه، په ډېر درد او غم ئې د دې صحنې په ليدلو اوښکي تويولې، خو کله چي ئې نازنين محبوب پر مځکه نسکور سو او په خپلو وينو کي ولمبېدی، نو دې له خپله ځانه سره دا لنډۍ زمزمه کوله:

جانان شهيد تر دنيا تېر سو

دده په نوم به زه تر مرګه ناسته يمه

# هیوادپال شپون

[زېری، د ۱۳۵۵ش کال، ٤۵مه گڼه]

کله چي د هرات تېموریان ضعیف سول او د افغانستان په غرب کي د هرات مرکزیت له منځه ولاړی او په شرق کي د لودي شاهانو اقتدار د دغه دربار د رجالو د کورنیو جنگو له امله لړ سو. نو په افغانستان کي بومي او محلي خلکو خپله آزادي او د خپل ملي کلتور تشخیص د ملي مشرانو تر قیادت لاندي ساته.

د ۹۱۰هـ ق په حدودو کي د اسیا معروف فاتح ظهیرالدین محمد بابر چي د تېمور او چنگېز له نسله وو، پر افغانستان حمله وکړه او کابل ئې ونیوی. بابر غوښتل لومړی پلا ټول افغانستان له بلخ او بدخشانه نیولې تر کابل او ننگرهار او قندهاره پوري سیمي ټولي ونیسي او بیا پر هندوستان حمله وکي.

خو! د افغانستان وطنپالو او آزادي دوستو خلکو هر ځای د دغه تجاوز مخه نیوله او ملي مقاومت ئې ښکاره کاوه او له اباسین څخه تر قندهاره پوري خلکو د خپلي آزادۍ د ساتلو له پاره له ده سره مسلسل جنگونه وکړه. په دغه وخت کي د افغانستان د خلکو د ملي مقاومت داستان خورا اوږد دئ چي تقریباً شل کاله ئې بابر په افغانستان او پښتونستان کي مشغول وساته.

په دې وخت کي لومړنی ملي جنبش د بدخشان د مېړنو خلکو له خوا راپورته سو او دغه غرني مناطق ئې تر ډېره وخته د بابر له حملو او تصرف څخه

وساتل.

د دغه جنبش مشر یو بدخشانی شپون وو، چي هغه ئې په همدې سبب د (زبیر راعي) په نامه یاداوه. دغه هیوادپال شپون د بدخشان په خلکو کي راولاړ سو او ډېر بدخشاني ځوانان ئې سره راټول کړه او د بابر له قواوو سره ئې جنګونه وکړه. زبیر راعي ټول بدخشان ته د بابر له حکامو څخه نجات ورکی او څه موده ئې د هغو غرنیو سیمو د خلکو په منځ کي له ملي عنعناتو سره سم حکومت وکی. څرنګه چي دی بدخشانی وو، نو پر خلکو هم ګران وو او د هغه اوامر ئې د ملي قیام او آزادۍ په ساتلو کي منل.

څرنګه چي د بابر قواوي په بدخشان کي ناکامي سوې او بدخشان د بابر له تصرفه څخه آزاد پاته وو، نو بابر د زبیر د له منځه وړو په تکل کي سو.

بابر په خپلو تربرونو کي یو تربور درلود، چي (جان میرزا) نومېدی او مور ئې د بدخشان له اشرافو څه وه، نو ئې تازه لښکري د جان میرزا په قیادت بدخشان ته واستولې، چي زبیر راعي له هغه ځایه راوباسي، خو زبیر د بدخشان د خلکو په مرسته او معاونت د جان میرزا له لښکرو سره جنګېدی، تر څو چي د جان میرزا د مور خپلوان د هغه د لښکرو مرستي سوه او د بدخشان د ملي لښکرو او د زبیر د مقاومت په صفونو کي فتور ګډ سو او زبیر هم د سیمي په یوه دفاعي جنګ کي ووژل سو.

د زبیر راعي جنګونه له ۹۱٤هـ ق وروسته د بابر او جان میرزا له لښکرو سره سویدي او اوس له هغه وخته څلور قرنه تېر دي، خو د دغه شپون مېړانه او هیوادپالنه د تاریخ او خلکو څخه نه هېرېږي.

# هم شهید هم غازي

[فرهنګ خلق مجله، دوهم کال ۱ – ۲ ګڼه (۱۳۵۷ش)، ۴۰ مخ]

سل کاله تر اوس دمخه (۱۲۵۹ش) کال په دوبي د پښین له سیمي څخه پرنګی لښکر د کوږک پر لوري را رهي وو.

د سرو کرتیو عسکرو نیزې په هوا کي بریښیدې. د آسانو د پښو ګرزونه پورته کېدل. سپاره، پلي توپک پر اوږو روان وه. پنځلس زره تنه د جنرال پریم راس په قیادت د لویو او کوچنیو توپو سره پر مخ تلل چي قندهار ونیسي. د کوټې او پښین خلک او د کوږک اځکزي او بیا د قندهار ګڼ اولس نه وو خبر چي څه پیښه ده.

په کابل کي ناست امیر او درباریانو هر څه چي کول، خلک ئې نه په خبرول. دوی دا ملک او دا خاوره او خلک د ځان ملکیت ګڼل او په مقدراتو کي ئې هسي چي غوښتل، لاسونه وهل.

پرنګیان خو په خپل زور او پوهه او وسلو مغرور قوم وو. دوی په هغه وخت کي ټول هند نیولی وو او د هغه ځای د ساتني له پاره ئې افغانستان ته سترګي سرې کړې وې.

پښتنو خو وسله نه درلوده، پر یوه ځای سره راټول خلک هم نه وه، هر سړی په خپله خوارئ او زیار بوخت وو. د چا په لاس کي یوم وو چي خپل کښت

او پټی وروزي، چا خپلي رمې پوولې او ځیني خلک په ښارو کي په خپله خواری پسې وه. دوی کار کاوه او خپل ملک ئې ساته.

په پښین او اڅکزو او د قندهار د لاري په خلکو کي دا انګروزه ګډه وه چي پرنګی پر قندهار ورځي نو لار خو به ورته نیسو او نه به ئې پرېږدو چي په سمه هلته ورسېږي، دا سیمه خو زموږ ده او ساتنه ئې هم په موږ پوري اړه لري.

پرنګی ورو ورو راتېرېدی. اڅکزو زلمو غزا ورسره کوله او خپلي کډي ئې ګوښه کړي او د رېګ منځ ته استولي وې.

د دوی وسله چاړه، سوټی یا ډانګ وو. چا چا به توره درلوده خو د دښمن د توپکو مردک او د توپو ګولۍ او د سپرو تېرې څانګي به د دوی بدنونه او ټټرونه ور سوري سومبري کول.

غلیم ډېر غښتلی او وسله‌وال وو. دوی په تش لاس ورسره جنګېدل او شهیدان کېدل او یوه زاړه پلار خپل ځوان غازي زوی ته داسي نارې وهلې:

کمکی میر الم جانـه        نن اور دئ
د سپرو درغله پوجونه        نن اور دئ

پرنګی لکه تور ښامار پر کوږک راوخوت او ملا مؤمن د قندهار اولسي شاعر چي دا ناورین ولید، و ئې ویل:

پرنګي پر کوږک راوستل پوجونه
پر بولدک ئې ډېر راواړول توپونه
سره ګوره ولاړ په لاس کې توپکونه
شهیدان ئې کړل د لاري ګوروانونه
اڅکزي سوله په رېګ کي سرګردانه

د کندهار خلک چي د استعمار د غونډي توري بلا سره مخامخ سوي وه او دا ئې هم اورېدلي وه چي امير ئې کابل پرې ايښی او د مزار پر خوا تښتېدلی دئ. د اسلام او وطن پر سيله ودرېدل او ډلي ډلي غازيان د پرنګي مخي ته راووتل چي له غليم سره خبره پر ميدان سپينه کي.

کندهار ولاړ پر ننګه د اسلام وو
پرنګي په باټو بيا تړلی لام وو
سپين سهار ئې په توپونو کي ماښام وو
د غازيانو پر ټولو ئې دروم و درام وو
دوی ول راسه چې مالوم کو پر ميدانه

د کابل نوي امير يعقوب خان خو قندهار کي يو خان غوندي بل سردار چي شېرعلي خان نومېدی، د والي په توګه ټاکلی وو. نو دا شېر علي خان هم په بېره او بې غيرتی تر تښتېدلي امير شېر علي خان په کمه نه وو خو لومړی له پرنګي څخه وتښتېدی او مملکت ئې په اور کي واچاوه. دا دوهم د پرنګي ملګری سو او د کارنل سينت جان څنګ ته ودرېدی چي د پرنګي د عسکری مشر جنرال ستيوارت، ملکي مرستيال او سياسي افسر وو او کندهاريانو سيمجن باله:

شېر علي مختور پر خوا د پرنګي سو
د سيمجن څنګ ته ولاړ په بې ننګي سو
د غازيانو له ټولی سره جنګي سو
سوبتی[1] د شرابي سيمجن بنګي سو
ملا ئې ماته د اسلام کړله ناځوانه

---

[1] صحبتي.

سردار خو نو وطن خرڅ کی، امیر ځان وکیښ او شېر علي ناځوانه د اسلام ملا ماته کړه نو دا بې وسه او خواري‌کښ او تش‌لاسی بې وسلې قوم وو چي چا توره را واخیسته، چا سوټی او لور، د جنګ ډګر ته راووتل او د استعمار د توري بلا سره ئې خپړي ولګولې. د انګرېز او افغان دوهمي جګړې حماسه ئې هم شروع او هم ختمه کړه، د دوی ښځي هم میدان ته راووتې او داسي به ئې ویل:

وخت چي راغی د پښتون د نام و ننګ
پښتنه وم ځان مي مړ کی په پرنګ
چي غیرت لري، پښتون وي، څنګه کاندي
د انګرېز کافر غدار له جنګه څنګ

.......

میرامد (میراحمد) د کندهار د ښار د یحیی خان د کوڅې پنځه ویشت کلن زلمی وو. ده په ارغنداو کي نوی واده کړی او سهار له ښاره ګردنو[۱] ته د کلي پر خوا روان وو. آس ئې زین کی، پر سپور سو، نیلی ئې پونده کی، تی چي خپله ناوې ماینه ووینی او د عشق او میني مزي ورسره ونښلوي:

لوی سهار وو میرامد غازي روان سو
آس ئې زین، روان پر لوري د جانان سو
فکر و ذکر ئې د خپلي محبوبا وو
ارغنداو ته تی په ځغاسته په خندا وو
ځوان وو ګل غوندي په ورین تندي روانه

[۱] ګردني: کله چي د هلک و نجلی نکاح وتړله سي او تر واده دمخه هلک د نجلی کره د خسر په اجازه او موافقه شپه تېروي دغه دود ته په کندهار کي ګردني وایي. په ځینو سیمو کي ئې چنغلبازي بولي.

د محبوبا د کلي لار د پرنګي په چوڼۍ کې تېرېده. دلته د پرنګیانو لښکرو کوایت[۱] کاوه. میرامد چې دغه د پردو غلیمانو سپاره او پلي په خپل کور او وطن کې ولیدل، پر سترګو ئې توره شپه سوه. دلته دده په زړه کې د دوو مینو سره جنګ سو. یوه مینه خو د نوي پیغلي محبوبا وه، دوهمه مینه د غزا او د وطن.

نیلی خو په چټکه د محبوبا د کلي پر لور روان وو خو د میرامد زړه دلته په یوه بله اندېښنه هم کښانده سو چي هغه غازي یا شهید کېدل وه:

میرامد غازي تر ښار ووت دباندي
کې کتله انګرېز پروت پر چوڼۍ باندي
سور لښکر د پرنګي ولاړ په وړاندي
اورېدلې ئې د خپلو خوندو ساندي
توره کش که میرامده، جنګي ځوانه

میرامد د خپلو ساندي واورېدې چي د وطن پر بد حال ئې ژړل او دی ئې د توري راکښلو ته راباله. هلته ئې ولیدل چي محبوبا په کور کي ده ته ګوري، توري څڼي ئې پر سپین تندي الویزاندي ښکاري، د میرامد و راتلو ته منتظره ده، د عشق په اور کي سوځي.

د پښتانه زلمي چي د خوندو نارې او کوکاري په غوږ سوې، محبوبا ئې هېره سوه، د غزا مینه ور ولاړه سوه:

میرامد ول را رسېږه لویه پیره
له ما پاته محبوبا د میرو میره
په جنت کي به دیدن سره کوونه

---

[۱] قواعد او عسکري تمرینات.

اوس به ځم چي پرنګی و ځځېرونه
راکه لاس چي غازي سمه، لويه ځوانه

میرامد له ځانه سره دا خبره پرېکړه چي اوس دستي خو زما د غزا وخت دئ، که شهید سم بیا به په جنت کي د محبوبا دیدنونه کوم. توره ئې کش کړه، د پرنګي په لښکرو ګډ سو:

تورې کش کړه میرامد سپور پر نیلی وو
تېره تېغ ئې یو افت پر تور لېنګي وو
په چونۍ ورګډ په شاني د زمري وو
مردار کړي ډېر سوجر[1] د پرنګي وو
میرامد وو غازي ځوان تېر وو له ځانه

میرامد نیلی پونده کاوه او توره ئې وهله. ډېر سرونه ئې کنډو کړل، پر ډېرو ئې میندي بوري کړې. څو چي سرو ګوره ګانو په توپکو پر ده ګولۍ وچلولې:

د دښمن په وینو تک سور ئې میدان کی
پر ګوره[2] ئې تیغ روانه ناګهان کی
مور پر بوره سوه په ځان پورې اریان کی
سور ګوره ئې دده مخ ته را روان کی
ډېر ئې مړه کړه په تېره توره روښانه

تر میرامد دمخه د ده نیلی وویشته سو او پر میدان پرېووت:

د غازي نیلي تر پښو لاندي ګوره کړل

---

[1] له انګرېزي «سولجر» څخه د سپاهي په معنا.
[2] د انګرېزانو خپل فوج.

په لغتو ئې وهل، گرده ئې مړه کړل
پرنگیانو په توپک پر ده امله[1] کړه
په شیشني نیلی گونډه په وینو سره کړه
بیا شهید سو نیلی آس پروت پر میدانه

نیلی د میرامد د ځوانۍ ملگری وو او ډېر پر گران وو چي هلته ئې په وینو لژند مړ ولیدی، ډېر خوابدی سو او داسي ئې وویل:

میرامد ول زما نیلیه، ته غازي سوې
په جنت کي هم زما په ملگري سوې
ارمان مه کوه، زه هم درپسې یمه
څو مي توره کار کوي، سر بې رېبمه
ځه جنت ته زما زړگیه نیلی جانه

د میرامد پخه عقیده دا وه، که یو حیوان هم په غزا کي مړ سي نو هغه لکه شهید جنت ته ځي او د غازیانو ملگری به وي.

اوس چي دا توریالی ځوان د نیلی له شا څخه راجلا سو نو دی او خپله تېره توره سره پاته سوه او تر هغه دمه ئې توره وهله چي ستړی ستومانه سو:

سرو سوجرو پر ده باندي راځغستله
د توپکو ئې مردک په را ویشتله
ده به لوی پیر ننگاوه، تورې وهله
خدای په خپل سپر کي دده بشر ساتله
څو چي ستړی سو، هم تبری هم ستومانه

---

[1] حمله.

د میرامد حماسه په سرښندنه او په وینو سره څېره ختمه سوه. دی خو ښکلی ځوان وو. د شهادت سرو وینو ئې هم ښکلا ور زیاته کړه او دا د یوه پښتانه زلمي له پاره لویه ویاړنه ده خو کله چي دده ناوې محبوبا راغله او دده د ځوانۍ برېت ئې په وینو رنګین ولید، د ناوي توري سترګي هم په سرو اوښکو رنګیني سوې او د شهید ښکلا ئې ور دوه ګرایه کړه.

میرامد ولوېد شهید، تندی ئې ورین دئ
خو جوړ کړی ئې پر کفر غښ ناورین دئ
د ځوانۍ برېت ئې په سرو وینو رنګین دئ
ناوې ژاړي په سرو اوښکو، زړه ئې خوړین دئ
راسئ ګورئ میرامد مړ په مړانه

پښتنې ښځي د شهیدو زامنو پر مرګ نه ژاړي، په جګه غاړه خوښي کوي چي «زما زوی شین زمری غوندي شهید دئ او شهید خو مرګ نه لري.»

مور وایي:

میرامد ځوانه نامراده
په مړانه ستا خو زما زړګی سو ښاده
ستا د ناوي سرلوړي خو هم په تا ده
دا خبره خو چا کړې په رښتیا ده
مرګ خو نه لري شهید پر دې جهانه

دا خو د میرامد شهید او غازي د مور ویاړنه وه چي د زوی په مېړانه ئې د خپل زړګي خوښي څرګندوله خو دده ناوې هم راغله. په سرو اوښکو ئې دده تندی مچ کی او داسي تعهد ئې ورسره وکی:

ناوې راغله د شهيد مخ ئې ور لڅ کی
په سرو اوښکو ئې تندی د شهيد مچ کی
زه به ناسته ستا په نوم يم ميرامده
د «غازي مانيه» زما نوم دئ ميرامده
څو چي وينم تا جنت کي غازي ځوانه

دې پښتنې ناوې داسې ژمنه وکړه او څو ژوندۍ وه، خلکو به د غازي مانيه بلله او دا په دې اميد ناسته وه چي کله به په جنت کي د خپل ځواني مرګ شهيد مېړه سره ووينې.

دلته د غازي او شهيد ځوان حماسه ختمېږي خو د ناوې محبوبا وياړ هم پکښې نغښتی دئ او دا د انګرېز او افغان د دوهم جنګ يوه د وياړه ډکه ننداره ده چي تاريخ ئې نه هېروي.

سردار شېر علي خان خو پرنګيانو ته ويلي وه چي «زه د کندهار سردارزاده يم او ګرده خلک زما په خوله کوي، تاسي هم ما د دې ښار والي وګڼئ نو به خلک تاسي هم ومني او د غليم په سترګو به نه درته ګوري!»

د پرنګي جنرال سياسي مرستيال سيمجن هم د شېر علي خان دغه باته منلې او دی ئې د خپل نوکر په توګه د خلکو بادار کړی وو چي د ميرامد دغه قصه په چوڼۍ کي په سپينه ورځ پېښه سوه او څو تنه ګوره سپاهيان هم ووژل سوه نو:

سيمجن ناري کړه چي دا ځوانمرګ د چا دئ؟
په لمسون د چا راغلی په غزا دئ؟
شېرعلي تا خو ويل چي کار صفا دئ

د دې ښار سردار خو زه يم راج ئې زما دئ؟
خدای دې خوار که درواغجن شېر علي خانه

شېر علي خو د پرنگيانو تر څنگ ولاړ وو، د دوی خدمت ئې په تور مخ کاوه. غازيان به ئې ځپل خو خلک چې يوه پلا په خپل ملي غورځنگ کښېوتل او خپل غليم ئې وپېژاند نو ئې بيا کوټنه او ايمنونه خورا گرانه وي.

خلکو په ميوند کې پرنگي ته داسي گوزار ورکی چې نه شېرعلي وو، نه سيمجن. پرنگی او شېر علي دواړه په تور مخ له افغانستانه ووتل. اوس څوک نه شېرعلي پېژني او نه د پرنگي زور او زياتی پاته دئ خو د ميرامد خان نوم او حماسه د خلکو په ياد ده. کور او کلی دده په نامه نازيږي او د ملا مؤمن دغه بدله داسي ختميږي:

د گوره په غزا ولاړ زړه ئې په يخ کی
دوو جهانو ته ئې سپين د قوم[1] مخ کی
کور و کلي هم پر ده باندي سخ سخ کی
چي نيلی ئې هم و ده ته نږدې ښخ کی
خدای دي وکي چي ئې گور وي روڼ روښانه
هم شهيد سوې هم غازي ميرامد جانه!
د مېړاني بړغ دي ولاړ تر هندوستانه

د کابل جمال مينه
۱۳۵۷/۵/۱۲

[1] قوم بايد دوه سېلابه ولوستل سي.

# یادداشت